ناول: د تیارو مزل

لیکوال: ډاکټر عبدالهادی حماس

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره. https://t.me/pashtoonovels0



پښتو ناولونه

خواجه زي خپروندويه اداره

HTTPS://T.ME/PASHTOONOVELS0

@shuhab09

"بِسمِ أَآألَلَهِ أَآألَرحمَنْ أَآألَرحِيم"

خپل شخصي روغتون ته پر لاره وم چې ټلیفون مې وشرنګېده زما د کتنځي د دروازې ساتونکی وو، وې ویل: ډاکټر صیب که ستونزه نه وي یو کس درسره بېړنۍ کار لري، ډېر نا قراره ده، کله کیني او کله بیا په دهلېز کې قدم وهي، دقیقه په دقیقه ساعت ته ګوري، دلته درته بي صبرانه انتظار کوي هیله ده لږ ژر راشی نور ناروغان هم درته په تمه دي، د بېړني کار په اورېدو سره ما هم پر اکسلیټر پښه ټینګه کړه ځکه کله، کله ځینې داسې ناروغان وي چې په ثانیو وروسته والی یې هم د ژوند په بیه پرېوځي او بیا هغه وخت راورسېده چې د ناروغانو مخته کېناستم....

د سپینې چپنې یو لستوني ته مې لاس د ننه کړ بل پاتې و چې یو ښکلی ځوان مې مخې ته ودرېده له ایفون څخه یې سپینې ګوتې چې پر شاه یې ویښتان هم لرل تاؤ وې، پر کیڼ لاس یې د سرو ښکلې وزن لرونکې ګوتمۍ چې په منځ کې یې د الماسو غمې ځلېده په لاس وه، سپین کاټن کالي یې پر تن و، ښکلې مهربانه نوراني څهره یې درلوده خدایي یې ګڼ باڼه له متوسطو سترګو تاو و، راته یې کړه زه ایمل نومېږم او یو تجار یم، په ډېر منت درڅخه یو څه غوارم، هیله ده رد یې نه کړې

ـ مهرباني

ـ که زما یوه غوښتنه ومنې ؟

ـ د څه غوښتنه وروره ؟

- د یوه مهم کار لپاره ده

ـ د څه مهم کار ویلی شي ؟
ـ هو ! له ماسره یو ځای ته لاړ شه ؟
ـ خو زه وخت نلرم چې له کلینیک بل ځای لاړ شم زه د خپل کتنځي په ناروغانو پسې هم نه رسېږم.
ـ ډاکټر صیب هیله کوم زما خبره په ډاګ مه اچوی !

ـ پر سر سترګو خو دا ناروغان به خلاص کړم

ـ ډاکټر صیب زما کار بېړنۍ دی !

ـ خو دا ناروغان بیا پاتې کېږي او له لرې ځایو راغلي دي....

ـ پوهیږم له دوی به اجازه واخلو ځکه د یو چا د ژوند خبره ده !

له دې خبرې سره د ناروغانو ځوګ را پورته شو یوه سپین ږیري په کونټۍ تکیه وکړه له خپل ځایه جګ شو، وې ویل: ولی موږ ناروغان نه درته برېشو !!!

ایمل ځواب ورکړ، زما ناروغ په یوه ناسم وضعیت کې دی، د مرګ او ژوند په برید کې دی اخېر مسلماني چېرې کړې ده، که ستاسې د کور ناروغ د مرګ له خطر سره مخ وي ډاکټر ته مو اړتیا وي او بیا یې څوک نه درسره پرېږدي ، په تاسی به څه

تېرېږي؟

سپین رېږی چپ شو، بیا یې په لکړه زور وکړ، پر خپل ځای کیناست، ایمل ماته مخ راوارېو، وې ویل ډاکټر صیب بیبرې وکړه....

ـ خو دا پنډ ناروغان ؟

ـ د دوی فیسونه هم زه در کوم، پنځه زره کېږي لس زره کیږی پروا نه کوي ....

ـ زما مطلب د پیسو نه و د دوی روغتیا ته رسیدگی وه

ـ د دوی چارو ته ډېر ډاکټران بازار کې ناست دي چې رسیدگي ورته وکړي لاکن زه تا داسې ناروغې ته بیایم چې له خدای ج څخه پرته بل څوک نلري هېڅوک ورته رسیدگي لپاره چمتو ندي ؟

دا نو څه ډول ناروغ دی چې په اړه یې دومره اندېښمن یې ؟

ـ ډاکتر صیب په رښتیا هم د اندېښنې خبره ده

ـ اخير خوک شناخته مو ناروغ دی ؟

ـ هو، شناخته دی یو داسې څوک دی چې له پرونه راهیسې یې پیژنم، د خپلوی کومه رشته ور سره نلرم، یوازې د انسانیت او مسلماني مسولیت ادا کوم.

ـ خو که لږ وروسته شي بیا ؟

ـ نه ډاکټر صیب که ژر یې ستونزې ته لاس رسی ونشي ممکن هغه بېچاره مړه شي او خپل ژوند وبایلي وخت خورا کم دی.

ـ ستونزه یې څه ده ؟

ـ نه پوهیږم، هغه سمې خبرې نشي کولای

ـ کوم بل ډاکټر ته دې نده ور وستلی ؟

ـ یو نه دوه مې وروستل خو چې ورنږدې شي راوتښتي

ـ دا څه ډول ناروغ دی ؟ روحي ستونزه لري ویشتل کوي ؟

ـ نه

ـ نو څه ستونزه لري

ـ بس یوه معما ده چې موږ یې هم پر مانا نه پوهېږو،

ـ عجیبه ده ؟

ـ ډاکټر صیب که موږ په دومره سوالونو وخت ضایع کړو ممکن ناروغه تلف شي، له نورو پوښتنو تېرېږو.

ـ سمه ده سپینه چین مې وباسله او لاندې د ایمل ښکلی کروزین ولاړ و، ښېښو باندې یې د لمر شغلو پلوشې کولې ایمل خورا نرم او له تکبر خالي انسان و دروازه یې راته خلاصه کړه مخکې سیټ ته دننه شوم، هغه موټر کې کیلي تاو کړه ایرکانډیشن یې چلان کړ، بېرته یې خپله دروازه خلاصه کړه.

ورته مې کره څه کوی؟

ایمل وویل ډاکټر صیب زه یو ماسک او دوه دستکش درته را اخلم چې د ناروغ په کتنه کې درته اسانی وي .

ـ ولي ټپونه لري؟

ـ نه، کتنه یې دومره اسانه نده

ـ ولي مي داروئ حمله کوي

ـ نه، هغه بیچاره له ځایه د جګېدو نه دی، اندیښنه مه کوه د ناروغ په کتو به په هر څه پوه شي !

کروزین حرکت وکړ له لنډ مزل وروسته د ایمل کور ته نېږدې شو څو منزله پوخ کور له لرې ښکارېده، سر یې په سور اهن چادر ښکلی شوی وو، د تعمېر دیوالونه ګر چاپیره پر رنګه جوړو شویو تېږو پوښل شوي وو، لویه کلا ترې را تاو وه، د کلا په منځ کې یو لوی د مېوو باغ شتون درلوده د مېوو د ونو څوکې د کلا د دېووالونو له سرو ښکارېدې خو کله چې د کور تر دروازې ورسېدو د هغه موټر لا هم په حرکت کې وو. د هغه موټر د کور دروازې ته و نه درېده او کور سره تېښتې یوې بلې چاردیوالي

په لور رهي شوو ما ورته کړه ایمل خانه چېرې ځو؟

ناروغ چېرې دی؟

هغه مسکی شو بیا یې وویل:

ډاکټر صیب مه ډاریږه، تښتوم دې نه، د ناروغ ځای ته نږدې شوي یو خو ناروغ زموږ په کور کې ندی.

ـ نو چېرې دی ؟

ـ موږ یو ځای د خپل مال ( حیواناتو ) لپاره جوړ کړی دی د شپدو غواګانې پکې ساتو، هلته په یوه جوړه شوې خونه کې دی.

ـ حیرانونکې ده، د یوه ناروغ لپاره دومره په اندېښنه کې هم یې خو بیا دې د حیواناتو په ځای کې اچولی او د انسانانو اوسېدل د حیواناتو سره دا یوه بې انصافي نده ؟

بالکل بي انصافي ده، بلکې ظلم دی خو د ناروغ غوښتنه هم دا وه !

هغې ویل :

چې په دې شرط مې کور ته بیولی شې چې ما به له ټولو انسانانو او د کورنۍ له غړو لرې ساتې

ـ توبه خدایه حیرانونکې ده ؟

ناروغ چې له انسانانو ځان لرې ساتل غواړي نو زما په ورتګ دې ورسره دا ژمنه نه ماتیږي ؟

او که موږ انسانان نه درته برېښو چې ور ولی مو ؟

ایمل و خندل او موسکی شو ښکلي غاښونه یی پر طبیعی موزونو شونډو ښکاره شول وې ویل نه خدای ج دې نه کړي، تاسې د لوړې کچې ښو انسانانو په ډله کې راځی، ځکه ستاسی پر لاس خدای ج د ورځې څو کسانو ته روغتیا وروبښي خو هغه نه غواړي له انسانانو سره واوسي، هغه غواړي ګوښه واوسي څوک پرې غرض ونه کړي، څوک ورسره کار ونه لري، خدای زده، ددې نرۍ له خلکو یې یوه لویه کرکه په زړه کې پرته ده ؟

ـ حیرانونکې ده، داسې کوم لامل لري چې له انسانانو لرې اوسېدل غواړي ؟

ـ په لامل یې نه پوهېږم !

ځکه څو، څو ځله مې دا پوښتنه ترې کړې خو پر ځوابولو یې نه یم بریالی شوی هغه اوس په داسې وضعیت کې ده چې ډېرې خبرې نشي کولای او یوازې له ژوند مرگ ته ترجیح ورکوي، له ما یې کلکه ژمنه اخیستې ده چې درملنه به مې هم نه کوې هغه نه غواړي اوږد عمر ولري.

بس یو ارمان لري وای چې څو ورځې پاتې ژوند مې همدلته (په هېواد کې ) پای ومومي او د خپلو هېوادوالو په هدیره کې خښه شي.

فکر کوم له کوم بل هېواده راغلې ده او خپلې خاورې ته راتلل یې لویه هیله وه

ـ اوس دې ور سره، د نه درملنې شوې ژمنه نه ماتېږي؟

ـ په رښتیا زما لخوا ورسره شوې ژمنه ماتېږي، خو زه څرنگه هغه په ناروغي کې پرېږدم او په غرېدلو سترگو وگورم چې یوه ځوانه جانه انجلۍ دې مړه شي ماته

اوس هغه داسې مهمه شوې لکه د خپل کور غړې داسې راته ښکاري چې هر درد یې لکه زما د وجود درد، لکه زما د کورنۍ په کوم کس چې تېرېږي، زه اوس له یوه لوی ازمایښته تېریږم، خدای ج مې نندارہ کوي چې دغه ناروغ مې تاته در وسپاره اوس ته څه کوي ؟

ـ هغه درته گرانه ده ؟

ـ هو بي حده زیاته راته گرانه شوې ده

ـ لامل یې پوښتلی شم ؟

ـ هو هیڅ پیښه بې لامله نه وي او هېڅ اړیکه بې بنسټه نه جوړېږي دغه انجلۍ یو داسې کس ته ښېخي ورته ده هغه د چا خبره فوټوکاپي یې ده چې زه پرې مئین وم او هغه مې له لاسه ورکړه خدای ج مو تقدیر بیل لیکلی وو، تر ننه یې په بېلتون کې کړېږم ...

ـ دا دې له کومه کړه ؟

ـ دغه انجلۍ مې سړک سره نږدې یوې کنډوالې کې پیدا کړه خورا په بد حالت کې وه، سړک ته په کونوړې را ښوېده، چې ومې لیده ما فکر وکړ هغه انجلۍ یانې زما

مېنه ده او هغه دې حالت ته رسېدلې ده خو وروسته پوه شوم چې هغه نه، دا يو بل څوک ده .....

هغه انجلۍ ياني زما مېنه ده او هغه دې حالت ته رسېدلې ده خو وروسته پوه شوم چې هغه نه، دا يو بل څوک ده ......

ـ چې جوړه شي واده ورسره کوې ؟

ـ که خدای ج جوړه کړه او هغه يې وغواړي په داسې مراسمو به واده ورسره وکړم چې خلک به ورته گوته په غاښ وي او که په درملنه يې زما ټوله سرمايه هم مصرف کېږي پروايی نلرم، خو اوس په دوه کې حيران يم له ما څخه يې ژمنه اخيستې چې درملنه به مې نه کوې او لومړۍ ځل دی چې په خپله ژوند کې يوه ژمنه ماتوم دا مهال زه د پاڼ او پرانگ تر منځ يم بس دېته مې ترجيح ورکړه چې زه دې هم په ژمنه کې پاتې راشم خو چې د يوه انسان ژوند وژغورم ما د پرون راهيسی هيڅ خوب ندی کړی خپل کار او بار هم رانه پاتې دی ټول حواس مې د ناروغ په طرف دي.

د ناروغ عمر څومره دی؟

خوانه انجلۍ دی، چې وې گوری خپله درته مالومات کېږي.

دوهمې کلا ته ننه وتو، دغه ځای هم خورا لوی وو، د کلا د یوه لوی دیوال په اوږدو کې اخرونه د (حیواناتو خوراک ځایونه) جوړ شوي وو او غټې، غټې برګې زراعتي غواوي ورته ولاړې وې د هرې غوا تر شاتنۍ پښو لاندې لویی، لویی غولانځی څوړند وی، دهقان ورته په واښو او تازه درشتې جوړولو لګیا وو، له دوی تېر شو او د کونج خونې ته ورسیدو، دروازه مو خلاصه کړه دهلېز ته په ننوتو سره مو له کوټې څخه د یوې ښکلي طلایي حنجري زګیروی واورېده یو بل بېول پرله پسې زګېروي، هغه چې لکه غشې پر زړونو ننه وت، څو ساندې مې واورېدې، خدایه زما تنهایي زما بي کوري، زما دردونه، زما ناروغۍ، زما سره شوی ظلم، دا ټول ستاد جنایت کاره بندګانو له لاسه دي، زه اوس ډیره په تکلیف یم، له دې دردونو سره ژوند نشم کولی اوس مرګ راکړه چې راحته شم او له دې ظالمې نړۍ وکوچیږم، پر ببره کوټې ته ننه وتم، له ننه و تو سره مې یو سخت بد بوی حس کړ، هغې چې زموږ کرپ و اورېده، خپلې ساندې یې ودرولې، پوه شوم خپل درد له نورو پټوي، د بد بوی حس کولو سره مې خوا را هسکه شو، زړه کې مې وویل، ایمل خو ملامت نه و چې ماسک او دستکشې یې راته چمتو کړې، ژر مې ماسک واچاؤ، دستکشی مې هم په لاسو کړې وډار شوم چې ناروغ د کومې خطرناکې ناروغۍ ښکار نه وي.

د خونې په یوه کونج کې مې د یوه اوږده قد لړونکي انجلۍ چې پر کمپله کې پټه وه، سترګې ولګېدې، له کمبلی یې غږ را پورته شه .....

څوک یاست ؟

دلته څه کوی؟

له ما لرې شئ !

زه نه غوارم چې زما له امله څوک په مصیبت کې ولوېږي !

زه نه غوارم، زما له خوا چاته زيان واوړي.

ـ خورجانې زه ډاکټر يم ستا درملنې ته راغلی يم

ـ چا درته زما د درملنې وويل ايمل ؟

ـ ايمل ته مې وکتل هغه په خوله راته ګوته کېښوده چې زما په اړه ورته څه مه وايه.

ـ نه هغه ندي راته ويلي !

ته دروغ وايې، دلته هر څوک ژمنې ماتوي، هر څوک په خپل غم کې دي، شايد دلته زما له پاتې کېدو پښېمانه شوی وي، هغه ته ووايه که له ما په تنګ يې نوره در نه ځم، که يوه ګوله ډوډۍ د څو ورځو لپاره نشې راکولی نو دغه ځای دې هم پرېږدم د سړک پر غاړه اوسم پرېږده چې د سړک پر غاړه مې ساه وخېږي او بيا به څو کسه مسلمانان خدای ج پيدا کړي چې ما د خپلو هېوادوالو په هديره کې خښه کړي او زما

دغه ارمان پوره کړي .

ایمل ته ووایه زه ستا بوډۍ هم نوره نه خورم خو ژمنه دې مه ماتوه، زه هسې هم دومره وخت نلرم چې و پایم، ورته مې کړه زه د موسیسې لخوا راغلی ډاکټر یم ایمل په دې کې هیڅ د خیل ندی زموږ موسیسه غواړي هغو خلکو درملنه وکړي چې څوک نلري.

ـ خو زه نه غواړم د ځان درملنه وکړم.

ـ ولي ؟

ـ ځکه چې د ژوند کولو لپاره کومه پلمه نلرم، ډاکټر صیب ژوند خو په ارزښتونو کېږي او زه هغه ارزښتونه چې د ژوند لپاره مهم دي نلرم هغه رانه ظالمانو واخیستل .....

اوس په داسې حال کې یم چې نه کور لرم او نه د سر سیوری !

ـ گوری تاسی لږ له کمپلی سر راپورته کړی !

ـ ډېر لېواله یې چې ما ووینې کنه، ماته اوس هغه ښکلا نده راپاتې چې خدای ج را پیرزو کړې وه، زه اوس له کتو وتلې یم، راپورې وبه خاندې چې ومې گورې، هغې له سر لاندې کمپلې ته خپل نرۍ او له غوښې خالي لاس وروا‌چاؤ کمپله یی په سختي له سره لرې کړه، خو ایمل د هغې له مخ ښکاره کېدو مخکې ځای خالی کړ بهر ووت، هغې ته مې وکتل گرگوتي ( خدایي ټوني شوي) وېښتان یې پر مخ پراته وو، له سپین مخ څخه یې ورو، ورو پر ډنگرو لاسونو او قلمي گوتو یوې او بلې خواته ووهل غټې سترگې یې رڼا و برېښولې سره ویې ځمبولې، بیا یې یوې او بلې خواته وکتل، څو شېبې په سوچ کې وه، بیا یې په موږ کې بڼه ورې سترگې په داسې حال کې خښې کړې چې په یوه قهرجن او له ټولې نړۍ څخه مایوسه انداز یی څهره ځلېدله، پټري نېولي سوربخونې شونډې یې په حرکت راوستې په خبرو یې پیل وکړ.

وی ویل تاسی ډاکټران یاست تاسی د نجات فرښتی یاست ما پرېږدی، زه دومره ناروغه نه یمه او نه زه دومره مهمه یمه زما د ژوند پاڼې هسې هم زېږې شوې دي ما سره غرض مه لرئ، فاحشه خانو ته لاړ شئ، اول یې په حکومت بندې کړئ، که چا نه در سره منله، هلته ناروغان تداوي کړئ، مخکې له دې چې د هغو ناولیو ځایو ناروغۍ طوفان جوړ کړي او خپرې شي مخه یې ونیسئ، کنې نړۍ به په بل مخ واړوي نړۍ د یوه وژونکې وبا څخه وژغوری، فاحشه خانې یوازې د فاحشو ځای ندی، ډیر د تسبو والا، ډیر ملکان، ډیر د خانانو اولادونه هلته حاضرۍ ورکوي، ډېر نامداره خلک هم کله، کله هلته د خوش گذرانۍ لپاره سر ورښکاره کوي، که د هغه پلیت ځای مېرمنې خوله پرانیزي ډېر نامي خلک به رسوا شي ډېر د شان او شوکت واله به ځمکې ته په کتو مجبور کړل شي .......

ـ ستا درملنه د هغه ځای له خبرو سره څه اړیکه لري انجلۍ ؟

ـ لرې يې يوه لويه اړيکه لري، دومره ټينګه اړيکه لري لکه د مور او اولاد اړيکه، خو ما مه ژغوروئ نرۍ وژغورئ او دغه د افتونو سرچينې ختمې کړئ، هغې د لماستي حالت نه هڅه وکړه چې راکښني او ديوال ته بډه ووهي په ډېرې سختی يې شاته بالښت ته بډه ووهله له څنګ سره يې يو پنډ تاو شوی کاغذ پروت وو ما لاس و روغځاو فکر مې وکړ چی شايد کوم معاينات به يې کړي وي، له تاو شويو کاغذو مې د ربړ توله خلاصه کړه ورته مې کړه، دا دي نسخې دي ؟

نرۍ اورمېږ يې تاو کړ په بڼه ورو سترګو يې لومړی کاغذ بيا ماته وکتل، وې ويل مه يې خلاصوه، زما دردونه نور مه زياتوه ددې کاغذ ليدل مې نرۍ ته دومره په قهر کوي چې په بل مخ مې اړولې وای.

ـ ولې ؟

ـ بس هسې ..!

انجلۍ لنډ ځواب راکړ، د کاغذ په مطلب يې پوه نه کړم، ځکه زه هم د پنډ کاغذ لېدو ته بې صبره شوم فکر مې کړ چې ددې دننه به داسې څه نغښتي وي چې مېرمن يې نرۍ ته په قهر کړې ده، بيا مې وويل شايد په دغو کاغذو کې به هاغه راز پيدا کړم چې ددې مېرمنې ژوند ور سره تړلی دی، په بېړه مې کاغذ خلاص کړ، نسخه نه وه بلکې يو ښکلی انځور وو، A4 سايز کې چاپ شوی وو، د انځور په لېدو مې لومړی فکر وکړ د هندي سينما شکلي اداکاره ما مولاني ده، ډک غوښين مخ غټې، غټې تورې سترګې ځلاداره د مخ کاسه او نرۍ ګلابي رنګ ته ورته شونډې، تاو شوي ښکته پر

اوږو پراته طلایی وېښتان د انځور منځپانګه وه، سوال راسره پیدا شو چې دا انځور له دغه بیچاره ناروغ سره څه کوي، خو وروسته مې د انځور او د ناروغ د څهرې ترمنځ یو څه کم ورته والی احساس کړ، په زړه کې مې راتېر شول له ناروغ به وپوښتم انځور ستا دی ؟

بیا مې وویل ممکن ناروغ ته په دې پوښتنه ډېر کم راشم او په ځواب کې شاید راته ووايي پر ما څرنګه ددې ښکلا ملکی ګمان کوي، زه او دا خو د ځمکې او اسمان توپیر لرو.

خو بیا مې هم د ناروغ د روحیاتو د راپورته کولو په خاطر توکرنده پوښتنه وکړه ورته مې کره:

انځور ستا دی ؟ ما دا پوښتنه ځکه وکړه ترڅو ناروغ لږ ځان ته تمه پیدا کړي چې زه هم یو څوک یم، لنډ ځواب مې تر لاسه کړ .

ـ هو !

له دې ځواب په تر لاسه کولو سره مې ټکان وخوړ، ځان سره مې وویل دا څرنګه کېدای شي؟

دغه وروسته پاتې مېرمن دا په بد حالت او خیرنه څهره انجلۍ او د انځور دومره ښکلی څهره ځرنگه و منم، بیخي د حیرانۍ خواته لاړم ځان سره په فکر کې شوم دا څه روان دي؟

که دا انځور په رښتیا د دغې انجلۍ وي نو دغه لویه هستي ولې داسې شوې ده؟ او د بد مرغي تر دې برید را رسېدلې ده.؟

بیخي شکي شوم، گمان مي وکړ چې د ناروغ روحي حالات نورمال نده، روحي صدمه يې موندلې ده او د اصلي ناروغي ترڅنگ يې دماغي ستونزه هم پيدا کړې ده، ممکن د روحي توازون خرابوالي له امله، اپلتي وايي، ځکه چې يوه له غره بله له سمې وايي، انځور ممکن ددې نه وي، نو خبره مې نوره ورسره و نه غځوله ومې ويل چې بايد نور وخت ضايع نه کړو او د هغې درملنه پيل کړو، ورته مې کړه اجازه راکړه چې زه دې معاينه کړم او يو څه درمل در کړم.!

ـ که له ماسره ښه کوئ ما په کراره پرېږدئ، زه نور ژوند نه غواړم ما له انسانانو کرکه پیدا کړې ده هر انسان چې وینم دومره زور راکوي چې له وژلو راته سخته تمامېږي، زما د اوسنی حال او بدمرغۍ سرچینه د ادم اولاد دی، ډېره نا راحته یم ډېره ستړې شوي یم.

ورته مې کړه روغتیا د خدای ج له لوري د انسان لپاره ستره ډالۍ ده، که یو څوک ناروغ شي او درملنه نه کوي د ځان د روغتیا خیال نه ساتي نو حتمي ده چې په ورځ د حساب او کتاب به الله ج ددې بې غوري پوښتنه ترې کوي، څو نورې گوډې او

ماتي مسلې مې هم چې زده وې ورته وکړي، لنډه دا چې په ډېرې سختۍ مې دې ته چمتو کړه چې د خپلو دردونو او ناروغۍ په اړه یې په خبرو راولم، هغې وویل بېحده زیاته بې اشتها یم، له لمنې لاندې مې سپینې اوبه راځي، ځوک ورته سپینه جامه وایي خورا بدبویه دی، د تشو بولو لاره کې زخمونه لرم، بې حده بې سبکه شوې یم ټوخیږم او په بلغمو کې مې وینه هم راځي د جګیدو تاب مې له لاسه ورکړئ آن ستا سره په دې خبرو کې هم سترې شوم خوله مې وچه شوه ژبه مې بنده بنده کېږي. ورته مي کره ماته اجازه راکړه چې زه دې درملنه وکړم او وپلټم چې ته څه ستونزه لري .

ـ خو ژوند ته تمه نلرم نو درملنه بیا په څه مانا ؟
ـ وجود او روغ صحت د انسان لوی الهي نعمت دی او ساتنه یې په انسان فرض ده نو که انسان د وجود خیال و نه ساتي بیا به الله ج تري ددې نعمت پوښتنه کوي.

زما ډېرو زاریو او منتونو له برکته مې په نه زړه دې ته واداره کړه چې د درملنې لپاره راته هو ووایي، څه درمل مې ورکړه، ستنې مې ورته ولګولې، خو د ازموینو لپاره یې ښار ته د تلو څخه جدي انکار وکړ، د ستاتیسکوپ او د فشار اله مې بکس ته دننه کړه ځنځیر مې پسې راکش کړ او په دې ټکو مې خدای پامانۍ ترې واخیسته چې سبا دې بیا پوښتنې ته راځم نور ترې لاړم، کلینک ته مې هم زړه زور وانه خیست راساً کور ته لاړم ځکه د انجلۍ په اړه مې ذهن مصروف وو .

بیلا بیل سوالونه راسره پیدا کېدل چې د هغوی لپاره مې ځواب نه درلوده، ځان سره مې ویل !

پر دي انجلۍ څه شوي دي؟

ولی دومره ذلیله شوې ده ؟

ولې نه غواړي درملنه یې وشي ؟

ولي له انسانانو کرکه کوي ؟

ولې یې د فاحشه خانو څخه یادونه وکړه ؟

ددې خبرې تر شاه څه پټ دي ؟

او هغه بې حده ښکلی انځور یې ولې خواکې ایښی و او دعوه یی درلوده چې دا زما دی که ریښتیا هغه انځور ددې وي نو ولې دومره ویلې شوې، چې د هغه انځور سره یی پرتله کېدل ناشوني دی؟

ددې انجلۍ ژوند راته یوه داسې معما شوه چې پرې پوهېدل مې د خان فرض وګڼله او فکر مې وکړ چې خامخا یی د ژوند تر شاه یو درنه کیسه پرته ده او زه باید په دې پوه شم که مې له وسه وشول د ژوند په چارو کې به ور سره د خپل وس په اندازه

مرسته وکړم ممکن زما مرسته یې له دې مایوسی راوباسي او بېرته خپل ژوند ته را وګرځي.

کور ته لاړم، د چا سره خبرو خوند نه راکاو او په ذهن کې مې درګرده د هغې انجلۍ معصومه څهره، خوار وجود او بېلابېلې پوښتنې ګرځېدې، د شپې ډېره برخه مې له خوب سره خدای پامانۍ کړې وه وروستۍ حصه کې مې سترګه سره ورغلې وه، سهار د لمانځه وروسته مې تمرین کاو چې ایمل زنګ را وواهه !

ویل یې ناروغ ډیر فرق کړی دی او دعاوی درته کوي چې ستا په برکت یې دردونه ارام دي او ځان لږ راحته احساسوي، انجلۍ وایي له څو مېاشتو وروسته یې لومړۍ ځل حمام هم کړی جامې یې هم بدلې کړې دي ایمل خبري و غځولې وې ویل:

هغې بېچاره خپلې جامې نه درلودې دوه درې جوړې مې له کوره ورته راوړې هغه وخندل بیا یې خبرو ته په داسې حال کې دوام ورکړ چې خوښ مالومېده.

هغه وویل :

پوهېږې ؟

دا جامې مې خپلې مېنې ته ګنډلې وې خو قسمت هم کاڼې کوي همداسې ګنډلې راسره پاتې شوې او حیرانونکې خو داده چې پر ناروغې داسې جوړې دي ته وا دې ته مې ګنډلې دي، لږ پکې آزادې دي ځکه چې د بې چاره خورا وزن بایللی دی، ما ورته کړه شکر چې ناروغ ښه شوی دی او ته مه خفه کېږه که مېنه دې له لاسه ووته، د هغې په څهره کې بله خدای ج بی احسانه درکړه خپل کور ته یې درته راوسته، هغه په دې خبره وخندل او بیا یی خپله اندیښنه را سره شریکه کړه وې ویل:

ډاکټر صیب ناروغه به شه شي ایا زه به د دوهم ځل لپاره خپل ارمان ته ورسیږم، آیا د ژوند دغه هیله به مې پوره شي ؟

ورته ومې ویل:

راځه خدای ج مهربانه دی، الله ج داسې ناروغۍ ندی نازل کړې چې درملنه نلري هغه به حتماً روغه شي او ته به ورسره ښاد شي !

ـ انشاء الله

ـ ښا زه نور ټلیفون لیکه پرې کوم اوس کلینیک ته ځم چې له ناروغانو اوزګار شم نو بیا یې هم پوښتنې ته راځم .

ایمل وویل: ډاکټر صیب پر ما دی پیسو زړه مه سوځوه، شکر خدای ج ډیرې راکړې دي، درملنه یو په دوه حسابوه خو د ناروغ درملنه وکړه، هغه ته مې وخندل، سمه ده، په ویلو مې ټلیفون ترې پرې کړ، کلینیک ته لاړم خدای زده څرنګه مې ناروغان وکتل او د خپل موټر په اکسیلیټر مې پښه ټینګه کړه په لږ وخت کې د ناروغ مخې ته و دریدم .

زما په لیدو هغه مسکۍ شوه، په خپل ځای کې راکیناسته تکیه یې وکړه د پړون سره یې ډېر توپیر و، تکیه ته یې په اسانۍ ډډه ووهله، څهرې ته یې ځیر شوم پاکه سوتره وه د پرون په څېر ګردونه پرې نه و پراته، له خیرو پاکه وه، نازک سپین پوستکي یې د مخ کاسه پوښلې وه، بیخي هغه د چا خبره خپل طبعي رنګ یې باسلی وو، حیرانونکې خو دا وه، هغه تصویر ته چی پرون ما ورسره لیدلی و، پنځوس فیصده شوې وه، ځان سره مې وویل هغه ښکلې د فلم انجلۍ انځور خو په رښتیا د همدې انجلۍ ده، هغه ملامته نه وه چې څهره یې ګرځېدلې وه خدایزده څو مېاشتې به یې مخ او لاس نه و پریوللي، ځکه چې له یوې خوا یې ذهني توازون ښه نه و له بلې خوا دومره بې شیمې شوې وه چې د ځان پاکي خو څه چې خپل خوراک او څکاک یی هم په اساني نه شو کولی .

هغې د حیا او عفت سترګې درلودې ماته به یی ځواب په داسې حال کې راکاؤ چې سترګې به یې ښکته اچولې وې، هغه په خبرو راغله راته یې کړه تاسې په رښتیا د نجات فریښتی یاست، له مور او پلاره هم ډیر مهربانه یاست، زما د وجود بدبوي نه به خلکو کرکه کوله، لرې به رانه تښتېدل خلک ملامت نه وو، أن ما هم دا بدبوي نشوه زغملای خو تاسی څومره په اساني دا هر څه تحمل کول، تاسې ډېر مهربانه زړه لرئ، که هر ډاکټر ستا په څیر شي نو په دې نړۍ به جنتي وي، ما ورته وخندل ورته مې کړه یوازې زما صفت کوې که د خپل ځان د ناروغي حال هم راته وایې، هغې پټرې

نېولې شونډې سره بېرته کړې په سختي يې په خوله کې مهين غاښونه ښکاره شول مسکا يې وکړه بيا يې وويل: زه دې له يوه لوی عذابه خلاصه کړم چې تر پرونه راهيسې نه هغه سپينه جامه لرم او نه هغه بدبوي چې ماته يې سخته شکنجه راکوله او له انسانانو يې هم لرې کړې ومه زړه او خوله دواړه مې دعا درته کوي .

ـ له انسانانو د لرې والي لامل دي همدغه وو .؟ هغې له حيا ښکته سترګې واچولې بيا يې نوکانو ته له شرمه وکتل وې وويل؛

ـ نه له دې نور څه مهم هم شته.

ـ ماته يې ويلی شي ؟ د هغې څهره عاجزه شوه بيا يې وويل

ـ اوس نه خو په وخت سره به يې درته ووايم .

ـ ښه په هر حال، زه مو ډېره د فشار لاندې نه راولم، دا شکر دی چې اوس ښه شوې يې نوره به هم ښه شې بې حده زياته کمزورې يې ممکن ډېر وخت دې ښه خواړه نه وي خوړلي ته چې څو ورځې ښه خواړه وخورې نوره هم ښه کېږې.

ـ چېرې به ښه شم ډاکټر صيب ! زما ناروغۍ د ښه کېدو نه ده .

ـ ګورې زما چې څومره علم دی ستا ناروغۍ ماته د جنسي امراضو پورې اړوند ښکاري او درملنه یې شونې ده مه وارخطا کیږه، هغې د هو په دود سر و خوځاو خو.....

زړه ته یې نه لوېده چې روغه به شي، په څهره کې یې کومه خوښي نه مالومېده، فکر کوم زړه کې به یې ویلې چې هسې د درواغو تسلي درکوي.

ـ پوښتنه مې ترې وکړه ایا واده دې کړی ؟

¬ـ نه واده مې ندی کړی پېغله یم، خو قسمت راسره داسې چارې کړې چې فکر نه کوم څوک مې په پېغلو کې حساب کړي، ان زه خپله ځان په پېغلو کې نه حسابوم.

ـ زه ستاسې د نوم پوښتنه کولای شم ؟

ـ هو نوم مي للمه ده خو مور به له نازه راته ګل څهره ویلې، راته ویل به یی څهره دی ګل ته ورته دی، ریښتیا دریم نوم هم لرم دا نوم ادم زاده جنایت کارو انسانانو راباندې ایښی دی هغوی د لعل پري په نوم بللم....

ـ جنایت کاره څوک و او ولې یې نوم درباندې بدل کړی دی؟

ـ د هغوی همدا اوصول و، فکر کوم دوی د خپل ځان د خوندي توب لپاره دا کار کاؤ.

ـ که ته یې بده نه ګڼې غوارم پوه شم چې للمه څوک وه ؟

څوک شوه؟

او د ژوند ګرداب تر دغه حاله څرنګه راورسوله .!؟

ـ ولې غوارې پوه شې؟

ـ ما بېګا شپه په رښتیا زیاتره برخه په وېښه تېره کړې ده ستا په اړه سوچونو نه پریښودم چی خوب و کړم، ممکن زه درسره مرسته وکړم .

ـ په مرستې خو دې باور لرم، خو له دې هر څه تېر شه، زه څو ځله وژل شوې یم، هغه بسنه کوي، نور یې نشم زغملی، د خپل ژوند کیسه هم راته دومره زور راکوي چې وژني مې، تېر بد او ترخه وختونه راته یادوي !

ـ که ما نه ناراحته کوې نو کیسه به راته کوې

ـ څه يې کوې ډاکتره، زما د ژوند کيسه له شرمه ډکه ده ! ويل يې راته شرم دی، نو له دې شرمه مې وژغوره، حال مې مه را سپړه .

ـ د هغې پر خبره ورته مسکی شوم، ورته مې کړه زما ناقراره زړه به څرنګه شي زما له سترګو تښتېدلی خوب به څرنګه شي، دا چې خپل کار کلينيک رانه پاتې دی هغه به څنګه شي ؟

حتماً به هغه څه راته وايي چې زه يې غواړم ځکه زه دې تا لپاره ډېر نارامه يم ته بايد په خبرو راشي، د ژوند په راز مې يوه کړې ترخو زما زړه د نارامي له حالته پرې وځي.

هغې زما په خبره په خپله طلايی حنجره په بې شيمې ډول په کراره وخندل جالبه موسيقي ته ورته خندا وه، نوره چوپ شوه خپلو خيالاتو کې لاړه، خو لهظې خاموشه وه، نه يې غوښتل هغه څه ووايي چې پرې تېر شوي دي .
خو ما خپله ټوله هڅه کوله هغه په خبرو راولم، سوالونه مې ترې پيل کړل د هغې چوپتيا ماتولو لپاره مې ترې پوښتنې پيل کړې.

ورته ومې ويل:
ناروغۍ ته مو چې ګورم يوه پوښتنه مې ذهن کې ګرځي، را ګرځي وې پوښتم کنه؟
ـ هو وې پوښته !

ـ ستاسې پرون د فاحشه خانو يادونه وکړه هيله ده بده يې ونه ګڼئ، چې دا پوښتنه کوم ستاسې ژوند خو تر هغه ځای سره تړاو نلري ؟

ـ لري يې لوی تړاؤ لري !

ـ خو ستاسې دروند شخصيت د هغه ځايه سره هيڅ جوړ نه دی؟

ـ ما خو وژني هم دا خبره چې زه څوک وم، څوک شوم او پای مې څه شو !

ـ هيله ده ماته د ژوند کيسه وکړئ او زه د ګوډې ماتې ليکنې توان هم لرم، وبه يې ليکم او نشر به يې کړم ممکن، ستاسې ژوند نورو ته عبرت شي او له داسې بد وضعيته چې ته يې لرې وژغورل شي.

ـ ما خو د ځان سره پرېکړه کړې وه چې خپلې خبرې ارمانونه د ژوند تباهي ټولې کيسې به د ځان سره ګور ته وړم، چاته به يې نه وايم، خو په دې ژمنه يې تاته وايم چی ليکې به يې او نشروې به يې ترڅو زما په شان سرنوښت د نورو نشي، شايد چاته پند شي، کېدای شي الله ج د هغوی له کبله پر ما هم رحم وکړي او له تېروتنو راتېر شي .

ـ ايا تا هم په ژوند کې تېروتنې کړې دي ؟

ـ انسان به وي او بې تېروتنو به وی دا خو ناممکنه ده، تېروتنې مې کړې دی، خو ما په ژوند هم په خپله خوښه داسې څه ندي کړي چې خپل وجدان ته پړې ملامته شم او يا هم زما مخ خدای ته تور شي، زه د جبر او وحشت يوه ښکار شوي کس يم، ما بې پروايي کړې خو ګنامې نده کړې په رښتيا لږه بې پروايي هم د انسان ژوند د بربادۍ خواته بيايي او تبا کوي يې، ژوند اسانه ندی ژوند خورا سخت دی که لږ دې هم قدم بې ځايه کېښود او وښويدې نو د وخت جبر د غبرګه ملا ماتولی شي او

داسې دي خپلی شي چې بيا به زما په خبر بې هيلې او اسرې د ژوند وروستۍ شيبې شماري .

ـ رښتيا هم همداسې ده ژوند هنر غوارې د ژوند په سمندر کې لامبو زده کړه غوارې کنه ډوبيدل حتمي دي، نو ما د ژوند په دغه معما کله پوه کوې ؟

ـ نن هم درمل راکړه زه بې حده زياته ورسره ښه شوې يم اوس مې دومره خبرې درسره وکړې چې زياته د ستړيا احساس کوم، نوره شپه نده را کې پاتې شوې که نن درمل وخورم ممکن تر سبا نوره هم ښه شم .

سبا ژمنه درسره کوم چې خپل د ژوند تريخ داستان به درته وايم او له خدايه ج توفيق غوارم چې د ويلو له امله يې شکنجه راته اسانه کړې .

هغې ته مې درمل ورکړه د ټپونو ستنې مې ورته ولګولې د ذهني ارام دوا مې هم ورته توصيه کړه، خپل دوربين او د فشار اله مې بکس کې کيښودل، په همدې ډاډ ترې لاړم چې سبا راته د خپل ژوند پر ربړو خوله پرانيزي، کورته لاړم، دوهمه شپه مې هم د پرون په خبر وه، ډيره په ويښه او لږ په خوب تېره شوه د سهار ناشته چمتو شوه د اوږد مېز مخې ته زما کورنۍ او زه کېناستو د دهليز کړکۍ خلاصې وې د شاتني باغ په ونو کې د ناستو مرغيو چېارې زموږ غوږونه تخنول، مور مې د ډوډۍ پر مېز مخامخ راته ناسته وه په ژور انداز يې په ما کې سترګې نيولې وې، راته وي ويل زويه سم نه راته مالومېږې ؟

هغی ته مې بهانه وکړه چې روغ یم یوازې لږ بې خوبه شوی یم د شپې تر ناوخته په څه کارونو بوخت وم، له ناشتی و روسته کلینیک ته لاړم ناروغان مې وکتل او بیا لکه چې یو مهم ماموریت راله غاړې وي، د للمې پر لوري تلو ته مې بیړه وه، خپل موټر کې کیناستم، لږشیبه وروسته هلته ورسیدم، سلام مي واچاؤ.

د للمي مخ ته مي وکتل للمه لکه ګل غوړېدلې وه، څهرې یې جلوې کولې ځان سره مې وویل :

په رښتیا چې ناروغۍ انسان څومره بدرنګه وي ان له کتو یې باسي، د هغې لږ ښه والي سره څهره څو چنده تازه شوې وه بیخي جذابه مالومېده، مور یې په رښتیا ملامته نه وه چې ګل څهره یې بلله، بیخي لکه مړاوی ګل ته چې اوبه ورکړې داسې رنګینه شوې وه هغه له ځایه پاڅېده او د روغتیا او دردونو د نه شتون خوښۍ یې راته څرګنده کړه په خپل ټټر یې د درناوی لاس کېښود را ته ویې ویل زه مو د خپل احسان لاندې کړم.

ما ورته وویل :

له دې به نوره هم ښه شې چې ته ژوند ته هیله منه شې او وغواړې درملنه دې وشي د هغې په څهره کې زما په دې خبره لږ د خپګان نښې څرګندې شوې بیا یې وویل:

زما د ژوند په کیسه کې مه کېږه، یوازې غوارم خدای ج دومره توفیق راکړي چې تاته د ژوند داستان ووایم، بیا دې مړه شم ژوند نه غوارم، ځکه زه اوس په داسې حالت کې یم چې د ټولنې په زیان یم، د ټولنې په زیان مخلوق لکه کثافات خلک له خاورو لاندې کوي ما هم داسي و شماره.......

ـ او هو ته داسې ولې وايي ؟

ته ولی ځان ته د کثافاتو خطاب کوي ؟

مورې غوارو چې تاسې له مایوسۍ راوباسو او ته پکې لا ډوبېږي؟

گوری !

مایوسۍ د خدای ج عذاب دی او مورې نه غوارو ته په دې عذاب کې واوسي مورې لوی الله ج لرو د ژوند ټولو چارو لپاره هغه زمورې لپاره کافي دی .

ـ هو داسې خو ده

ـ بل، ته مه خفه کېږه، ته اوس یوازې نه یې، چې ښه شې نو یو څوک تا غواړي ؟

ـ هغه مسکی شوه وې ویل څه مطلب .؟!

ـ ایمل وایي کله چې للمه ښه شي او هغه وغواړي نو زه به واده ورسره وکړم، داسی واده چې په سیمه کې ساری ونه لري !

او ته خو پوهېږي چې هغه هم شکلی دی هم سرمایه داره دی هم ښه انسان دی او تاته هم دغه ښه چانس دی ژر ښه شه ! چې د واده خوږه دې وخورو، هغه وشرمېده د لومړۍ ځل لپاره مې د هغې په خاسف مخ کې لږه سورخي ولیده

وې ویل:

زه نامزاد لرم، د یو چا په نوم یم زه نشم کولای بل چا سره واده وکړم، پښتنې خو په ژوند کې یو ځل د چا په نوم کېږی ایمل ته ووایه له لوریني دې مننه کوم .....

ـ نامزاد دې چېرې دی؟

ـ هغې سوړ اسویلی وکیښ مخ یې را واړاو راته یې کړه :

اوس کیسه درته کوم، ویل به یی راته ډیر سخت وي ځکه زما د شکنجو دردونه او بدي خاطري را یادوي، خو پر تا مې هم نارامتیا نه لورېږي یو ښه انسان یې هر څه درته وایم .

ـ ما ورنه مننه وکړه، بیا مې ورته وویل :

که ته چمتو یې نو زه بې صبرانه منتظر یم چې د ژوند په راز دې پوه شم او شته ستونزو کې درسره مرسته وکړم، هغې غاړې تازه کړې، غځبدلې پښې یې راټولې کړې، خولې ته یې لاس ونیو لنډ لنډ ټوخی یې وکړ .

راته یې کړه :

له کیسې مخکې راته ووایه چې ته ولې زما سره خان ستړی کوي، ولې خپل ارام ژوند نارامه کوې زه په ځان کنټرول نلرم کله چې د ژوند کیسه درته کوم ځینې داسې ناخوالی او دردونه مې تېرکړي چې بیا به مې چغو او فریاد ته ځان ټینګ نه کړې، بیا به پښېمانه شې چې ولې مې ددې مظلومې ټپونه راوسپړل، ولې مې ازاره کړه او ولی مې خپل ارامه ذهن پرې نارامه کړ .

ـ زه ستونزه نلرم ستاسې لپاره هر څه ته چمتو یم، خو ستا د ژوند کیسې ته بې صبرانه لېواله یم، خیر که ډېرې ستا اوښکې بهیږي لږ دې زما هم وبهېږي، خیر دومره کالونه چې تاسې په ربړو کې تېر کړي زه دې هم څو ساعته درسره و ځوریږم او دردمن دې شم .

ـ ښه چې داسې ده نو غوږ شه، خو چې کله هم سترې شوم بیا به فشار نه راباندې راوړې، نوره کیسه به درته بله ورځ کوم ځکه ډېره کمزورې شوې یم، دا چې سړی په خبرو سترې کيږي نو دا به د کمزوري وروستۍ حد وي.

ـ سمه ده

ـ زه د کابل ولایت اطرافي سیمې یم ولسوالي او کلی ځکه نه درته ښایم چې بیا به مې څوک کورنۍ وپېژني زما د بد ژوند پیغور به ورکړي، ځکه پښتانه د ناموسۍ پېغور لپاره بېخي په ماشه ولاړ دي، حقیقت پسې نه گرځي خو چې خپل تربور سرټیټی کړي او په ناموسي پېغور سره یې له مقابلي وباسي، دا ورته له هر څه لومړیتوب لري، د للمې سترگې لمدې شوې ښکته یې وکتل، څو لحظې چوپ شوه ترڅو د ژړا مخنیوی وکړي د مخ ځوړند ویښتان یې له غوږه تاو کړل، چې ستونی یې لږ د خبرو شو نو سر یی را پورته کړ بیا په خبرو راغله وې ویل :

ـ زه دا خبره ځکه درته کوم چې زه خو د تقدیر چارو سرټیټې کړم خو چې زما کورنۍ خدای ج له دې سر ټیټۍ وژغوري هم ښه به وي، پوهېږم زما په ورک کېدا کې به مې کورنۍ ته ډېرو پیغورونه ورکړي وي ډېرو به په مجلسونو کې په غوږ

وهلي وي چې لور يې عياشه وه ترې لاړه ځان يې ورک کړ خو له حقيقته به نه وي خبر چې رښتيا څه دي ؟ په هر حال ....

ـ زه د ژورناليزم پوهنځي د لومړي کال زده کړياله وم تازه له دولسم ټولګي فارغه شوې وم د کابل د يوې درنې کورنۍ غړې وم پلار مې د سيمې خان او لوستی کس وو، ډېرې ځمکې يې لرلې نوم يې لاره نشان يې لاره، د پنځو وروڼو خوريم، زما يو ورور بوکسر وو، د تمرين پر مهال يې پر اورمېږ کې يوه ستونزه پيدا کړې وه بيا دلته مو ډېر علاجونه پرې وکړه خو ښه نه شو کله، کله به ترې ډېر کرېده بيا چا مشوره ورکړې وه چې بايد پېښور ته لاړ شي، يوه ورځ يې کور کې پېښور ته د تلو خبره ياده کړه پلار مې ورته اجازه ورکړه ورته وې ويل چې ته بايد مخکې تللی وای ما هم خبره ورسره غبرګه کړه چې زه هم ور سره ځم زه به هم کله، کله په مېاشت، دو، کې ولوېدم بی هوشه به شوم ډاکټرانو ويل چې ته بايد د سر رنګه عکس واخلی هغه مهال دغه معاينات دلته نه وو، که و هم ډېر پرې باور نه کېده !

پلار باندې زه خورا ګرانه وم ماته يی وويل دا ښه چانس دی له ورور سره دې لاړه شه او خپله درملنه دې وکړه .

زما نامزادي شوی وه او کوژدن مې د طب پوهنځي زده کړيال وو، زموږ اړيکه هم هغه د انګريزانو خبره د مينې اړيکه وه لکه د نوک او ووری اړيکه، د هغه په لاسته راوړلو مې دې ژوند يوه لويه هيله پوره شوې وه او دا اړيکه دومره راته مهمه وه چې په ياديدو مې هم خوند اخيست. داسې ورځ دې ورکه شي چې موږ به په ساعتونو ساعتو پر ټيليفون خبرې نه کولې، په خبرو نه مړېدو د خوب کيسه کې هم نه وو، کله کله به په خبرو را باندې سهار شو، د خبرو پر مهال به موږ دومره خوښ و چې هيڅ

خوراک او څښاک ته مو ور پام نه ور اوښت .

زمورږ د مېښتوب او بیا کوژدې کیسه داسې وه چې هغه (کوژدن) مې زما د یوه ورور د مکتب دورې همصنفي و، له کوژدې مخکې یوه ورځ زما کوژدن زما د ورور پوښتنې لپاره زمورږ کره راغلی او ما حجره جارو کوله بهر مې یوه کوچنی ورور چې د اوو کالو و پرته له دې چې پوښتنه وکړي حجره کې څوک شته او کنه هغه یې راننه باسه په حجره کې دوارِه سره سترگو په سترگو شو، لومړی لیدنه وه، هغه خورا ښکلی راته معلوم شوه، د هغه په لېدو مې جارو له لاسه ولوېده، ځکه لیدو یې طوفان جورِ کړی وو، داسې مې احساس کوله چې دغه زده کړیال زه له ډېر پخوا پیژنم، ښه ډېر مې ورته وکتل زه یې په څهره نه مرېدم، څهره یې خورا مهینه او موزونه جورِه شوې وه د جذابیت لورِ برید یې خپل کړی وو، د خپلو سترگو د ښکته کېدو چل رانه هېر وو چې څرنگه یې ښکته کړم یا یې له هغه بل لور ته وارِوم خو هغه له ما حیاناک و، ښکته یې کتل، کله، کله به یې سترگې راپورته کړې، پوهېدم هغه هم لېوالتیا لري ما وگوري او د زرِه په سترگو مې وگوري، خو سترگې یې په ما کې لکه زما غوندې د ملخ نه وې خښې کړې، ډېر یې راته نشو کتلی، چوپه چوپتیا وه، کشر ورور مې هم دوارِو ته حیران و، چې دا څه روان دي خو کوچنی وو، سم نه پوهېده چې کوم څه روان دي ښه دي او که بد، بلاخره د شرم احساس راکی راژوندی شو، سترگې مې ښکته کړې او د خبرو توان مې وموند، په خوله مې سترې مشې ورکرِه، د غولي په منځ کې لوېدلی جارو مې را واخیست او نوره بهر ترې ووتم .

د ځوان انځور مې سترگو واخیست او پرته له سوچه یې زرِه ته ښکته کړ، له هغه پلوه یې قلف پسې واچاؤ، خپلې کوټې ته لارِم عجیبه احساس مې کاو، لکه یو لوی سرِی مې چې لیدلی وي، لکه چې د ملک فهد سره مې ملاقات کړی وي د هغه څهره مې مخې، مخې ته کېده، سپین نوراني مخ د موزونو شونډو پر اورِدو کې غورِېدلي

نري بريتونه بل رقم ښه مالومېدل د هغه ګلالۍ څهره مې په ذهن کې تاوېده را تاوېده او له یاده مې نه وته، هغه راته لحظه په لحظه مهم کېده او د خپلولو فکر یی راسره پیدا کېده، ځان سره مې پرېکړه وکړه چې ښکار خدای ج په لاس درکړ، نو اوس لاس په کار شه او خپل یې کړه کنه نو بیا به دې ټول ژوند لپاره ارمان کوې، لاس به مروړې خو څه به په لاس نه درځي یو ځای کې مې لوستي و چې (( فرصتونه انسان ته کله، کله په لاس ورځي خو چې په لاس درشي نو استفاده ترې وکړئ)) ما هم په همدغه مقوله عمل پیل کړ ځان سره مې وویل چې په ټول توان به هڅه کوم دغه سړی به په لاس راوړم، زه نه پوهېدم چې خپله هڅه له کوم ځایه پیل کړم.

او ددغه هلک سره اړیکه ونیسم کورنۍ مو هم سور اور وه که د لوبو په داسې یوه حرکت خبرېده، له تور توپک پرته یې بل چلند ورسره نه کاو، خو زړه هم عجیبه وي کله چې کومه پرېکړه وکړي بیا خطرونه او پېچومې سړي ته هوار مېدان کړي. د ډېرې وېرې باک ته مې ذهن کې ځای نه ورکاو خو لږ، لږ ویره خامخا راسره وه مشر ورور مې بوکسر وو، یوه ورځ مې په عادي تېروتنه سخت وهل ترې خوړلی و، د کورنۍ نظام درنښت ته په کتو مې د حیا لاره غوره کړه مال له چل ول کار واخله، هسې نه چې هغه وهل دې بیا د هډونو یادګار تازه کړي، سهار مې له کوچني وروره په ډېر چل او زړه نازړه توب سره د هغه د نوم پوښتنه وکړه ورته مې کړه هغه پرون تا ښه ونه کړل چې مېلمه دې راساً حجرې ته راوست، لومړی به دې حجره کتلې وه بیا به دې مېلمه رانته باسلی وو، ورته مې کړه راتلونکي کې بیا داسې مه کوه، که مشر ورور دې درباندې خبر شي پوستکی به دې وباسي، په زړه کې خو مې ویل چې

داسې ښه کار دې په ژوند هم ندی کړی لکه دغه دې چې ترسره کړ، له یوه پاچا سرې سره دې اشنا کړم، راته یې کړه نوین الحق ښه یې ....

ـ هو هغه یادوم، ښه شوه چې زما له پوښتنې پرته یې نوم راته ووایه په زړه کې دې ښکته شوي انځور سره، مې د هغه نوم هم په زړه ولیکه او په دې لټه کې شوم چې شماره یې پیدا کړم .

یوه ورځ مې د خپل مشر بوکسر ورور ټلیفون په دې پلمه را واخیست چې د یوې واده شوي خور سره مې خبرې کوم زه کریډیت نلرم، هغه فون راکړ د خور سره مې لندې خبرې وکړې، دستي ټلیفون کې د ملګرو لیست ته ورغلم نوین الحق مي سرچ کړ دوه نوین الحق پکی راغلل حیرانه او دوه زړې شوم چې اوس په دې کې به کوم یو زما کس وي هغه چې زړه یی راته نارامه کړی دی، د یوه نوم سره تلاش تخلص لیکلی وو، د دوهم سره د مبارز تخلص و، هدف پاتې شو او تلیفون مي بېرته ورور ته ورکړ، له هغه خو مې د پوښتنی جرات نه لاره ځکه زموږ کورنۍ ډیره سخت ګیره وه، کوچنی ورور مې مکتب کې و هغه ته په انتظار مې دروازې ته سترګې سترې شوې چې کله به راځي او زه به د خپل نوین الحق مالومات ترې کوم .

بلاخره دولس بجې مې کوچنی ورور چې دلته یې له نوم نه ډېره کوم کور ته راورسېده دولس بجې نه وې سم د روژه ماتي ماښام و چې نه راته، کله، کله به په سوچ کې شوم ځان سره به مې وویل :

دا څه روان دي ؟ للمې لږ سوچ وکړه ! سړی دومره ژر نه منین کیږي، ته لیونۍ شوی یې، لا دې هغه مطالعه کړې ندی د هغه خواص دې ندي پېژندلي، د هغه شخصیت دی ندی مالوم کړی او د مېنتوب هوا دې په مغزو کې انګازی کوي، لږ فکر وکړه زغم ولره هغه کس شاید ستا لیاقت ونه لري، شاید ته یې خوښه نه شي، نو مخکې له مخکې دومره نارامتیا د څه لپاره ؟

وای غوايي حلال ندی خنکونه یې په سر نبېولي، لا خو خبره پېل شوې نده او تا ځان د لیونتوب تر بریده رسولی دی بیا مې ځان ته په دې خبره ډاډ ورکړ چې هغه متل یی کړی زړه په زړه ائینه وي که هغه زما خوښ شوی دی، نو زه به یې هم حتماً خوښه شوی یم که زما زړه د هغه لپاره اوس په ګوګل کی ناراحته شوی دی خو زما ځواني هم اوبو نده راوړې په لارو او کوڅو کې یې د صفت انګازې خپرې دي حتماً به هغه هم زما په اړه فکر کړی وي.

په دغه خبره مې ځان ته ډاډ ورکړ او د خپل لیونتوب لوری را ته بریمن و بریسیده بلاخره انتظار مې ختم شو، کوچنی ورور مې له مکتبه راغی هغه ته مې ډوډۍ تیاره کړه، خواته ورغلم دسترخوان مي ورته وغوړاو له پخوا مې ورته دسترخوان رنګین کړ، هغه خیټور دسترخوان ته پلترۍ ووهلې په کټ، کټ یې وخندل راته یې کړه:

نن دې په کومه خوشحالی کی داسی غوښین دسترخوان جوړ کړی دی ؟!

ووېرېدم مال لکه چې راباندې شکي شوې دی؟ خو ځان مې قوي کړ، باک مې پرې رانه وړ، خبره مې بدله کړه، ورته مې کړه ډېرې خبرې مه کوه، ته نن ولې له مکتبه

ناوخته راغلی ؟

ځواب یې راکړ:

زه خو ناوخته نه یم راغلی پوره دولس بجې راورسیدم.

ـ وروسته په خود شوم ځان سره مې وویل هغه خو رښتیا پر خپل وخت راغلی دی، زما اوږد انتظار له امله راته ناوخته ښکاره شوه.

ـ زړه نا زړه مې ترې وپوښتل هغه د مېلمه تخلص څه شی و؟

ـ د کوم مېلمه ؟

ـ هغه چې تا حجرې ته پرته د حجرې له کتلو راوستی و .....

ـ نوین یادوي ؟

ـ هو

ـ ولې د هغه په اړه دومره پوښتنې کوې ؟

ـ له غومبري مې کش کړ ورته مې کړه، شکمبو هسې زما یوه همصنفی انجلۍ ده د هغې د ورور نوم هم نوین الحق دی مال دا د هغې ورور نه وي .

ـ نو د هغې همصنفی څخه یې پوښتنه وکړه کنه ؟

ـ ورته مې کړه چاغکه ته به ستړی شي چې راته وې وایې

ـ په ډېرې سختی یې راته وویل مبارز تخلص کوي

ایله مې زړه ولګېده، ځان ته مخاطب شوم مالي للمې ګلې خپل هدف ته پرته له کومې ستونزې ورسېدې، اوس به له نوین سره اړیکه ونیسی خپله د زړه خبره به ورته وکړې هغه به یی قبوله کړي او خوښ ژوند به ولري، زه په دې خیال پلوونو کې وم چې شمارې ته مې پام شو ځان سره مې وویل للمې خیال پلو پرېده لومړی یې شمېره په لاس راوړه بیا خیال پلونه وهه، ددې هدف لپاره بیا هم د مشر ورور تلیفون ته اړتیا وه چې ترې وای خلم او شمېره ترې ولیکم هغه ته مې دوهم ځل هم پلمه وکړه چې کور کې سودا نشته له منځوي وروره یې را غوارم، سودا وه خو بس

بله پلمه نه وه !

د مېنتوب احساس هم جالب وي سرېي باندې څه کاني کوي، مشر ورور تليفون راکړ او يوې گوښې ته مې منځوي ورور ته فون وکر يو عادي څه مې ترې را وغوښتل وروسته د مبارز شمېرې په لټه کې شوم، ژر مي د مبارز شمبره را واخيسته پر خپل ټليفون کې مې د خپلې خورلڼې په نوم ثبت کړه.

کله مې چې ښه فرصت و موند زنگ مې ورته وکړ، يو څه وارخطاوم خو هغه د چا خبره پېريانو مېنانو ته غزني څه شی وي، فون مې غوږ ته نېولی و ټالۍ ورغله، خو زړه مې بيا هم ډوبې کولې ځکه د لومړي ځل لپاره د يوه بيگانه نارينه سره مې خبرې کولې، خوږ غږ راغئ وې ويل:

ـ سلام عليکم

ـ وعليکم سلام

هغه چې د انجلۍ غږ واورېده نو وارخطا شو، په بنده بنده ژبه يې وويل:

تاسې څوک ؟

د هغه په وراخطايي خوښه شوم فکر مې وکړ، للمې يوازې ته وارخطا نه يې د مقابل جانب هم دغه حال دی د هغه وارخطايي يوه بله خوښي هم راکړه هغه دا چې پوه شوم نوين هم پاک زړی دی د جينکو سره عدت ندی، بل يی ماته هم همت راکړ، په خبرو کې زړه وره شوم، ورته مې کره، ځان درښايم، خو شرط به دا وي چې زما هويت به پټ ساتې موږ د يوې درنې کورنۍ څخه يو که زما وروڼه زما پر ټليفون خبر شي نو خپله به مې جنازه کې شرکت وکړي.

ـ زه امانت کاره يم ان شاء الله چې امانت به دې وساتم، ډاډه اوسه خو، باور راته سور اور نه کړې، ماته يوه ژمنه راکړه چې کوم جنجال را ته جوړ نه کړې، زموږ کورنۍ هم ډير خلک پيژني، نن سبا انجونې خو ستا مخې ته دې دېوال وي ځينې يې له فساد او دام ايښودولو پرته بل کار نلری.

ـ رښتيا وايي خو زه د هغو انجونو څخه نه يم.... .

ـ هيله کوم که ډاډه شوي ياست نو نوم مو راته وښيي او ځان را وپيژنۍ ځکه زه د نابلدو انجونو سره خبرې نه کوم، کله چې ښه ډاډه شوم نو ورته مې کړه زه للمه نومېږم او ستا د هغه بوکسر ملګري خوريم.

ـ نو زما تليفون دې له کومه کړ ؟

ـ بس پيدا مې کړ وايي مکه په پوښتنه پېدا کېږي .

ـ هو داسی خوده.

ـ هيله ده چې زما هويت پټ وساتی کنه وروبه به مې مړه کړې.

ـ سمه ده ستونزه نشته.

ـ خو څرنگه دې فون کړی.

ـ گورې ستاسې په ما غلط گمان ونه کړی ته پوهېږې چې د يوې درنې کورنۍ څخه يم او قسم کوم د لومړي ځل لپاره د يوه بيگانه نارينه سره خبری کوم.

ـ پوهېږم او ستاسې کورنۍ هم راته مالومه ده بېر وضاحت ته يې اړتيا نشته، يوازې غوارم پوه شم چې ستاسې ټليفون د څه لپاره کړی دی.؟

ـ زه هم نه پوهېږم له کومه ځايه يی درته پيل کړم، شايد زما په خبره دې شک راشي، چې دا څرنگه هر څه دومره ژر وشول او دا کله امکان لري، خو زه چې څه وايم رښتيا يې وايم، ځينې خلک داسې وي کالونه، کالونه يو چا سره وخت تېر کړي بيا د

هغوی په څهره ، عاداتو او کړنو مین شي او ځینې بیا د یو ځل کتو سره جادو وکړي او خلک پر خان مین کړي زه هم د هغو خلکو له جملې یم او ژر مې پښه و شویده، نه پوهیږم څه وکړم !

ـ زه پوه نه شوم ستاسی مطلب څه دی ؟

ـ له هغې ورځې چې ته مې لېدلی یې ژوند راباندې حرام شوی، یوه شیبه مې هم له یاده نه وځې، زه نه پوهېږم چې تاسې به هم ورته حس لری او کنه که یې نه لری بیا خو تبایم.

ـ هغه په کټ، کټ وخندل بیا یی وویل: زه څومره باور وکړم چی تاسی خو به کومه لوبه نه وي پیل کړې یا خو به مو کومه ډرامه په لاره نه وي اچولې چې ما و ازمایی

ـ ولي ؟

ـ ممکن ما ازمایی چی دا څه ډول انسان دی، خومره ژر دوکه کېږي او په پټو سترګو باور کوي؟

ـ نه، نه داسې نه ده زه قسم کوم، نه کومه لوبه کوم او نه کومه ډرامه بس یوازې د زړه خبره کوم بس.

هغه لږ غلی شو بیا په خبرو راغی وې ویل:

باور مې راغی څوک چې له زړه خبرې کوي نو هغه مخامخ زړه ته لوېږي، تاسې خبري نیغه زړه ته لاره کوي.

خو

ـ خوځه وي، خو مه را پیدا کوه کنه زما زړه به ودرېږي.
ـ خو نه را پیدا کوم، خو که تقدیر خو را پیدا نه کړی...
ـ ولي
ـ یانی اوس ناوخته شوی دی، که پرون دې ویلي هم وای څه چاره کېده
ـ ستاسی مطلب څه دی؟ ایا تاسې کوژده کړې ده ؟

ـ نه کوژده مې نده کړي خو نن مې مور او پلار په یوه انجلۍ پسې تللي دي، هغه انجلۍ د دوی ډېره خوښېده، تل به یې په کور کې د هغوی یادونه کوله، سره ددې چې هغه ما لیدلې هم نده .

په دې خبره مې خوله وچه شوه غونی مې ځیګ شو، ژړا راغله خو هڅه مې وکړه مخه یې ونیسم هغه ته مې وویل :

هیله کوم ددې رېښتې مخه ونیسی، زاری او منت درته کوم.

ـ څه ډول یې مخه ونیسم، زه هیڅ وخت د خپل مور او پلار مخی ته نه یم درېدلی د هغوی د کار مخه مې نه دی ډب کړې او زموږ د کورنې اوصول هم دا دي چې د مشرانو د کړنو د ردولو حق کشران نلري.

ـ نو بیا چاره څه ده

ـ ګوری زه به هم د زړه خبره درته وکړم، ستاسي له لیدو وروسته زه هم ناقراه شوی یم، هغه متل دی چې زړه په زړه آئینه وي، زما هم ورته حال دی زه هم دا څو ورځې کرم او ریبم چې څه وکړم څرنګه دې پیدا کړم او کوم پلان په کار واچوم چې له خپلی کورنۍ سره دا خبره شریکه کړم، ترڅو ستاسې تر کوره درشي او ماته دې وغواړي، زه په همدې سوچونو کې وم چې سهار مې کوټې ته مور را ننه وته مخې ته مې ودرېده، راته وې ویل : :

موږ ستا لپاره یو ځای ځو یوه ښکلې انجلۍ درته غواړو، هغه زموږ د ټولې کورنۍ خوښه شوې که رب کول د بخت ښخه ده نه یې د قواری کمې شته او نه د کمال، زما په زړه کې تاسی را تیره شوی !

ترڅو تاسې ورته یاده کړم خو مور زما داسې تربیت کړی دی دومره مېنه یې راکړې ده چې هېڅ مې ددې خبرې جرئت و نه کړ یوازې مې دومره ورته وویل څه چې

ستاسې خوښه وي هغه وکړئ د هغې په وتو کې مې سل زړونه سره يو کړل، چې ستاسې د کورنۍ يادونه ورته وکړم خو بيا مې هم حرف له خولې ونه وت، د هغه له دي خبري سره مې له ډېرې وارخطايي په لاسونو او پښو ترۍ لړزه خپره شوه فکر مې وکړ اسمان او ځمکه را باندې راغلل.

ورته مې کړه که هغه مېرمن وکړې زه تياره يم چې بيا هم تاسره واده و کړم.

ـ هغه به توتله بنده، بنده ژبه ځواب راکړ، په موږ کې دوهم واده رواج نشته، بل مې له ما کشران پنځه ورونه زلمي دي، هغوی هم ودونه غواړي، دا هم مناسب نه دی چې هغوی دي پاتې وي او ماته دې کورنۍ دوهم واده کوي بل زموږ اقتصاد هم ددې وس نلري چې داسې څه ترسره کړو.

د هغه په دې خبره ماته د خپل ارمان د پوره کېد و هيچ څرک مالوم نشو ماغزه مې دومره خراب شول چې پرته له اجازې مې تليفون ترې پرې کړ.

ځان سره په خبرو شوم للمې لکه چې تبا شوي، خدای ج مينه کړې خو د مينې په لاسته راوړلو کې پاتې راغلي، مخ ته مې غبرگې څاپيړې واچولې ومې ويل للمې ته به له دې مېنتوب سره څه وکړې؟

څرنگه به دا هر څه وزغمې؟

بل خاوند خو قرآن کړې چې پرما لاس واړوي، خو دا پاتی نور ژوند به څرنګه په یوازیتوب کې تېر کړې څومره به درته سخته وي.

زه په دې چورتونو کې وم چې زموږ د کور څنګ کې مسجد امام اذان پیل کړ، خوږ غږ یې و الله اکبر نارو له لوډسپیکره انګازې وکړې، زه د الله اکبر په مانا پوهېدم، یاني الله ج لوی دی، الله ج لوی دی، د هر بار اوریدو سره مې له ځان سره د هغه خوږو لفظونو ترجمه کوله .

ناڅاپه مې زړه ته ولوېده چې انجلۍ ولې مایوسه شوې الله ج خو لوی دی د هغه په شتون کې ولې غمجن شو، که د انسانانو دروازې مو پر مخ بندې شي د هغه رب د مرحمت دروازې خو تل زموږ پر مخ خلاصې دي، هغه لوی ذات ته باید مراجعه وکړو، هغه د ټولو ستونزو حلونکی دی، د دنیا چارې ټولې دهغه ذات له لوري پر مخ ځي موږ انسانان تل په دې خطا وتي یو چې خپلې ستونزې له انسانانو غواړو چې راته حل یې کړي، خو د ستونزو اصلي حلونکی خدای ج دی هغه مو له یاده وتلی دی همدا لامل دی چې ستونزې مو نه حل کېږي، ژر له ځایه پورته شوم تشناب ته لاړم، اودس مې وکړ لومړۍ مې خپل فرض لمونځ ادا کړ بیا مې دوه رکعته حاجت لمونځ وکړ خپل رب ته مې لاسونه لپه کړل دعا مې پیل کړه ومې ویل:

ای پاکه ربه په دې نړۍ کې ستا بی اجازې پاڼه هم حرکت نشي کولی ستونزې هم ته پېدا کوې حل کوې هم تاسې، دلته هیڅ هم خودسرې ندي، هرڅه ستا په اذن روان دي، ته پوهېږې زه مېنه شوی یم او مېنتوب ستا د خلقت له برخو یوه برخه ده، که داسې نه وای د یوسف او زلیخا د مېنتوب کیسه دې په خپل کلام کې نه راوړله، د پیغمبرانو مېنه دې له ځان سره نه پېدا کوله، ان زړونه دې نه پېدا کول چې د مېنې

اصلي کورګۍ دی .

ای ربه اوس ما خپلې مېنې ته ورسوه، ما مې خپل نوین ته ورسوه، د هغه لخوا خو ناهیلې شوم ته مې مه ناهیلې کوه ای ربه هغه خو انسان دی کمزوری دی، څه یې اوس له لاسه ندي پوره، ته خو رب یې پالونکی یې د ځمکې او اسمانونو رب یې ته هرڅه کولی شې د کون فیکن توان لرې، زما شته ستونزه حل کړه د نوین ریښتې ته تللې مور او پلار یې له هغه ځایه وژغوره او که رسیدلی هم وي دا ریشته مه جوړه وه، ماته یې کړه ټوک ټوک یې کړه....

سترګې مې پرانیستلې، لپې ته مې پام شو دواړو ورغوو کې مې ډنډ اوښکې ولاړې وې، ګرېوان مې لوند و، خو زه مې په خپلې ژړا او اوښکو نه وم پوه شوی.

پر مخ مې لاسونه راکش کړل د ورغوو په ډنډ اوښکو مې رخسارونه لانده شول، له ځایه ولاړه شوم جای نماز مې ټول کړ، ما به چې کله هم دعا کوله نو پوهیدم به چې دغه دعا مې له زړه وه او قبلیږي، په دغه دعا هم پوه شوم چې قبوله شوه ځکه د دعا وروسته مې یو ډول عجب احساس کاؤ، زړه کې مې یو ډول سکون و ارامتیا وه او یو خانګری خوږلښت و.

سره ددې چې پوه ومه دعا مي قبوله شوې خو بیا هم انسان و مه شیطان سل سوچونه را چول ډارولم یې چې وی که هغه ریشته نن شوي وي، زه به څه کوم، زه به نوین څرنګه هېروم، زه به مې له خپل پاتې ژوند سره څرنګه ګذاره کوم.

د شپې تیاره خوره شوه د کور کارونه خو هسې رانه پاتې ؤ ځانته په خپله کوټه کې ناسته وم مور مې راغله راته یې کړه لورې ولې خاموشه یې ولې دې د پخوا په څېر شور او خوګ نشته نن د کور کارونو ته هم رانه غلي.

ورته مې کړه مورې سخته ناروغه یم وجود مې ټوک ټوک دی په سر مې دومره بوج دی لکه دا پورې غر دې چې زما په سر ایښی وي نن ما وبښی او د ډوډۍ لپاره هم غږ مه راکوی زه ویده کیږم سبا به ګورو.

هغه مې په همدی بهانه رخصت کړه او زه د لمانځه او اوږ دو دعاو وروسته پر خپله بیډ کی څملاستم، خوب قرآن وکړ چې رانه شي څه درودونه مې چې زده و هغه مې ختم کړل خو خوب وویل زما درتګ ناشونی دی، سوچونه شول فکرونه شول زړه یو څه ویل فکر بل څه ویل زړه او فکر سره په جنګ شول، فکر ویل څه دنیا خو کمه نه ده له نوین څخه به ښکلی پیدا شي، له دغه غونډۍ راښکته شه خو زړه ویل زه نوین ګرځیدلی یم، بشپړ نوین راڅخه جوړ ده په ماکې د بل چا لپاره ځای نشته او نه پکې ځایږي، همدا نوین په لاس راوړه، تر نیمې شپې دا جنګ ښه په درز کې روان و بلاخره زړه وګټله او فکر وبایلله .

زړه وویل:

اول خو به د دعا قبوله شي هغه به په لاس راوړی خو که بیا هم ونشوه نو اړینه نده چې د نوین سره یوځای شي د هغه په نوم ژوند وکړه اخیرت کې به یې په لاس راوړې، د دوی له پریکړې وروسته زه هم ارامه شومه، لږ وروسته مې سترګه سره

ورغلې وه او مطمېنه ویده شوې وم، سهار د مور د دروازې په ټک، ټک راویښه شوم، سترګی مې پرانیستلې لمونځ قضا کېدو ته نږدې و ژر ژر مې لمونځ وکړ، د مېز په سر چای ایښی و، ستونی سره ورغلی و خو بس لکه اوږدمهاله ناروغ یو څه مې په زوره وخوړل.

بیرته خپل اطاق ته راغلم، اطاق ته به ننه وتو سره مې ټلیفون و شرنګېده د تلیفون شیشې ته مې وکتل نوین و، زړه مې په لرزان شو فکر مې وکړ هر څه خلاص شول نوین د بل چا شو او اوس به زیری را باندې وکړي، ژر مې د اوکې په بټن ګوته کیښوده، خو د تمې خلاف د سلام نه وروسته یی راته وویل:

ـ انجلۍ مبارک دې شه، ددې خبرې په اورېدو مې په پښو کې دمه ورکه شوه ورته مې کړه د څه مبارکي راکوي ځواني مرګه....

ماته دغه مبارکي، د مرمۍ له ګذاره کمه ده

ـ انجلۍ ریشته ونشوه

ـ رښتیا وایي

ـ هو

ـ ثرنگه دی په خبره قانع شم

ـ انجلۍ ! مور او پلار مې په تېښته تر را تښتېدلي و

ـ ولي ؟

ـ د کورنۍ خوشه وه، خو انجلۍ مې مور او پلار ته سپکې سپورې ویلې وې، ورته ویلي یې و چې زه ډاکټر مېړه نه کوم، ټوله ورځ په معاینه خانه کې وي، ډاکټران یوازې پیسې پېژني، چې هغه ورته راځي بیا بل هېڅ چاته وخت نلري نه کورنۍ او نه اولادونو ته ان مړی او ژوندی هم ترې پاتی وي، هغې ورته ویلي و زه به د ډاکټر پیسې څه کوم، چې ماته وخت رانه کړي، زما بله خور هم په ډاکټر واده ده اوس وای له دي خو نه واده ښه و له دې خو دا ښه وه چې مجرده پاتی وای.

هغې زما مور او پلار ته ویلی و، ځی که لرگۍ درپسې راواخلم بس دوی هم دوه خپلی کړې وې دوه پردی په تیښته تری را بریالی شوی و.

د خدای ج شکر مې ادا کړ او پوه شوم چې دعا دي قبوله شوې ده نوین ته مې وویل:

ما هم ډېرې دعاوې وکړې ممکن هغه به خدای ج قبولې کړې وي چې د انجلۍ ذهن يې اړولی دی کنه په ډاکټرانو پسې خو انجونه سر ماتوي چې ورته واده شي، لنډه دا چې کله د هغه په مثبت ځواب پوه شوم، بل رقم خوشحاله شوم، بل رقم مې ږه ټوپونه د ګوګل دننه پيل کړل، له ګډ توافق وروسته مو پر دواړو هڅه پيل کړه او د کورنيو د راضي کولو لپاره لاس په کار شو هماغه و چې دا هيله مې رب ج پوره کړه، له هغه سره مې د ژوند اړيکه وتړل شوه خو د تقدير هم عجيبه پرېکړې وي، د للمې غونۍ ځيګ شو خبرې يې په ژړا بدلېدې، وې ويل:

دا نعمت خدای ج راباندې وکوت خو روزي مي نشو، متينه شوم خو هغه مې په نصيب نشو.

- ولي ؟

هغې پر غومبورو نرۍ ګوتې تېرې کړې او خپلې اوښکې يې پاکې کړې بيا يې په خبرو پيل وکړ:

وې ويل: د نوين له کوژدې وروسته ...

مشر بوکسر ورور او ما پرېکړه وکړه چې پاکستان ته دې درملنې لپاره لاړ شو خپل کوژدن ته مې زنګ وکړ او اجازه مې ترې وغوښته، چې پاکستان ته د درملنې لپاره ځم راته يې کړه هلته به چېرې اوسئ.

ـ ولې د ترور کره مې، هغې ترور مې زه خپل زوی ته څو ځله وغوښتم خو پلار نه ورکولم او زما کوژن هم له دې خبر و نو راساً یې راته وویل هلته به نه ځې .

ـ نو هوټل کې واوسو

ـ هو که پیسی درکمې شوې زه پیسی در استوم، هوټل کې واوسئ.

ـ خو خبره د پیسو نه ده هلته لکه خپل کور سړی لږ ارامه وي

ـ نه که داسې نه کوې زه بیا اجازه نه درکوم

ما ورته وخندل بیا مې ورته وویل سمه ده، خو هغه ته چې له کومې خبرې څخه وېرېدې هغه خو هسې هم خلاصه ده، بیا هم چې خفه کېږي، ستا په خوښه به هوټل کې واوسو، د هغه په طبیعت زه پوه وم نه یې لورېده چې زما څهره مې هغه د ترور زوی ووینې چې زه یې ځان ته کوژده کولم او بار، بار یې مور د خواستګارۍ لپاره را لېږله.

ما ورته وویل نوینه که زه درنه مړه شوم بیا به څه کوې ؟

هغه راته وویل :

ته به مرې او یا نه خو زه د چې په درواغو هم د مرگ خبر واورم مرِ به شم زره به مې ودرېږي، ورته مې کړه زه هیڅ وخت هم تا نه پرېږدم، ژمنه درسره کوم چې د ځنگدن پر وخت به هم زما پر شونډو ستا نوم وي او دا یوه عادي ژمنه نده د یوې پښتنې ژمنه ده .

ځواب یی راکړ زه همدومره په تا باور لرم همدومره درباندې ډاډه یم، زه هم بې له تا ژوند نشم کولای، ته مې لکه ساه داسې یې بې تا مرم .

ورته مې کړه خدای دې ستا پر ځای ما مړه کړې زما عمر دې هم ستا شي، ته دې ژوندی وی که زه توری خاوري یمه .

زما او د هغه د ټلیفون وروستۍ خبره دا وه چې راته وې ویل:

واده کله کوو، زه لکه د اوړي روژه دار چې روژه ماتي ته ښه تږی وي ستا واده ته داسې بې صبرانه انتظار کوم، نور غوارم انتظار مې د پای شیبې خپلې کړې تل زما په خواکې واوسي، سهار او ماښام د خوږ بوی حس کړم او پری و پایم.

ـ ورته مې کړه زه هم ورته حس لرم تشویش مه کوه چې له سفره راوګرځو ان شاء الله په سبا به واده ته د چمتوالي تیاریانې پېل کوو، دا زما او د هغه وروستۍ خبرې وې له هغه وروسته داسې کانې را وشوې تقدیر زما د ژوند کرښې په داسې یوه تیاره مزل لیکلې وې که زه هغه مهال خبره وای نو ځمکه به مې له پښو تښتېدلې وه، ما به دا سفر به ډېر قیمت هم نه و کړی، ما به د خپلې بسترې مرګ قبول کړی و خو له کوره به نه وم وتلې.

مامې له کوژدن خدای پاماني واخیسته، د واده په تمه خدای پاماني، د ژر بیا لېدو او د یوه بل په غېږ کې د ارام ساه د اخېستو د تمې خدای پاماني مو وبلله، خو زه خواره نه پوهېدم چې دا به زما د ژوند وروستۍ خدای پاماني وي نه به بیا سره وګورو او نه به بیا د کومو هېلو تمه ولرو.

سبا سهار شو مورې د سفر تیارۍ ونیوه، بکس کې مو لا د شپې د اړتیا وړ کالي ځای پر ځای کړي و، له کوره مو خدای پاماني واخیستې او روان شولو....

ناوخته تر پېښوره ورسېدو، ډېر ستړې و هوټل کې مو اطاق ونیو هېڅ ښه هوټل نه وو، چټلې بیخي پکې زیاته وه بسترې یې هم خیرنې وې، بس نو شپه وه هغه د زړو خبره د ژرندې شپه وه، تېره مو کړه سهار یې په خیرنو پیالو کې چای راوړ، له ستوني مې نه تېرېده، خو د ورور لپاره مې څه ونه ویل:

له چای و روسته مې ورور ته وویل کوم شخصي روغتون ته ځو ؟

هغه له ملګرو سره مشوره وکړه او بیا تر ټولو باوري شخصي روغتون ته لاړو، روغتون پنځه منزله و لویه حویلی یی هم لرله ښه ګڼه ګوڼه پکې حاکمه وه، دواړه د خپل مسلک ډاکټرانو ته ورغلو، هغه ته یی یوه ازموینه چی ام ، ار، أيي (MRI) ورته وایي ولیکه او ماته یې هم د سر سي ټي سکین (CT SCAIN) توصیه کړ .

ازموینه مو اجرا کړه د سبا لپاره یې د از ماینو پایلو ته منتظر کړو، موږ له روغتون بیرون ووتو، زما ورور ته یی څه د درد درمل لیکلی و تر څو شپه په ارام تیره کړي هغه ورياد شول هغه راته وويل :

ته دلته کینه زه روغتون ته ننه وځم، درمل را اخلم او بیرته په منډه راځم، ما ورته ښه وويل هغه ننوت او زه د کوڅی په یوه ګوښه کې کیناستم، ماسک مې له مخې لرې کړ، ځکه زیاته ګرمي وه، بل کله به مې چې ډېر وخت لپاره ماسک په مخ کړ نو د مزو چاپ به مې د ډېر وخت لپاره پر پوستکي پاتې کېده، مخ مې خورا نازک پوست لاره ما به ډېر احتیاط ورسره کاوو، خلک په کوڅه کې ښکته او پورته کېدل زه د خپل کوژدن سره په خیال کی لګیا وم، ښکته ځمکې ته مې کتل، له یوه نېږدې ځایه مې اواز واورېده جانو یې وويل:

مخته مې وکتل یو زلی زما په طرف راروان و وېښتان یې په ټنډه را پراته و کوچنی سترګې یې د وېښتانو له منځو مالومېدې، د ګوتو په سرو به یې وېښتان پورته کړل بیا به راولوېدل، له لومړي ځایه یې په ماکې سترګې نیولې وې ناولې بېلمازه څېره یې یوه او بلې خواته نه اړوله، ما بیرته ښکته سترګې واچولې، هغه مې له مخې تېر شو، ترې وډاره شوم، ما د سترګو له کونجو څاره، ترڅو پوه شوم څه کوي؟

لاړو که و دریده ؟

لږ مخکې پښه نیولی شوه، د سترګو له کونجو مې ورته کتل ، غرقې سترګې یې په ماکې نیولې وې د ځان پوهولو لپاره مې سترګی ور پورته کړې، هغه چې ولیدم او پوه شو چې ما ګوري نو خپله ژبه هم په شونډه تیره کړه، ځان سره مې وویل دغه د نه سرې زوی ته ګوره، موږ په څه حال یو او دی بې تربې څه کوي ؟.

ځان سره مې وویل ځه خپل کار به کوي جدي یې مه نیسه اخیر به هم لاړ شي، ما کوچنی بکس خلاص کر خپل فاسفورت مې تری راوکیښ مال چی خپل ورور ته یې ورکړم، رانه ورک نشي لږ وروسته مې بیا په خواکې غاړې تازه شوې چې پورته مې وکتل هماغه مردار خور و خلک نور هم په کوڅه کې تلل راتلل خو دی یې په کیسه کې هم نه و، نه یې د شرم سترګې لرلې، هغه زه او زما پاسفورت له نظره تېر کړ زما د پاسفورت په لیدو لا خوښ شو!

وی پیژندلم چې ددې ځای ندی او له کابله راغلې ده، هغه هېڅ ونه شرمېده راته یې کړه : کابلی ډیره ښکلې یې !

څومره پیسو ته ضرورت لري ؟

ورته مې کړه وروره له دې ځایه لاړ شه، ته غلط شوی یې بل ځای د ځان په رقم څوک و ګوره، موږ دلته د درملنې لپاره راغلي یو، یوه درنه کورنۍ یو، مزاحمت مه

کوه هغه په کوځه کې یوه او بل خواته وکتل حرکت یې وکړ، لاړ، ما هم کلیمه تیره کړه ومې ویل شکر چې له دې مردار خور خلاصه شوې، لږ وروسته ناولی بیا راغی .

دا ځل یې جرئت نور هم زیات شوی و، مخامخ راته ودرېده ښه په جرئت یې لاس به بوډیو کېښود، را ته په خبرو شو وې ویل:

لومړۍ ځل دی چې داسې یو نازک بدنه انسان گورم، ته له کومې خاورې جوړه یې مالومات راکولی شي.

ورته مې کړه:

وروره بی ادبی مه کوه، ځه لاړ شه، په خبره ځان پوه کړه، که مې ورور راغئ وهي دي، مه موږ ته جنجال جوړه وه او مه ځان ته، هغه وخندل، بیا یی وویل، دلته زموره پاچاهی ده زموږ راج ده، زموږ حکومت ده ورور به دی خپل کار کوي، یوازې د شپې قیمت دې راته مالوم کړه، چې دا خبره مې د هغه څخه واورېده نو په ځان پوه نشوم، ور پورته شوم یوه مذبوته څاپېړه مې د هغه په مخ هواره کړه، آن لاس مې پرې وسوځېده، له دې سر یې یو دروند داسې سوک پر خوله وخوږ چې سر یې د مخامخ دیوال سره ولگېده، شاته مې کتل زما ورور زما په خواکې ولاړ و، زړه کې مې وویل خدایه هیچ خور بې وروره مه کړې، سرې په ځمکه کیناست، خولې ته یې لاس کړ، وینې او دوه غبرگ غاښونه یې ورغوي ته ولوېدل چې لږ یې گنگسیت ختم شو، سم دستي له خپل ځایه پورته شو منډه یې کړه په تلو کې یې وویل مړه تاسې کابلي خو د غوایانو غوندې جنگ کوی، قدمونه یی تیز کړل، لري ځای بیا ودریده له خولې

یې وینې لاړې تو کړې مخ یې راواړو، وې ویل: زما وهل او د غاښونو ماتېدل به درته ډیر گران تمام شي ورور مې هڅه وکړه چې ور منډه کړي او یو دوه سوکان یې نور هم گرم کړي خو له لاسه مې ونیو او مخته مې پرېنه ښوده خو کله چې هغه ولیده زما ورور ور پسې د تلو هڅه کوي په منډو شو او نور زموږ له سترگو فنا شوو .

موږ د زلمي خبرې بابېزه کړې ځان سره مې وویل خه د جنگ پر وخت کې هر څوک دړکې او اخطارونه ورکوي، هسې مقابل جانب ډاروي خو واقیعت کې بیا داسې نه وي.

خو دا زموږ د ژوند لویه تېروتنه وه، باید جدي مو نبولی وای، په حقیقت کې دا یو کس نه و بلکې یو بانډ و، د یوه بانډ غړی و، داسې یو بانډ چې لاسونه یې تر پېنډۍ او لاهوره رسیدل، داسې بانډ چی پولیس او کمانډران یې خدمت کې و.

ورور مې بکس شاته واچاو له کوڅې بهر ووتو هغه راته وویل چې ځو د ترور کور ته هلته شپه کوو، ما ورته وویل نه هلته نه ځو، کوم هوټل ته ځو خو هغه بېگاني ته بیا ورنشي ډیر چټل هوټل و سم پاک هوټل ته مې بوزه ورته مې کړه، ترور کره ځکه نه ځو چې ما مې د خپل کوژدن سره ژمنه کړې هغه ته مې ویلې چې موږ هوټل کې اوسیږو.

هغه راته وخندل وې ویل څه هغه خو دې نه ویني، د ترور کور هم نېږدې دی او هم لکه خپل کور په امن کې دی.

ـ نه، که کوژدن مې نه وینې الله ج خو مې ویني هغه زما خاوند دی او زه باید په غیاب کې هم د هغه فرمانبرداره، شم زه باید په هر حال خپل خاوند ته ژمنه پاتې شم.

دا مې د ژوند بله تېروتنه وه چې خورا ډېره قیمته راته پرېوته، دومره قیمته چې جبران یې ناشونی دی، باید د ترور کره تللی وای !

زه تېروتنه ځکه ورته وایم چې دا ښه خبره ده چې مېرمن د خاوند په سپارښتنه عمل وکړي خو که په خپلو سترګو زیان پکې ویني لکه ما چې لېده بیا باید تری تېر شی له دې خبرو سره للمه سلګیو واخیسته سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، ورېږدیده، بیا ټوخي پسې واخیسته خواکې کاغذي ټوکر (ټوشیوپیپر) یې خولې ته وې ور له لاړو سره یی وینه هم په کاغذ پاتې شوه ، له دې سره هغې د خپلې بې وسۍ سترګې په ما کې ونیوې مانا یې دا وه چې زه په داسې حال یم جوړېدل مي ممکن ندي، خو ما ورته تسلي ورکړه لړ اوبه مې ورکړې ورته مې کړه د لاړو سره وینه دومره سخته خبره نه وي مه و راخطا کېږه، هغې خوله پاکه کړه، په ډېره سختۍ یی وخندل، بیا یی وویل:

نه، زه ویره نلرم، ویره هغه څوک لري چې له مرګه ډارېږي، زه له مرګه نه ډارېږم بلکې لکه اختر ورته زیاته خوښي څرګندوم، هر کلی یی کوم هغه د اوبو څکلو سره لږ را ښه شوه له بازاره مې ورته ښې ډېرې انرجیانې او پاکې اوبه راوړې وې یوه انرجي مې ورکړه ببرته یې ځواک خپل شو، په خبرو راغله وې ویل؛

ورور مې راته کړه ما یو هوټل لېدلی ډېر پاک اطاقونه هم لري او پاک چاپېریال هم لري ځو هلته ما ورته د ښه په دود سر وخوځاو، ټیکسی مو ونیوله، حرکت مو وکړ

موټر مزل کاؤ، ورور مې په موبایل کې مصروف و چې کله یې پام شو له هوټله لرې مخې ته تېر شوي وو، هغه تیکسي و دروله ترې ښکته شو د سړک د غاړې گڼې سیوري لرونکې ونې شنې وي ما ورته ویل چې کاش له ټیکسي نه وای ښکته شوي په هغه ټیکسي کې به ببرته هوټل ته تللی و، ورور مې وویل دا دوه لینه سړک دی ټیکسي چې هغه بل روډ ته بدلېږي بیا را تاویږي ډېر وخت نیسي موږ له هغه مخې رسېږو.

ورته ومې ویل سمه ده، زه ددې ونې لاندې درته کېنم سخته گرمي ده، ماته لږ یخی اوبه راواخله، هغه خوا او شاه وکتل د دوه لینه سړک هغه غاړې ته د شربتونو او نوشابو لویه مغازه یې تر سترگو شوه پر سړک ور پورېوت او لږ وروسته یې د بوتلونو کڅوړه په لاس کې د مغازي مخکې نیولې وه، ما د هوټل لور ته وکتل زموږ په دوه سوه متري کې وو جگ شپږ منزله هوټل چې مخه یی ټوله ښیښه وه ما هغه له نظره تېر کړ یو قوي درز مې واورېده، چې راومې کتل یو سړی مې ولېده چې یوه جیف موټر وواهه، د سړک څخه یی دری متره پورته کړ او ببرته په سر په سړک ولوېده خلک ورټول شول جیف موټر بریک هم ونه نیو په هماغه سپیډ کې له صحنې په و تو شو، خلکو پری غږ کړ و دریږه هلک دی وواهه خو هغه ایکسلیټر ته پښه ورکړه ځان یې وباسه، ما یوه او بلې خوا ته وکتل چې ورور به مې اوس په خواکی ولاړ وي او ترې وبه پوښتم چې هلته کوم چا یو سړی په موټر وواهه خو هیڅوک مې خواکې نه وو، گورم یو نفر په ډیره بیړه زما خواته راغی سترگې یې له وراخطایي راوتلې وې، وې ویل ستاسې نفر موټر وواهه، حق حیرانه شوم، خوله مې وچه شوه پر پښو او لاسونو مې د وارخطایي لړزه راغله له ځایه پورته شوم او بکس هرڅه په هغه ځای رانه پاتی ، ورمنډه مې کړه، هغه خلکو موټر ته جگ کړی و د موټر له ښیښې مې ور وکتل رښتیا زما ورور و ورته ځیره شوم له سپوږمو او غوږونو څخه یې وینې بهېدې، هیچ حرکت یی نه درلوده، سترگې یې پټې نیولې وې په سختی یې ساه باسله .

سیټ کی یو کس ورته ناست و زما ورور د هغه په ورون سر ایښی وو، بې واکه مې چغې کړې په سر شکولو مې پیل وکړ، ټیکرۍ رانه ولوېده پر لاره تېرېدونکې یوه مېرمن راغله د هغې هم زما په وېر سترګې لمدې وې، ټېکرۍ یې را په سر کړ او ډاډ یې راکړ چې ورور به دې ښه شي اوس د وارخطایي وخت نده د همت وخت ده د موټر مخکې سېټ کې ناست کس موټروان ته وویل چې حرکت وکړه کنه ټپي به مړ شي، هغه هم پرته له دې چې ما وخیجوي حرکت وکړ، له شا مې پسې غږ کړ:

چېرې ځی، زه مو پرېښودم، د سړک له غاړې ګڼه ګونه زیاته وه، زما غږ چا نه اوریده هغه کس چې زه یې د ورور له ټکره خبره کړم خواته راغی راته یې کړه مه خفه کېږه، زما موټر شته دروازه یې خلاصه کړه ماته یې وویل دلته کېنه زه دې هسپتال ته رسوم زړه کې مې وویل دغه ده مسلماني، دغه ده زړه سوی، هر څوک خو د هغه حرامي غوندې نه دي چې په رڼا ورځ یې د لیلام ټوکر ګڼلم او بیه یې رامالوموله خو خبره نه وم چې دا هر څه د هغې سودا او ټکر یوه برخه ده، لوکس موټر و، ور وختلم، چغو مې شا او خوا خلک هم غربو نېولي کړل، د موټر خواکې یو ځوان ولاړ و لکه ورور مې چې وي یا هم د کورنۍ غړی مال ته هم را وخیجه زړه کې مې ویل چې خانته له پردي سړي سره څرنګه لاړه شم، سخته وه راته خو ډېره مجبورې وه زه باید تر وروره رسېدلې وای د هغه خواکې وای، ډریور خپلی دروازی لاک کړې دروازې خواکې ولاړ ځوان د موټر دروازی دست ګیر ته لاس وړواچاؤ خو ډریور په ریز پښه ټېنګه کړه، ما ورته وویل: ولې دې هغه کس را ونه خیجاو.

وی ویل:

مخته موټر بیا رانه خطا کېږي، موږ باید بیړه وکړو، موټر حرکت لاره، موټړوان ته مې وویل وروره لږ بیړه وکړه، هغه سرعت نور هم زیات کړ، د ورور پټې سترګې له پوزې او غوږو د وینې بهېدل را یاد شول، بیخي مې وضعیت خراب شو، ډاډ مې څوک نه و موټروان راته هر څه و، له هغه مې وپوښتل:

ورور به مې ښه شي، ځواب یې راکړ هو حتماً ښه کېږي.

د هغه ځواب څه تسلي راکړه، لږ مخکې لاړو یو بل کس زموږ موټر ته اشاره ورکړه موټروان هغه ته موټر ودراو هغه راوخوت، مخکې سېټ کې کېناست د شیشې څخه مې مخکې وکتل هغه موټر چې ورور مې پکې و نه ښکارېده ، ډریور ته مې وویل :

هغه بل موټر څه شو؟

هغه یو او بل خواته وکتل وې ویل له سترګو مې غایب شو .

ورته مې کړه وروره ته لږ بیړه وکړه چې ورپسې ورسیږو، سر یې وخوځاؤ ویلي ببغمه شه که رانه ورک هم شي نو هغه روغتون ماته مالوم دی ور رسوم دې، مخکې کس موټروان ته اورمیږ ور اوږد کړ، په اردو ور سره وغږیده، زه په اردو هم پوهیدم خو د دوی خبرې ورو وې، سمې مې وانه وربدې، لږ پرې شکي شوم چې هسې نه دوی مې بل طرف ته بو نه ځي، ښه مزل مو وکړ، خو نه روغتون راورسېده او نه مو د ورور موټر پیدا کړ، زړه کې مې ویره پیدا شوه چې دا روغتون ولې نه را رسېږي، دا

څه کیسه ده ؟

موټروان ته مې وویل :

وروره روغتون ته کله رسېږو، زه مې چې د ورور سره نه یم هغه به ډېر وارخطا شي د هغه به زړه و دریږی، هغه وویل:

ورور دې بې هوښه دی، خپل چاپېریال سره یې اړیکې پرېکړې دي خوا او شا خلک نه پېژني نو ځکه که ته ور سره وې یا نه باک یې نشته، خو هلته روغتون کې خادمان شته هغه ورته ولاړ وي هره اړتیا یې پوره کوي .

ورته مې کړه ښه به شي ؟

ـ هو ښه کېږي.

دلته خو هسپتالونه خورا پرمختللی دی دا خو څه افغانستان ندی.

دوی لا هم روان و خو وروغتون نه را رسیده د خپل ورور غم رانه هېر شو په خپل غم کې شوم، فکر مې وکړ دوی ما تښتوي، ورته مې کړه وروره ما دلته کوزه کړئ، زه

نوره نه څم، زه به یی خپله پیدا کړم....

ـ دا دې راورسېدو، ته مه وراخطا کېږه، د کينې لاس اشاره یی ووهله له پاخه روږه تاؤ شو، مخامخ یوه روغتون مخکې ته یی موټر ودراو، د موټر له درېدو سره مې د وجود لړزه هم ارام شوه، هغه لړزه چې له وېرې راباندې راغلی وه ځان سره مې وویل شکر دی چې زما گمان غلط و د ډرېور څخه مې ښنه وغوښته ورته مې کړه خير تاسې زما په هغه خبره خفه نشئ.

زه خو ښځه ذات يم بيا په پردی وطن کې يم، هيڅوک راسره نشته، په تاسې مې بدگمانی وکړه، تاسې ماسره ځومره ښه کوی خپل کارونه مو پرېښي دي او زه څه کوم، ما وبښئ !!

ـ کومه خبره نده مورې تا درک کوو او تر هغه درسره يو چې الله ج ستاسې ناروغ ښه کړي .

په بېړه له موټر څخه ښکته شوم د مالوماتو ځانگې ته ودرېدم ورته مې کړه دلته يې اوس يو ناروغ راورې موټر وهلی وو.

له غورې او پوزې يې وينې بهېدې هغه چېرې دی؟

ـ څومره وخت کېږي ؟

ـ نيم ساعت څلويښت دقيقی؟

ـ تر يو ساعته خو د ډکر پيښه نده راغلې، خو هغه بيړنی وات ته ورشئ او خپل ناروغ پکې وګورئ.

بيړني واټ ته مې منډې کړې ډريور غبرګ را سره روان دی، هلته مو بستر وکوت خپل ناروغ مو پکې پيدا نکړ، بهر راووتم سړی هم راسره روان دی، ماته يې وويل کېدای شي هغه بل روغتون کې وي، وې ويل راځه زه دې وررسوم، د پاڼ او پړانګ تر منځ وم، وېره او هيله د دغه کس په وړاندې دواړه راسره وې، خو د عزت خيال وېره راسره ډيره وه، ما ويل چې که ورور مې خدای مه کړه مړ هم شي نو دا خو حق لاره ده موږ ټول مرو خو که عزت مې دا غداره شي نو بيا د نه ښلو يم، موټړوان ته مې وويل چې ته لاړ شه کار به لرې ماشومان به لرې تا ولې له کاره باسم، زه به يې خپله د لټولو هڅه وکړم، هغه سم تمثيل کاره وو، ځان يې داسې ونيو چې که ته ما سره وې يا نه باک يې نشته زه يوازې د مرستې حس لرم، راته يې کړه :

ـ ستا خوښه دی، زما کوم شخصي مطلب پکې نشته، که خپله ځې هم لاړه شه خو ټيکسي ونيسه ژر به دې رسوي،

ـ سمه ده ټېکسي کې ځم

ـ پیسی درسره شته

ـ هو شته

ـ جیب ته یې لاس کړ دوه زره کالدارې یې راوباسلې، ویلې دا واخله، په کار به دې شي په دې کار سره مې بیا پر بیا پر سرې د باور تله درنه شوه او فکر مې وکړ چې کس د زړه له تله غوارې، مرسته درسره وکړې او ته پرې هسې بې باوره یی، بد حس مې بیرته بدل شو په ښه حس واوښت، له موټروان څخه مې هغه ځای ته د تلو هیله وکړه ورته مې کړه که په تا نه ناوخته کیږې ما هغه روغتون ته ورسوه چې ورور مې پکې دی، پیسې نه غوارم .

ـ په سر سترګو، زه نن هسی چکر لپاره راوتلی وم موټر مې هم خپل دی له تاسره چې مرسته وکړم دا به مې بهترین چکر وي، د موټر شاسېټ ته وختم او موتر حرکت وکړ، د روغتون دروازه کې بیا هغه کس ورته ولاړ و چې د ځان سره یې را خېجولی و هغه یې مخکې سېټ ته را وخیجاو، زما بیا په ذهن کې د شک او تردید فکر انګازې وکړې، موټروان مې په ذهنې ناراحتې او حرکاتو پوه شو ماته یې مخ راواړاو، وې ویل: دا مې ملګری دی، کله، کله چې وخت پیدا کړو کډ سره کرځو، تاسې کوم بد فکر مه کوئ، د هغه له دې خبرې سره بېرته ارامه شومه.

موټر روان و خو دا ځل د موټر سرعت بيخي زيات وو ځان سره مې وويل دوی درک کړی یم چی زما ببره ده او زما د غم اندازه دوی حس کوي، زما غم خورا درووند و سمه لیونۍ شوې وم له یوې خوا مسافري له بلې خوا د ورور کوما حالت له بلي خوا د پردیو نارینوو سره شتون، لکه د سرېښو بنډ ته چې لوېدلې یم دماغو مې کار نه کاوو، موټر یو پاو مزل وکړ ناڅاپه مې د ترور کور را یاد شو چې ولې هغوی ته زنګ نه کوې ؟

ولي له هغوی مرسته نه غواړې؟

د هغوی په یادېدو لکه چې نوې ساه راکې پیدا شي دومره ډاډه شوم، لکه خپل وطن کې چې یم، تلیفون او بکسه رانه د ټکر په ځای کې پاتې وو، خو جیب کې مې کوچنی بټوه وه په هغه کې راسره زما د ترور شمېره وه، هغه مې را وباسله موټروان ته مې وویل کیداي شي ستاسي تلیفون راکړئ؟

ـ څه يې کوې؟

ـ زما خپلوان دي دلته پېښور کې هغوی ته زنګ وهم، ټلیفون یې رانه کړ بلکې راته وې ويل:

ته يې شماره راکړه !

کتابچه مې ورکړه موټروان د خنګ شیشه خلاصه کړه، تونده ګرم باد زموږ پر مخ ولګېد، د څنګ جیب ته یې لاس کړ موبایل یې را واخیست یو دوه عدده یې له کتابچې... ولیکل ما ورته کتل تونده باد ترې کتابچه په هوا کړه د موټر له ښیښې ووته، سرې سر ته ټک ورکړ بیا یې ویرجن مخ راواړاو، وې ویل له ما خو کتابچه باد وی وړه.

ورته مې کړه :

خو وروره بیرته ورپسی و ګرځه هغه شمېره ډېره مهمه ده !

ـ بیرته هم ورپسی نشو تاوېدای ځکه یو کیلو میټر به وړاندې خو بیا به هغه بل روډ ته اوړو، بیا به همدومره مزل کوو، بیا به را ګرځو دا ډېر وخت نیسي !

ما ورته کړه :

څه دومره وخت نلرو، چې تا و شو، د هغوی شمېره به بیا له خپل کوره پیدا کړم، ته هځه وکړه چې ژر روغتون ته ورسېږو.

موټر لږ مزل وکړ نور کوڅو ته برابر شو په څو کوڅو ننه وت او بیا به بلې ته شو، غږ مې پرې وکړ وروره ته ما روغتون ته وړې، موټروان زما خبره بابیزه وګڼله هیڅ

ځواب يې رانه کړ، لږ وروسته مې بيا ورته پوښتنه تکرار کړه، د موټروان څنګ کې کس راساً د څنګ جيب ته لاس کړ مخامخ يی تمانچه راته ونيوله راته يې کړه موږ ته نور ورور ونه وايي او نه کوم لېونتوب وکړې چې د خلاصېدو هڅه وکړې، کنه مرمۍ به دې له سيني وباسم.

ـ وروره دا تاسې څه کوئ؟

زه مسافره يم !

ورور مې په وينو کی لت پت دی !

پر ما رحم وکړی، ما چېرې بيايی؟

ـ ولې چې پرون دې زما د ورور خوله له وينو ډکه کړه دوه غيرګ غاښونه دې پرې مات کړل، هغه بې ريشتې دی زما غوندې غمخور او ورور لري، په مغزو کې مې ټسا شوه، ګنګس شوم، خوله مې وچه شوه له لاسو او پښو مې دمه وختله ځان سره مي وويل، للمې لکه چې اوس تبا شوي، ورور دې هم بايلود او ته هم ډوبه شوي، هغه ته مې په بنده بنده ژبه او وارخطا لړزانده غږ وويل:

ـ وروره خو هغه د بې عزتۍ خبرې کولې، بیا ما خو یوه څپېړه وواهه ما شل ووهئ خو پرې مېړدئ چې خپل ورور ته ورشم هغه به دې مرگ او ژوند ترمنځ وي زه تاسې ته کومه پلمه نه کوم تاسې هغه خپله ولیده، دوی ظالمانو زما خبری نه اورېدې، بیخي وارخطا شوم خبرې مې نورې په ژړا بدلې شوې ورته مې کړه:

زه یوه تور سرې یم په ډېر دروند غم کې یم د ورور مالومات مې نه کېږي چې مړ دی او که ژوندی د هغه سره هیڅوک هم نشته ما خوشې کړی، داسې مه کوی.

هغوی په سینه کې د تیږو زړه گرځاو، زما خبرې یې نه اورېدې او نه یې زړه دومره نرم و چې پر ما یې رحم راشي، موټر په یوه لوړ سرعت د سړک لاره لنډوله، دوی خپلو منځو کې هم خبرې نه کولی، بس خپل د سپک ماموریت ته یې دوام ورکاؤ.

ما بیا ورته وویل :

که د ورور د غاښونو غچ اخلئ له ما یې اوس واخلئ، د هغه دوه غاښونه مات دي له ما درې غاښونه وباسئ خوله مې راماته کړی، خو ما پرېږدئ، چې ټېپي ورور ته مې ورشم، تاسی به هم داسې خوندي مندي لرئ هغه سترگو ته ودروی !

ـ د موټروان د څنگ سړی په تروشه ټنډه مخ راواړاو وې ویل:

خبرې مه کوه کومه ګټه نه درته لري.

ـ خبر دی ما پرېږدئ د خپلې مور او ماشومې لور په سر قسم درکوم ماسره غرض مه لری، پر ما زړه وسوځوی، ما پرېږدئ چې ورور ته مې ځان ور ورسوم شاید وینې ته یې ارتیا وي زما وینه ورسره جوړه ده، وینه به ورکړم.

ـ په دې عبس خبرو ځان مه ستړوه، تاته مې پرون د ورور درکه (اخطار) عادي مالوم شو، هغه درته ویلې چې ستاسې دغه وهل به درته ډیر درانه تمام شي نن به مورته دغه خبر درته ثابتوو .

ـ که ستاسې خور یا مېرمن ته څوک د مرداریو ست وکړي؟ هغه به ورته چوپ پاتې شي؟

ایا چوپ پاتې کېدل به یې ضمیر ومني؟

ـ د مخې سپټ کس زما په خبرو احساساتی شو، په خپل سپټ کې شاته راتاو شو په درنه تمانچه باندې یې سر ته ووهلم، داسې دروند ګذار و داسی یو خواکمن وار و چې ممکن یو څوک تیره هم داسې بې دربغه ونه وهي ښځینه ذات خو لرې خبره ده، ګنګس شوم سترګو ته مې هر چه جال جال کېدل، پر لاسونو مې چک، چک د وینو څاڅکي راووربېدل، لکه توند باران کې چې بام کوم سوری ولري ژر، ژر څو څاڅکي غولي ته راوڅاڅي او بېرته بند شي، په لاس مې یخ، یخ ولګېدل را بیداره یی کړم

ګنګسیت مې بېرته ښه شو دواړه لاسونه مې سره وسرویل، لکه داصلي نکریزو رنګ لاسونه دواړه سره شول، بیا مې همدا مخته ورته ونیول چې ګونډې رحم یی راشي او د وینو په لیدو زما خبرو ته غوږ شي ورته مې کړه ورور مې مړ کېږي هغه سره به هیڅ څوک هم نه وي خیر دی موږ ته له خپلې تېروتني را تېر شئ ما خوشې کړی چې ورور ته ورشم !

لاس یې راواچاؤ ما فکر وکړ مخ ته مې وهي لاسونه مې ورته پورته کړل، زما د ګوتو سرونه منګولو ته ورغلل په غوصه یې تاو کړل زما د ګوتو د بندونو ترسا مې په خپلو غوږو واوریده، بیا یې وویل هغه ښه دی، نور زموږ غوږونه مه خوره .

ـ که ښه هم وي او راپه خود کې شي او زه یې په خوا کې نه یم زړه به یې ودربږي.

ـ ښا دومره غیرتي دی؟ دومره پیاوړی دی؟ زه هم غواړم چې زړه یې ودربږي او د دغه غیرت سزا ووینې، له دې پرته بله لاره هم نلري، هغه باید مړ شي .

ده خبره نوره هم غځوله چې موټروان پرې غږ وکړ مخکې د پولیسو چیک پاینټ دی، زما په زړه کې یوه هیله پیدا شوه ومې ویل ګونډې وژغورل شي او ددغه وحشیانو له منګولو ازاده شې، موټروان تونډ بریک ونیو د کریږ غږ زموږ تر غوږ راورسېده ځنګ ته یې فرعي سړک تېر شوی وو، ژر یې سټرینګ هغه طرف ته وواهه ما موټروان د شاه له خوا په ستوني کې ونیو یو لاس مې سټرینګ ته ور واچاو ورته مې کړه نشې تاوېدای، یو ښه درسره کوم، ما دلته ښکته کړی پولیسو ته هم نه وایم، پر خپل مخه لاړ شئ د تېرو ګناهونو لپاره مې ښښلي یئ، موټروان مې داسې نېولی و

چی هر څومره کوښښ یې وکړ ځان یې رانه خلاص نه کړ، مخته سېټ واله د چپ لاس څنګل ماته برابره وه، هغه له دې موقع ګټه واخیسته په زړه کې یې په څنګل و وهلم، شاته سېټ ته ولوېدم، څو شیبې خو مې ساه نه شوه کاږلی، تنفس مې ولاړ و، وروسته مې ساه واخیسته، دوی په فرعي سړک روان و، زما د سینې ګذار دومره زورور و چې بیخي یې بې دمه کړم او شاته سیټ کې څملاستم، له لږ مزل و روسته موټروان هغه بل ته وویل:

په دې فرعي لاره هم مخته دوه عسکر ولاړ دي موټروان موټر ورو کړ مخته کس ته یې وویل څه وکړو؟

هغه وویل دوه نفره دي څه چل به ورسره وکړو ته پرې ورځه، ماته یې شاته مخ را واړاو وې ویل که سپن دې وکړ په مرمۍ دې ولم، ځان سره مې وویل چې ودې ولي ښه ده له هغه چې له ځان سره دې ویسي، تر عسکرو ورسېدو، ښیښه یې ورته ټیټه کړه، په اردو یې ورته وویل چېرې ځې !

ـ نېږدې کلي ته.

ما پرې ورچغې کړې پولیسه وروره ما وژغوره، دا خلک ما تښتوي، زه په اردو پوهېدم خو ویلی مې نشوه پولیس زما په چغو حیران شو شک یې واخیست، د موټر مخې ته و درېده مخته کس له جیبه بنډل پیسې راوباسلې او د پولیس په لاس کې یې ورکړې، پولیس یوه او بل خواته وکتل چی کوم ځای قومندان نه وي ولاړ او دی....

مردار خور ونه ويني چې ډاډه شو نو پيسې يې جيب ته واچولې دوی ته يې لاس و ښوراو چل چل يې وويل موټروان ښيښه پورته کړه او په حرکت يې پيل وکړ، مخته کس سخت ظالم سړی و، به قهرجنه څهره يې سترګې راکې ونيولې وې ويل، ته موږ هم په خطر کې اچوي او خپل ژوند هم، که چوپ پاتې شې ښه به وي پر ما د پنځوس زره روفۍ و بايللې، ددې ټولو پور به ادا کوې خو څومره دې چې مصرف کم شي هماغومره اسانۍ به درباندې راځي او که سختۍ وکړې خپله به بيا سختۍ جبران کړې .

څرنګه به يی جبران کړم؟

په دې اوس نه پوهېږې چې وخت يې راشي خپله به پوه شي، بل ځل ته چوپ اوسه په چوپ پاتې کېدو کې دې خير دی، ته اوس له موږ نشې خلاصېدای که چوپ پاتې نشې نو سخته به دی شکنجه کړم .....

ما ورته کړه :

خبر دی، تاسی نه ملامتوم ستاسې د ورور ګذار سخت خفه کړې ياست او حق مو دی چې خفه شئ، څکه غبرګ غاښونه يې مات شوي دي دا غچ له ما واخلئ زما درې غاښونه مات کړی، نور پر ما رحم وکړی زه کورنۍ لرم، خيل کوژدن لرم، د مرګ په بريد کې په بستر پروت ورور راته په تمه دی .

مخته کس وویل که بل خل مزاحمت وکړي بیا دې وینې تویوم، ستا اوربېدو لپاره له مورې سره غوړونه نشته !

نوره پوه شوم چې دوی مې هیڅ زارۍ نه مني او زما د تښتولو قوي هوډ لري بې واکه را نه چغې پیل شوې، خپل خدای سره په خبرو شوم، یا الله ج نن خو په ما دري قیامته راغلي دي.

د پردی وطن قیامت !

د ورور دروند غم !

او زما قید د ظالمانو په منګولو کی یا ربه دا څه ډول امتحان دی یا ربه زه ښځه ذات ددی دربېیو قیامتونو څرنګه مقابله وکړم، څرنګه یی وزغمم، یا ربه معجزه وکړه او ددغه ناورین څخه مې و باسه، زما چغې دومره زوروري وي چې له موټروان دوه ځله سټرنګ ووهل شو نېږدې و موټر کندې ته وغورځوي، هغه نسبتاً زړه سوانده وو، خو دا بل مخته کس خورا ظالم وو، په عوض ددې چې زما په چغو یې زړه سوی راشي، هغه راته په غصه شو، دوه دری ګذارونه یې سر ته په سوکانو ووهلم وې ویل ستا دلاسه به اوس موټر چپه شوی وو، نېږدې دې د مرګ تر کومې رسولي وو، غلی کېږې که زه دې غلې کړم .

هغه قهر جنې سترگی به ما کې ونیولې وې ویل:

زه نوره حوصله نلرم چې ستا ساندې واورم، که بل ځل خبرې وکړې خوله دې ترم، د هغه له سختو سوکانو سره گنگس شوم بیخي شېمه راکې ورکه شوه نور د چیغو او خبرو توان مې نه لاره، غلی شوم، او بې سیکه مې شاته ډډه ووهله، موټر په سرعت روان و اصلی روډ ته برابر شو، دا روډ خورا پراخه و څلور لینه و د موټرونو گڼه گوڼه پکې بیخی زیاته وه، موټرونو پکې په ډیر لوړ سرعت مزل کاؤ، ما په خپل غمجن فکر کې کله کله دوی ته هم پام کېده یو موټر را نه تیر شو څو انجونه مې پکې ولېدې خولې یې له خندا ډکې وې چکې یې وهلې، څو شیبې مې فکر د دوی خوښیو ته شو، ارمان مې وکړ ځان سره مې وویل :

کاش د هغه انجونو سره وای ما هم د هغوی په خبر خوښي لمانځلي، ومې ویل هغوی څومره بختوري دي ازادي دي د چا د منت لاندي ندي خپلې خوشحالی کوي، زما په خبر ندي زه لکه بی گنا مرغۍ د ځناورو شرمخانو په قید کې یم خپل واک مې پردی شوی دی .

بس د خدای ج په یوه ازمایښت کې راگیر وم، هره هېله مې پرې شوې وه، یوازې د خدای ج هیله راپاتې وه، مخته سړک ته مې وکتل دعا مې وکړه، وایم خدایه ج یو رحم وکړه کوم چېک پاینټ و دروه او ما له دې ظالمانو څخه وژغوره .

خو نه پوهېدم چې ولې مې دعا نه قبلیده، ډیر مزل مو وکړ د عسکرو کومه پوسته راونه رسیده یو ناڅاپه موټر له خپل مسیره کور شو مخته کس موټروان ته وویل

څه وشول هغه ځواب ورکړ فکر کوم ټایر فنچر شو موټر یې څنګ ته و درراؤ، مخته کس سر وښوراو، بیا یې وویل دا هم نو د فنچرېدو ځای وو،

دوی له ښکته کېدو مخکې زما پښې او لاسونه وتړلې، بیا دواړه ښکته شو ژر ژر یې د ټاېر بدلېدو هڅه پیل کړه، د ګټې ګوښې سړک و ډېر موټر ښکته او پورته به سرعت روان وو، ځکه سړک داسې جوړ شوی وو چې باید پکی هر موټر لوړ سرعت ولري زما غریبي ته د هیڅ چا پام ندی چې راوګوري او زه د زړه حال ورته ووایم دوعا کوم چې یا ربه څوک پیدا کړې ترڅو ما وګوري او له دې ظالمانو مې خلاصه کړي، د ټاېر وروستۍ چوړې یی هم ټینګه کړه، مخته مي یو موټر سایکل واله و درېده، هغه هم د خپل موټر سایکل په ټاېر شکي و چې پنچر نه وي، هغه خپل د موټر سایکل ټایرونو ته کتل او ما دوه سترګې په هغه کې نیولې وې په بندو لاسونو مې ښیښه ورته وټکوله زما سره نږدې ولاړ و، را پام یې شو له ښیښې مې دواړه لاسونه ورته وښودل چې بند دي، هغه په بېړه د موټر سایکل څخه ښکته شو زما په لوري یې رامنډه کړه چې را نېږدې شو زما د دروازې د خلاصېدو هڅه یې وکړه دروازه بنده وه، ورته مې کړه زه دغو کسانو را تښتولی یم لطفاً مرسته راسره وکړه، دوی دواړو چې هغه ولېده نو سرې یې له ورمېږه ونیو ورته یې کړه ته څه کاره یې چې د پردیو ناموسونو د موټر دروازې خلاصوی هغه ورته وویل غلو، انسان تښتونکو کله مو خپل ناموس دی، خپل ناموس څوک په موټر کې داسې تړي .

- ظالم کس جیب ته لاس کړ وسله یی ورته وښوده، ورته وې ویل :

- ګوره خپله لاره وهه کنه وژنم دي

ـ هغه ورته وویل زه افغان یم له مرگه ویره نلرم، سل ځله دی زما سر د یوې تورسرې
د عزت نه قربان شي، له موټره مې ور نارې کړې وروره زه هم د افغانستان یم افغانی
یم، خدای ج ته وګوره ددې ظالمانو څخه مې خلاصه کړه کس خدای ج خبر زما خبره
واوریده کنه خو د موټر شاته لاړ او د موټر له پلېټ څخه یې انځور واخیست
موټروان هغه بل ته وویل چې سړی ووله ستونزه جوړوي که نوره تماشه د لارې روان
موټر وګوري نو خلک را ښکته کېږي او نیول کېږو، هغه بل هم موقع کتله چې کله هم
د راتلونکو او تلونکو موټرو فاصله زیاته شوه سړی یې په وچه کړی٫ وویشت د
بیچاره ماغزه باد، باد شول، سړی ولوېده او دوی ایکسلېټر ته پښه ورکړه د سړي به
لېدو زما زړه هم بل رقم شو د هغه په ژوند بایللو و دردیدم، په ژړا شوم چغې مې
پیل کړې ورته ومې ویل اي خلکو !!!

تاسې خو بسته یو انسان مړ کړ، تاسې په سینه کې زړه لرئ او که تیږه، ولې مو یوه
تور سری کونډه کړه ولې مو د یوه کور ور راپوري کړ، وحشیانو هغه به واړه
ماشومان لري، کورنی٫ به لري او تاسې د هغوی نه د سر سیوری واخیست، هغوی ته
دا خبرې ترخې وې، نه یې خوښېدې د دوی له لاسه مې یو ځواکمن سوک په سر
وخوړ سر راباندې وګرځیده نوره په ځان پوه نشوم چې څه وشول، یو وخت مې
سترګې وغړولې، پاخه چت سره ونیښتې، یو او بل لوري ته مې وکتل، پکی راته
چلان وو یوه مېرمن مې خواکې ناسته وه هغې مې پښې او لاسونه موښل، لومړی٫
مې فکر وکړ ما خوب لیدلی او دا هرڅه مې په خوب کې لیدلي دي، خو چې په ځای
کې راکیناستم خوا و شا مې ښه له نظره تېر کړل مېرمن مې ولېده بیا یوه او بل
دربچیو ته ودرېدم، پوه شوم چې خوب ندی، نه کوم خیال دی، هر څه رښتیا دي،
کاش خوب وایی او دا قیامت مې په ژوند کې نه وای راغلی، کړکیو ته پورته شوم له
دربچیو لرې، لرې کورونه مالومېدل ددې کور خواکې هیڅ کوم کور نه وو له انګړه د
مېښو د رمبارو اوازونه راتلل چوپه چوپتیا وه، مېرمنې ته مې وویل دا کوم ځای دی
هغه په پښتو پوهېده، خو ویلی یی نشوه، زه بیا په اردو پوهېدم خو ویلی مې

نشوه، ځواب يې په اردو را کاوو، راته يی کړه زه اجازه نلرم چې تاته ددې ځای ادرس ووايم.

هغه را نېږدې شوه په مخ يې ښکل کړم په اردو يې وويل تم کيتني سوندر هو، يانې ته څومره ښکلې يې..!

ـ ما ورته وژړل ورته مې کړه ايا زما ښکلا دې په دې خلکو لورېږي، ما د دې خلکو وړ بولي لطفاً ما له دې خلکو وژغوره، ته هم يو ښځه ذات يې ما ښه درک کولی شي، ما سره مرسته وکړه، دا خلک له ما څه غواړي، ورته ووايی چی ما خوشې کړئ په بدل کې به چې هر څه غواړې زه به يی ورکړم، زما ورور په ټپي حالت کې په روغتون کې دی او زه دلته بی سرنوشته پرته يم... .

ـ زه هم نه پوهېږم چې دوی له تا څه غواړي دا به وروسته مالوم شي، خو ته صبر ولره، خدای ج به هر څه سم کړي، دوی دا کور په ګروي نېولی او زه دلته خادمه يم، له ما څخه يې کلک ضمانت اخيستی دی چې ددې ځای رازونه به ساتی دوی اصلاً د انجونو د تښتونې کار او بار کوي، هغه چې ډېرې ځانګړې وې دلته يې راوړي، خپل عيش او عشرت ور سره کوي، کله چې د دوی ارمانونه پرې ووځي بيا يې په نورو خرڅوي، ددې خبرې له اورېدو سره مې پر بدن د وېرې يوه لړزه خپره شوه ځان سره مې وويل للمې لکه چې دنيا خو د برباد وه اخرت دې هم برباد شو.

هغی ته مې وويل خير دی ما وژغوره، ځواب يی راکړ، زه خپل ځان نشم ژغورلی تا به څرنګه وژغورم، ځکه دوی زما هم دلته پښې او لاسونه را تړلی دی، ورته مې کړه

چې دا کوم ځای دی؟

هغه چوپ وه له خولې يې څه نه راوتل بيا مې ورته وويل:

خبر دی زما لپاره يې ووايه، هغې يوه او بل خواته وکتل ور يې خلاص کر بيرون يی هم ننداره کړ، بيا راننه وته، ځواب يی راکړ، دا راولپينډۍ دی خو زما له خولې چې دوی درنه خبر نشي، مېرمن ووتله او ور يی را پسی قلف کړ، د اطاق کړکيو ته مې پام شو ځان سره مې وويل مخکې له دې چې د دوی ناولي لاسونه ماته را رسېږي له دغه کړکی ځان اچوم او له دوی ځان خلاصوم، اراده مې وه چې په سر ځان ښکته واچوم سر مې د ځمکې سره ولګېږي او ځای پر ځای مره شم، د کړکۍ مخې ته چې ودرېدم ښه غټ، غټ سېخان پکی تېر شوي وو، ښه مسلکي تدابير يې نيولي وو د لوېدو او تښتېدو هيچ چانس پکې نه وو، د مېرمنې خبره مې زړه ته ولوېده چې دا خو مسلکي ظالمان دي او زه يې منګولو ته لوېدلې يم .

لږ وروسته زما د دروازې قلف خلاص شو، دروازه پرانيستل شوه، چې سترګې مې ورپورته کړې هماغه ځوان راننه وته کوم چې زما د ورور زورور سوک يې په خوله خوړلی و، شونډې يې د خندا لپاره سره بېرته شوې، کنډواله غاښونه يې راښکاره شول...

زړه کې مې وويل، زه څه خبر وم چې ته دومره رزيل انسان يې کاش زما ورور مې در پريښی وای او په سوکانو يې ساه درنه باسلی وای، راته يې کړه د خپلې ښېرې زور دې وليده ؟

ـ هو ومې لېده په رښتیا تاسې زورور خلک یاست خو تاسې په یوه تور سرې زور بر دی، دا کوم غیرت دی؟

کومه پښتو ده ؟

او کوم وجدان دی ؟

ـ دا تور سری نده بدماشه تور سری ده او موږ بیا خپله بدماشان یو بل چاته ددې اجازه نه ورکوو چې بدماشي وکړي.

ـ ستاسي بدماشي تر انجونو او مېرمنو محدوده ده، زما ورور د یوه سوک سره ما ستا بدماشي ولیده، چې ځرنګه په تېښته بریالی شوی، خدای ج خبر زما ورور به اوس ژوندی وي او که شهید شوی به وی.

ـ مرہ یو خو تاسې افغانان په شهیدانو مارہ نشوی، شهید دی او شهید دی، دغو شهیدانو تاسې ته څه ګټه وکړه.؟

ـ د شهیدانو په ارزښت هر دوس او دله نه پوهېږي د ټولنې هغه خلک یې په ارزښت پوهېږي چې خپلواکي خوښوي، آزاد ملک غواړي د پردیو جوغ یې غاړې ته نه وي لوېدلی.

ـ امممم ، ټیک شوه، ته دې اوس د هغه شهید ورور پوښتنه هم وکړه کنه چې څه ور سره وشو، یو سوک په څومره زیان ورته تمام شو ؟

ـ هغه مو څه کړ ظالمانو تاسې په سینه کې زړه لری ؟

ـ هو زړه لرو، چې څوک سپکاوی راته وکړي مونږ بیا هغه سم سیک کوو.

ـ زما ورور مو څه کړ، اوس چېرې دی؟

ـ په خپله سزا ورسېده، د هغه موټر وهنه کوم تصادف نه و مونږ په موټر وواهه، په یوه تیر مو دوه ښکاره وکړل، هم مو ستا دې تښتونې پلان پکې اجرا شو او هم مو د هغه نه غچ واخیست.

ـ د خدای ج لپاره اوس هغه چېری دی؟

ـ مړ شو د سړک غاړې ته مو واچاوو او بیا خلکو خښ کړ.

ـ ددې خبرې سره په ځان پوه نشوم په سرې مې ورمنډه کړه په ستونې کې مې ونیو، نه پوهېږم دومره زور مې له کومه کړ ددېوال سره مې پورته کړ رډې رډې سترګې یې را وختې، سرې چغې کړې، د ده فریاد د دروازې ساتونکو واوریده، په بیړه راغلل او سرې یې رانه وژغوره، د زلمي ستونی یې زما له منګولو خلاص کړ، زلمي غاړې ته لاس کړ په ټوخلې یې پیل وکړ وروسته یې ساتونکو ته وویل دا انجلۍ نده ځناور ده له دې سره پام کوئ له دې خبرې سره ټول له کوټې ووتل، ور یې را پسې قلف کړ.

پر اطاق کې مې د خپل ورور ښکلی ځواني، کاکه شخصیت، د غیرت لوړه مرتبه را په یاد شوو بیا د ده دغسې ناځوانمردانه مړینه را یاده شوه.

بیخي مي وضعیت خراب شو په زوره زوره د چغو وس راکې نه وو خو اوښکو مې د باران په څېر د هغه د مړینې غمرازي بدرګه کوله ځان مې ښه په ژړا سترې کړ لږ وروسته مې خیال د خپلې کورنۍ په فکر کې شو ځان سره مې وویل زموږ کورنۍ مور او پلار به څومره بې غمه وي چې دوی درملنې ته تللي او خبر به نه وي چې زوی یې له تورو خاورو لاندې دی او لور یې د مرګ نه بدتر حالت کې بې سر نویشته بندیوانه ده، د چغو توان مې پیدا کړ، څو مې چې په ستونې کې توان و چغې مې وکړې، د دروازې ساتونکي راغلل د هغوی هم سترګې رډې، رډې ختلې وې، په اردو یې تسلي راکوله خو زما چغو او فریاد ټول کور په سر اخیستی وو، هغه چې پوه شول زموږ مېنتونه ګټه نه کوي نو چغو ته ټینګ نشول، ژر ووتل او ور یې راپسې قلف کړ خپل کوژدن مې را په یاد شو چې هغه به اوس زما په خیالونو کې ډوب وي، زما د واده لپاره به د ښو مراسمو جوړېدو فکرونه کوي خبر به نه وي چې هر څه یې

په اوبو لاهو شوي دي، مینه یې اوس په داسې یو قفس کې بنده ده چې د خلاصون لپاره یی هیڅ چاره نشته، ښه مې چې په ژړا ځان سترې کړ، ذاتي نوره شېمه هم راکی ختمه شوه ژړا مې بس کړه للمې خپله کیسه تر دې ځایه راورسوله....

ما ښکته کتل للمه خاموشه شوه .

سر مې ور پورته کړ مړې، مړې اوښکې یې له سترګو تویدي، راته وې ویل ددې صحنو تېرول خورا سخت و، ددې صحنو ویل اسان دي، خو عملاً تېرول یې دومره سخت دي چې د انسان هډوکي ماتوي .

للمي وویل:

زه خورا سترې شوم ذهن مې هم بیخی ناسازه شو، ته اوس لار شه زما وضعیت بیخي بل رقم شو که ژوند باقي وو نوره کیسه سبا درته کوم.

ما هم هغه نوره ټینګه نه کړه چې کیسې ته دوام ورکړی، ځکه پوهېدم د کیسې له ویلو ډېره ځوریږی او نوره د خبرو تاب نلری.

څه درمل مې ورته توصیه کړل راته وی ویل درمل ددی لپاره خورم چې تا ته د خپل حال ویولو جوګه شم کنه ژوند سره مې علاقه نشته چې نوره دې نړۍ کې واوسم، ما د خپل وس تسلۍ ورکړه نور تری رخصت شوم .

سبا لکه لیونۍ کار ته هم نه لاړم راساً د للمې کور ته راغلم، هغې نوې جامې اچولې وې پرجاینماز ناسته وه لاسونه یې لپه کړي و، سترګې یې پټې وې خدای ج خبر څه دعاګانې به یې کولې، لپه لاسونه یې تر ډېره نیولی و، څهرې یې جلوې کولې سم نور ترې وربېده، زړه کې مې تېر شول دغه ظالمه په دې ناروغۍ او دومره ستونزو ګاللو کې داسې ښکلې بریښي خدای ج خبر چې له دې مخکې به څرنګه ښه ښکارېده، هغی پرمخ لاسونه را کش کړل، خپل ځای ته وښویده څکه د جګېد و تاب یی نه درلوده .

سلام مې ورته واچاو

علیکم سلام یې وویل

ـ نن څرنګه د معمول خلاف وختي راغلي ؟

ـ نوي در مل مې هم درته راوړي دي او بل ډېر لېواله یم چې ستا د ژوند کیسه واورم.

ـ کیسه واوره خو د درملنې ډیره هڅه مه کوه.

- ولي ؟

- په اخیر کې یې لامل درته وایم او ته به هم له ما سره موافق شي چې زه په حقه یم....

- دا نو څرنګه خبره ده چې ته یی کوی؟ داسی به څه وي چې زه هم درته ووایم درملنه مه کوه، او مړه شه، خدای ج مرضونه نازل کړي دي او درملنه یی هم بندګانو ته ښودلې ده که یو کس ناروغ وي او درملنه نه کوي ممکن ددې پوښتنه الله ج تري وکړي.

- زه ډاډه یم چی مانه به الله د درملنې د نه کولو پوښتنه نه کوي.

- زه خو نه پوهېږم ته څه وایي .

- اخېر کې به خپله پوه شي.

- ښه سمه ده اوس کیسه راته کوی ؟

ـ هو ولې نه زما هم دغه ته تلوسه ده، ډارېږم چې مړه به شم او کیسه به رانه پاتې شي ځکه ژر، ژر غواړم خپل د ژوند حال درته ووایم ممکن ځینو ته عبرت شي، ما چې کومې تېروتنې کړې دی هغه دوی و نه کړي او خپل ژوند یې زما په خبر نشي، هغې لږ ناستي ته ځان برابر کړ په خبرو یې پیل وکړ.

زه په همدغه کور کې اوسیدم زما د اوسېدو دالته دویمه اونۍ وه چې بیا هغه ناولی کس چې زما ځواني مرگ شهید ورور یې غاښونه مات کړي و کوټې ته راننه وت، مسکی، مسکی کېده، ده تمه لرله چې زه هم ورته و ځاندم او غیږ کې یې ونیسم، خو ماته یې مخ له گندگی بدتر مالومېده د څهرې د لیدو تاب مې نه لاره مخ مې بل طرف ته ترې واړاوو، دی هم هغه طرف ته راپسې راواوښت راته یې کړه.

ته خومره ضدي یې نور ضد پرېږده، که زما له غاښونو کرکه لرې سبا مې نوي غاښونه رارسېږي ډاکټر یی راته ږدي بیا به ښه ښکارم، له ما ښه ځوان نشې پیدا کولی، ورته مې کره :

ته له ما څه تمه لري؟

غاړې ته دی گلان درواچوم، لاسونه درته اوچت کړم.

ځکه چې یوه بې گنا پېغله دې راوړه یرغمل دې کړه، د گل په شان ورور دې ورته وواهه هغه په بدل ددې چې روغتون ته ویسې د سرک په غاړه دې واچاوو، ودې

واژه ؟

اه !

ته څرنګه انسان يې څرنګه مسلمان يې ايا ته خپله خور مور او ورور نلرې د هغوی سره چې څوک داسې چلند وکړي په تا به څه تېريږي؟

خپله غوښه کش کړه د هر انسان داسې خوږېږي.

هغه په بدل ددې چې زما په خبرو لږ سوچ وکړي او ضمېر ملامت کړي کټ کټ په خندا شو وې ويل که ملا وای سختې مسلې به دې کولې ان خلکو به درته ژړل .

ورته مې کړه:

ـ تا سره بحث عبس دی !

ځکه تا ضمېر پلورلی !

تا ايمان له پښو لاندې کړی . !

تا مسلماني له خاورو لاندي کړی.

ته د انسانيت له چوکاټ څخه بهر شوی يې !

څه ښه يې ويلي دي انسان د انساني چوکاټ د ننه انسان دی کله هم چې له خپل چوکاټه ووځي بيا بل څه ترې جوړ شي، داسې څه چې درينده حيوان هم پرې شرافت پيدا کړي، ته هماغه درينده حيوان يی.

له ماسره مو د خواخوږي تمثيل وکړ، زه مو تېرباسلم او برمته مو کرم !

دا کومه پښتو ده؟

کوم ضمېر ده ؟

کوم ايمان او کوم وجدان ده؟

راته یی کړه ته راشه ددی دربچیو څخه بهر وګوره زه درته یو څه ښایم زه هم پورته شوم ترڅو پوه شم زلمې څه وایی، مخامخ یی ګوته ونیوله هغه لرې کلا ګوري ؟

ـ هو

ـ تر هغه ځایه دا سیمه زموږ په واک کې ده ما مخ وروارا و ترڅو ورته ووایم چې په همدی مردارو پیسو مو اخیستی یا مو ګرو کړی ده، هغه لکه پیشو چې موږک ته غلي وي، همداسې یې موقع ته کتل د مخ اړولو سره یې یوه کلکه مچکه راڅخه واخیسته، بیا را څخه لرې لاړ په یو کونج کې ودرېده په خندا شو، بې حده زیات خوښ شو په ټوپونو یې دا خوښي لما نځله راته یې کړه !

کابلۍ څرنګه ورېښمین مخ لري ؟

زما زړه اور واخیست، ما ویل کومه مرمۍ مې د مخ له غوښو تیره شوه خپل کوژدن راته یاد شو ځان سره مې وویل دا مخ خو تا خپل کوژدن ته داسې ساتلی وو، لکه مات لاس چې سړی ساتي، اخخ للمي څومره په اساني دې پاک مخ له لاسه ورکړ وجود کې مې یو ډول جذبه پیدا شوه یو جوش پیدا شو نه پوهېږم څه ډول مې ځان کنټرول کړ، ترڅو هغه راباندې پوه نشي او ددې جرم غچ ترې واخلم ورته مې کړه مخامخ راته و درېږه یوه مچکه خو دی واخیسته، دا بله زه به خپله خوښه درکوم، زلمي له خوښي وخندل او دارې یې ښکاره شوې، بیا یې څو ټوپه له خوشحالۍ واچول، بیخي زیات خوښ وو، مخامخ راته و درېده، خدای ج خبر چې زما په وجود کی به څومره د انتقام جزبه وه، هغه مې په یوه ډېره ځواکمنه لغته د

پښو په منځ کې وواهه، ور پسې مې بله لغته هم پرې خښه کړه، زلمي چغه کړه د افو، افو په لفظونو یې پیل وکړ، دواړه لاسونه یې په غولنګو کې سره ننه باسل لړ شیبه وروسته یې سره لاسونه له غولنګو راباسل، چغه یې کړه، هله راشئ مړ یې کړم، بیرون ساتونکو یې غږ واورېده لږ وروسته یې ورور (ذاهد علي) او خادمه حاضر شول سرې څو شیبې ولاړ و بیا یې دسترګو تور شاته لاړل سپین پکی راځرګند شول او وزنګیده پر ځمکه ولوپده ورور یې وویل کابلۍ څه دې پرې وکړل ورته مې کړه کله چې په هوش راشي خپله درته کیسه کوي. د ګل خان اولاده .

هغه د خپل ورور بد حالت وارخطا کړ له هغه یې لاسونه لاندې کړل خپلې غیږې ته یی راپورته کړ ماته یی په قهرجنه څهره مخ راواړاؤ، وې ویل:

ددې کار حساب به وروسته درسره کوم، تا له تیرو درس ندی اخیستی، له هغوی بدتری در سره کوم، اوس مې ورور روغتون ته وړم ، ورته مې کړه:

زه له کومې سزا نه ډاریږم، لویه سزا به د مرګ وی او زه په خوښي هغه قبلوم، چې صرفه ونه کړې څه چې کولی شې وې کړه بلکې زه به مننه هم در نه و کرم ....

هغه ووتل او په ماپسی یی ور بیا قلف کړ.

یو کونج کې کېناستم، پر خپل دې ارزښت چې له لاسه مې ورکړ، پاک مخ رانه ناولی شو او خپل کوژدن ته وجداني خجالت شوم داسې مې محسوس کوله چې هغه کتلې

يم او ما دا کار کړی، سخته وځوریدم او ځان مې ملامت کړ، خو په یوه شي ډاډه شوم چې ما هم داسی سزا ورکړه چې د ځان په خسي کېدو به ورته تمامه شي، ان شاء الله چې د تل لپاره مې د اولاد له زیګولو و باسه، ورځ تیره شوه ماښام ته نېږدې وخت و چی خادمې ور را خلاص کړ وې ویل، انجلۍ دا تا څه کړي دي؟ دا خو به تاته لوی زیان وکړي، ته خو اوس دلته اسیره یې ته باید د دوی د خوښي مطابق کارونه وکړې، کنه په لوی تاوان به درته تمامه شي.

ـ ولې ما څه کړي ؟

ـ د هغه کس څخه ډاکټرانو دواړه خسي (هګۍ) لرې کړي دي، دومره ضربه یې لېدلي وه چې دواړه چودلې وې د روغېدو چانس یې نه وو.

ـ ما دواړه لاسونه پورته کړل اسمان ته مې وکتل بیا مې بې واکه شکر الله ج ته و باسه، ځان سره مې وویل که پوره مړ نشو نو نیم خو مې خامخا وواژه هم مې د خپل عزت او هم مې یوه څه د ورور انتقام ترې واخیست د یوې پښتنې مچکه ده ته هم ارزانه تمامه نه شوه، زما خبری خادمې اورېدي هغي وویل:

ـ انجلۍ ته لیونۍ شوې یې دا خلک به دې مړه کړي.

ـ مرګ خو زه هم غواړم، زه له مرګه نه ډاریږم او که ما مړه کړي نو زه به یې احسان هم ومنم.

ـ انجلۍ زما زړه درباندی بدیږي تر اوسه ځوانه یې لا دې یو ارمان هم ندی ختلی، لږه گوزاره کوه.

ـ د څه شی گذاره و کرم زه نه پوهېږم چې دوی به مخکې پر ما څه وکړي ځومره به مبې د خپلو هوسونو ښکار کړي، ځومره سوداوې به راباندې وکړي، ځکه زه ځوک نلرم، یوه بی وطنه پېغله یم کورنۍ هم له ما خبره نده، د پوښتنی مې څوک نشته نو چې مړه شم او په عزت کی مړه شم دا ماته زر ځله بهتره ده د هغه ژونده چې له شرافته لرې وي هغې زما هره خبره د زړه په غوږو اورېده او خوند یې ورکاو، هغې راته کړه:

ـ لورې ته ښه وایی آفرین دې ستا په غیرت وي کاش دا غیرت ستاسې کورنۍ لیدلی ځومره ویارې به یې دربانډی کاوو....

ـ زه دا کار یوازې د کورنۍ لپاره نه کوم، زه د الله ج بنده یم د هغه د امر تابع یم زه د خپل رب مطابعت کوم دا هرڅه الله ج گوري او ان شاء الله د خپل وس مطابق به خپلې هڅې جاري ساتم....

غرمه یې ډوډۍ نه وه راوړي او نه زما زړه ته کېده، خو سخته گرمي وه ډېره زیاته تږې وم له خادمې مې وغوښتل چې لږې اوبه راته راوړي، هغې وویل د ټپي ورور ذاهد علي سپارښتنه کړې چې تر ماښامه هرڅه پرې بند دي. ماښام چې زه راشم نو زه بیا اوبه او خوراک ورته تیاروم، دې خبري وډاره کړم، ځان سره مې وویل دا څرنگه خبره ده، د هغه ورور مې هم دې حالت ته ورته ورساو او بیا عزت هم راکوي

ږوړۍ به خپله را ته تیاروی !

ځان سره مې وویل :

هسې نه په خوراک کې څه درته وانه چوي؟

خادمې ته مې وویل خیر اوس خو هغه نشته ژبه مې په خوله کې درېدلې ده لږې او به راکړه، هغې وویل سل وارې به مې درته راوړې وې خو هلته دروازه ساتونکي دي، هغه مې ځاري، که دا خلک خبر شي چې ما یې له امره سرغړونه کړې نو ډېر بې رحمه خلک دي.

ـ نو ته ولې له دې بې رحمو سره کار کوې ولې حرامې پیسې په اولاد خوري ته خو ماته یو ښه انسان مالومېږې؟

ـ لوري دوی زموږ ټول پټی ګرو کړی دی .!

زه کونډه یم زما یو کوچنی زوی چا و تښتاو بیا دوی راته وویل :

چې موږ یې درته را خلاصوو، غلو شل لکه روپۍ غوښتې ما سره یوه روپۍ هم نه وه بیا دوی راته وویل:

شل لکه کالداري موږ ورکو، زوی دی را خلاصوو، خو ځمکه به دې له موږ سره گرو وي او ته به هم کار راسره کوې موږ معاش درته مقررو، تر هغو به کار راسره کوې، ترڅو دا پیسې خلاصې شي .

اوس له ډېرې مجبورۍ دوی سره کار کوم، تا غوندی زه یې هم یرغمل کړې یم.

ـ ممکن ستا زوی هم دوی خپله تښتولی وي او هېڅ پیسې یې نه وې ورکړې.

ـ بس په دې خدای ج ښه پوهېږي، موږ خو ساده خلک یو د چا پر چالونو نه پوهېږو اوس خو یې له موږ ځمکه گرو کړې او زه یې هم له ځان سره کار کولو ته اړ کړې یم.

ورته مې کړه:

ته په پښتو ښرنگه پوهېږې، حال دا چې ستا مورنۍ ژبه اردو ده، هغې تنگی ورې سترگې مسکا ته جوړې کړې بیا یې وویل:

دلته مې زده کړې ده له دوی سره دا پنځه کاله کار کوم ته دلته لومړنۍ پښتنه انجلۍ نه یې چې دوی راوستلې یې د دوی به اصطلاح انتیک مالونه دلته راوړي....

له تا مخکې یې هم ډېرې انجونه دلته راوستلې دي، هغوی هم پښتنې وې.

ـ هغه انجونه بیا څه شوی؟

ـ نه پوهېږم څه شوې دلته له دوی سره وي، کله چې دوی پرې ښه ماړه شي، بیا یې له دې ځایه یې وباسي ماته مالومات نه راکوي چې چېرې یې وړي.

ـ څومر وخت بعد دلته راغلی انجونه له دې ځایه وړي ؟

ـ دوی دلته ورسره عشقونه وهي، کله چې تر ماړه شي، یا هم دوی ته بې ارزښته شي بیا یې له دې ځایه باسي بل ځای ته یې وړي.

ـ دا ځای خو د ښار یوه برخه ده، ولی دلته پولیس نه راځي، دغه ځای کې شته جنایت له منځه نه وړي ؟

ـ دوه خله راغله دا کور یې تلاشی کړ، خو دوی په پولیسو کې دستوري کسان لري کله چې د چاپي وخت راشي، هغه خبر ورکوي چې انجونه وباسئ، په تاسې چاپه اچول کېږي.

ـ خیر دی یوه مرسته راسره وکړه !

ـ د څه مرسته ؟

ـ ته به هم لورګانې لرې او یوه مېرمنه یی، زما په درد پوهېږې، ماته زمېنه برابره کړه چې له دې ځایه و تښتم !

ـ نشم کولی لوری، کاش دا کار مې کولی شوای، زما د اولادونو بسته ژوند ورسره ګرو ده هغه کوچني دي ډېوله ځمکه مو د دوی سره ګروده ان چې پکې اوسېږم هغه کور هم دوی سره ګرو ده، که زه دا کار و کړم زما به مرګ وي او اولادونه به مې د سړک په سر ژوند کولو ته اړ شي، له ما یې همداسې ژمنه اخیستې ده، که لږ سرغړونه وکړم، نو بیا له ما نه ته ښه پوهېږې چې دوی به څه راسره وکړي، ما هم ددې په حالت زړه و سوځېده نور مې اسرار ونه کړ چې مرسته راسره وکړي .

ماښام تیاره شوه زه هم تشناب نبولي وم په کوټه کې تشناب نه وو، په ډېره سختۍ به د ور ساتونکو اجازه راکوله چې تشناب ته لاړه شم، هلته به یې هم پنځه دقیقی وخت راکاو، چی وخت به پوره شو دروازه به یی د ځناورو په ډول راوهله د ژر

راوتو گواښونه به یې کول څو ځله مې ورته زارۍ وکړې چې لږ فرصت راکړی زه به اودس و کړم خدای ج ته به زارۍ وکړم لمونځ به وکړم په ځواب کې به یې ویل :

دا خو مسجد نه ده کور ده، راته ویل به یې هغه مخکې دي چې کوم لمونځونه کړي دي هغه بسنه کوي بهر تشناب ته ووتم هڅه مې وکړه اودس هم وکړم خو دي ظالمانو پریښودم، که لږ به ځنډ شو بیا به یی د ټوپک په کنداغ وهلم، له تشنابه راغلم د تشناب مسولین مې نارینه و هغه خادمي باندې د دوی باور نه و ممکن ډاریدل چې له هغې به وتښتي.

ماخوستن شو په زړه پوری کباب تیار شوی و او خادمې زما مخکې کېښوده اوبه یې هم پرېمانه راوړی، بی حده زیاته تږې شوې وم او دا څو ورځی مې هیڅ خوراک نه و کړی، څو شیبې مې هر څه له یاده ووتل، کور کې به مې مور راته یو کباب پخاو ډیر ښکلی بوی به یې کاو چې په هغه ساعت د ډوډۍ خوړلې وه هم ورته وږی کېدي، زه هم هغه خیال کې لاړم، وږې شوم تږې خو بې حده زیاته وم، یوه ښه گوله مې راواخیسته او په ښه اشتها مې پورته کړه چې خولې ته مې نږدې کوله خادمې غږ را باندې وکړ، لږ احتیاط وکړه .....

ـ د هغې په خبره لکه سږی چې له خوبه را پاڅیږي، را په خود شوم گوله مې بېرته به سترخوان کیښوده شا اوخوا مې وکتل نه مې مور خواکې وه او نه مې نازولې خور د خوږو ست راته کاو یوازې مهربانه تورمخی خادمه راته ولاړه وه اشتها مې بېرته وسوځیده ځکه پوه شوم چې ته کور نه یې بلکې په داسې یوه کیشتی کې ناسته یې چې طوفان پسې اخیستې او هره لحظه یې د ډوبېدو امکان شته.

هغي راته وويل:

زه يوه د راز خبره درته کوم او په دې پوه شه چې دا هرڅه د ژوند به قيمت درته بيانوم که دوی په ما پوه شي چې زه تاته راز درکوم بې له مرگه مې نه پرېږدي، وژنې مې !

ـ د راز خبره څه ده ؟

ـ دوی زياتره هغو انجونو ته چې دوی سره په لاره نه ځي او مقابله کوي لومړی هغه ښې وږې کوي، بيا ښه خوارې ورته تياروي، بهترين کباب ورته تياروي، خو په هغه کباب او خوړو کې د بيهوشۍ درملو څخه استفاده کوي کله چې دوی خوارې وخوري نو حتما بې هوښه کېږي، نوبيا هرڅه يې چې زړه غوارې پرې کوي يې، څو ځله دا کار تکرار کړي، وروسته، وروسته انجونو هم روږدې شي، په خپله د دوی لين ته ولويږي .....

ـ خادمه زړه سوانده وه، خو بې چاره د دوی په اصلي چال نه پوهېده، چې دوی د بي هوشي مواد په څه شي کې گډوي ما بوډۍ پرېښوده يوازې اوبه مې وڅکلې هغه مې هم له څکلو مخکې رڼا ته ولېدې چې کوم چه پکې گډ شوي نه وي.

خو د خادمې په څېر زه هم تيروتلم ځکه چې نشه يې توکي په اوبو کې هم وو، خادمه لاړه او د ځان سره يې لوښې وي وړل، لږ وروسته مې غوښتل په تيمامه

لمونځ وکړم او بیداره واوسم چې څه را باندې ونه کړي، خو سر راباندې درونډ شو، سترګو ته مې تیاره تیاره کېده، کله، کله به مې یو څه ولیدل بېرته به مې له سترګو ورک شول دا صحنه خورا کمه وه بیا نوره په ځان نه یم پوه شوې او بې خوده شوي وم. شپه ټوله په نشه کې راباندې تېره شوې وه سبا سهار نېږدې نهه بجې راویښه شوم ځان ته مې پام شو، هر څه ختم شوی وه........

کمېس مې په تن کې وو خو ګریوان یې یو څه څېرې شوی وو، خو لحظې حېرانه دریانه په خپل ځای کې ناسته وم سمه نه پوهېدم، لا مې ګنګسیت ټول له مغزو نه و وتلی، نیم ساعت همداسی بی حجابه ناسته وم نه پوهېدم څه وکم، مغزو مې کار نه کاوو سر مې راباندی ګرځیده، خوا مې هم بده، بده کېده، لږ چې په خود شوم ځان مې راټول کړ جامې مې پر تن کړې او په دې پوه شوم چې للمې تبا شولې، په ژوندوني دې ساه وخته، د عزت ساه د ابرو ساه او د پاکوالي ساه، هغه سږي په رښتیا ویل چې زما د ورور وهل به درته په ډېر لور قیمت پرېوځي، په رښتیا ډېر لوړ راته تمام شول، په ژوندوني وژل مې نه و لېدلي همدلته مې ولېدل، ځان سره مې وویل اې خدایه ج څه وم او څه شوم، بیا مې خپل نوین رایاد شو د هغه د واده د مراسمو ژمنی را یادې شوې د واده لومړۍ شپې ته د تمې انتظار رایاد شو، بی واکه مې پر خپلې بې وسې کوکې کړې د کرکۍ خواکې مرغۍ ناسته وه، چنېده زما د چغو او فریاد سره هغه هم همدلته پاتی نشوه وزرونه یې ویرپول په هوا شوه....

ښې ډېرې چغې مې وکړې دومره مې وژړل چې د بې هوښۍ حالت راباندې راته لږ وروسته مې سر راپسې درونډ شو، په یوه تکیه مې سر ولګاؤ، د خپلو بدبختیو د سوچونو په دریاب کې ډوبه شوم.....

ځان سره مې وویل :

للمي د عزت دنگ قامت د ونړېده، انساني غرور دې مات شو، ته اوس یوه پاکه انجلۍ نه یې او نه درته څوک په دې عزت قایل کېږي، بس سره زر وې په گیلټو بدله شوې که ته اوس خلاصه هم شي او خپل کور ته لاړه شې نو خپل کور به دې له منلو انکار وکړي که ته نوین ته لاړه شي هم د ژوند کیسه ورته وکړې او ورته ووایی چی زما عزت لوټ شوی په ظلم لوټ شوی، خو هغه به زما له قبلولو نه انکار وکړي ځان ته مخاطب شوم ومې ویل :

للمي، ته نوره کور او نوین ته پردی شوی، ته اوس د داسې یو ظلم ښکار شوې چې ټول خپل خپلوان به درنه کرکه کوي او که په حقیقت دې پوه شي نو لاړې به در توپ کوي، ځکه چې ملامتیا به ټوله په تا اچوی که فرضاً ما ملامته هم نه کړې، زه یوه ناپاکه انجلۍ شوم او ناپاکه انجلۍ نه کورنۍ غواړي او نه خاوند.

که کورنۍ او نوین مې فرضاً قناعت وکړي خپل خپلوان یې نه کوي د هغوی له دې خبرو چې دا انجلۍ څو کاله چېرې وه ؟

څه یې کول ؟

پیغله جلۍ ولی ورکه شی ؟

حتما به خپله خوښه تللی ده چې خوش ګذري يې وکړه ساعت يې تير شوه اوس راغله دوی به تر څو کالو دا سندره زمرمه کوي چې پيغله ورکه شي نو کله پاکه پاتی کيږي، زه په دې بدو سوچونو کې وم چې خادمه راغله او خواکې مې کېناسته، له کوچنيو کوچنيو سترګو يې اوښکې توېدي، راته يې کړه:

ما خو بچ کولې، لکه چې ناکامه شوم او اوبه هم په درملو زهرجني وي، ما ورته کړه، کاش د اوبو دې هم راته ويلي وای له تندې دې مړه وايئ خو چې په دې د حقارت مرګ نه وای مړه شوی، زما عزت زما ابرو، دا خو هرڅه لاړل هغې راته وويل لورې ته اوس د دوی سره اسيره يې، که نن نه وای سبا يې دا کار کولو او که سبا نه وايې بل سبا يې دا کار کولو، دوی دلته پېغلې د همدې بې عفتۍ لپاره راولي، کوم بل مقصد خو نلري ته اوس يوه بنده مرغۍ يې تاسی سره هر کار به اسانۍ کولی شي، له سترګو مي اوښکې پاکې کړې ورته مې کړه زه يوه پښتنه يم او پښتانه داسې په اسانۍ چاته ځان نه تسليموي، دوی ښه کار ونه کړ، زه يې تبا کړم، زه يې په ژوندوني په خاورو ننه باسلم، هغې ته مې وويل:

د الله په پاک نوم قسم کوم چې ټوټه ټوټه کيږم هم زه به ددې مردار څخه خپل غچ اخلم، يوازې يوه مرسته راسره وکړه ....

ـ د څه مرسته ؟

ـ يو چا قو راته را دننه کړه .

ـ چاقو څه کوي، ځان مړ کوي ؟

ـ ځان سره بيا وروسته گورم، يو ځل غوارم، خپل ظالم ته سزا ورکړم.....

ـ دا کار څنگه و کړم، زه چې هر ځل له بهره راځم، د دروازې ساتونکي ما تلاشي کوي .

ـ خير دی، زما سره يوه مرسته وکړه، دا مرسته به دې په ژوند هيره نه کړم، پوهېږم مهربانه زړه لرې.

ـ خو که هغه يې له ما سره گېر کړي او يا په ما پوه شي چې دا مرسته ما درسره کړې مړه کوي مې .

ـ زه تا نه ورته ښايم، که پلټنه رانه وشوه چی مړه هم شم تانه ورته ښيم، ورته وايم له اوله راسره وو.....

ـ خو که ته د هغوی په وړاندې له چاقو کار واخلي او زيان ورته ورسوي، نو ته خو ټول نشې له منځه وړلی، يوازې يو کس به زيان من کړې دوی ډېر دي بيا تا هم ژوندۍ نه پرېږدي.

ـ وای ړوند له خدای ج څخه څه غواړې، دوه سترګې، زه هم همدا غواړم، زه نوره د ژوند پروا نلرم، خو ارمان او یوه نقشه لرم که مې عملي کړه بیا دې مړه شم، دا چې اوس هره لحظه مرم، بس هغه یو ځل دې مړه شم.

ـ دا کار تاته څه ګټه رسوي، پوهېږم ماته اوس ډېره ګټه نه رسوي، خو غواړم نورې پیغلې د دوی له شره خلاصې کړم زموږ پر ژوند خو یې هسې هم لوبې وکړې، پرېږده چې راتلونکي مظلومان د دوی له بې عفتي وژغورل شي ....

ـ خو دوی یو نه دي نه دوه دي چې ختم شي

ـ که ختم نشي کم خو به شي

ـ هغې راته وویل بي حده زیاته غیرتي انجلۍ یې ما د افغانانو بهادري کیسې لوستې وې خو لیدلې مې نه وې په رښتیا بهادر خلک دي، مقابله د سر په بیه کوي.

دلته خو ما هیڅوک ونه لیدل، چې ستا غوندې مقاومت وکړي، هره پېغله ډېره ژر تسلمېږي او بیا هغه حد ته ورسېږي چې ځان ترې ورک شي، خپله بیا نه ټینګېږي.

ـ ما خوشه کوې، زما کورنۍ دومره غیرتي ده که خبر شي چې زه دلته چا راوستلی او برمته کړې یم د هوا مرغانو په خیر به را والوزي او دغې سیمې پسې به اور

واچوي.

هغې راسره ژمنه وکړه، چې ته دومره همت لرې، که زما به سر راته تمامه شي هم دا کار درته کوم.

هغې وویل، زموږ کور کې یو ښه ځواکمن چاقو دی دواړه خواوې یې تېرې دي ځینې خلک سوټ ورته وایې په فرصت کور ته ځم او هغه درته راوړم.

خو دا راته ووایه څه پرې کوي؟

اوس نه درته وایم هر څه به بیا په خپله وګورې، هغه رانه ووته او زه مې د خپل تبا شوي ژوند سره په خبرو شوم ځان ته مخاطب شومه .

للمي، دا ژوند درسره څه لوبه وکړه، کورنۍ به دې څه فکر کوي چې للمه څه شوله، څومره به سرګردان وی، زما په مورکۍ به څه تبرېږی، هغه به زما جدایې څرنګه وزغمي، زما وروڼه به د تربرو په منځ کې څرنګه کښني، هغوی ته به ددې سوال څه ځواب وایي چې لور یې چېرې دی ....

اه زما د نوین به چه حال وي، څومره به راته په قهر وي وایي به دا انجونه خومره بې غیرته دي، څومره دوکه بازې دی کله چې هغه پوه شي چې زه ورکه یم فکر به

کوي چې په پېښور کې به یې له ما ښه خوښ کړی وي او له هغه سره به تللې وي...

اه ! هیچ چاته حقیقت مالوم ندی، هر څوک به ما ګرموي، خو خبر به نه وي چې زه د نړۍ تر ټولو مظلومه پېغله یم، ددی نړۍ تر ټولو بدبخته انجلۍ یم او دا هرچه ما په خپله خوښه ندي کړي بلکې له ما سره شوي دي.

زه هغه انجلۍ یم چې د تیارو مزل کی مې تقدیر کرښي ډکې کړي دي.........

دوه اونۍ همدلته وم چا راسره چه غرض ونه واهه، درېیمه اونۍ هغه د خصي ورور او زما د عفت اوبمار ذاهد علي، زما د دروازی قلف خلاص کړ، راننه وت یو د دروازې ساتونکی یې هم له ځان سره راوستی و، ویرېده چې ما څه ور سره کړي للمه د هغې بدل رانه وانه خلي او د ورور په سرنوشت مې اخته نه کړي !

مخامخ راته و درېده، راته یې کړه، تاسې نوره سر زوري پرېږدئ، تاسې به اوس پوه شوي یاست چې د سر زورۍ پای څه وي؟

تا زما ورور سره ډیر ظلم وکړ هغه دې له ژونده وویست عملیات شو نور له اولاده هم ووت، هغه دې په ژوندوني مړ کړ، اوس په روحي ستونزو اخته شوی وایي دا ژوند څه کوم، له دې راته مرګ ښه دی، دا هر څه ستا له لاسه دي؟

ـ ښه شوي دي چې هغه تر دې ځايه ورسېده د خپل عمل سزا يې ولېده، څوک چی د نورو ژوند تبا کوي خپل ژوند يې هم بربادېږي، زما عزت يې لوټ کړ زما مخ يې ښکل کړ !

ـ دا کار به ستاسې مېرمنو او ميندو ته عادي وي خو موږ پښتانه يې يوازې د ځان سپکاوی نه بلکې وژنه ګڼو !

ـ ګوری، دا بې ځای خبری بس کړی، پښتانه يوازې غورې کوي جذباتي ويناوي کوي او ټول ژوند يې په دې بې ځايه احساساتو کې تېر شو، زما د ورور سره مو له جذباتو کار واخيست، څه ګټه يې درته وکړه، هيڅ !

بلکې تاسې يې په مقابل کې داسې زيان ولېده داسې سزا مو ولېده چې له هغه درنه وه، له هغه جدي وه.

ـ هو ومي ليده، باالکل مي وليده، کله چې د نشې له حالته راووتم پوه شوم چې ما سره څه شوي دي، رښتيا هم ماته هغه کار په ډېر درونډ قيمت تمام شو کاش دا نه وای شوی يا راسره په وېښه شوي وای، بيا به تا هم لېدلي وای چې ما څه کول او ته په دې پست کار کی څومره بريالی کېدی .

ـ ګوری ته دا مه هېره وه چې زموږ سره په بند کې يې اخطارونه دې بې مانا دي

ـ اخطار خو ځکه در کوم، چې له ما د هغه څه واخیستل، چې ما د هغوی په لرلو ژوند کاو او اوس نور څه راپاتې ندي چې زه یې په اړه ستا یا د بل چا پروا ولرم .

پوهیږې، که نن هم یوازې راغلی وای، د الله په ذات قسم کوم چې د چې د خپل وروره به دی حال بدتر و، ته دومره لوی بدماش هم یې چې د لس ګوتو تور سرو په سر نویشت لوبې کوي خو بیا هم دومره ډارن یې چې یوازې نه شې راتلی.

سرې خپل ساتونکي ته مخ وروارړ او په اردو ژبه یې ورته وویل، دا د پښان له قومه ده او هغه ډېر سر زوری خلک دي، موږ حیران یو دا څرنګه تسلیم کړو، دا خلک ډېر خطرناک خلک دي څه چې وایي عملي کوي یې، کله چې زه ددې سره مخ کیږم، په ما پام کوی، دروازه خلاصه شوه یو بل ساتونکی راننه وت رډي رډې سترګې یې وتلي وي، هغه وویل زاهد علي ورور دې په هغه بل کور کې ځان زندۍ کړی او مړ شوی دی، ددې خبرې په اورېدو سړی سخت وارخطا شو ماته یې وکتل وی ویل پوهېږم دا هرڅه ستا له امله رارسېږي.....

ـ که زما له امله یې بولې خو ژر شه بدل یې واخله له ساتونکي سره دې وسله شته ترې وایي خله ما ووژنه .

ـ نه تا دومره په اسانۍ نه وژنم، ستا د وژلو څخه، یو بل څه شته چې هغه دې له مرګه ډېره دردوی، تا زه په اصلي مرګ نه وژنم تا د عزت د لوټلو په مرګ وژنم په کراتو کراتو دې په هغه ډول وژنم، له حقیقي مرګه د دغه مرګ دیر ځورونکی دی.

دوی ژر زما له کوټې ووتل بېرون یې خادمې ته وویل چې ما پسې ور قلف کړي، موټر کې کېناستل او په بیړه له کلا ووتل خادمه راغله او خواکې مې کېناسته ورته ومې ویل دا څه خبره ده ؟

ـ د دوی کشر ورور چی تا دلته و هلی و عملیات شو دواړه هګۍ یې چودلې وې، د عملیات په ترڅ کې یې ترې وباسلې بیا ډاکټرانو ورته ویلي و چې نور ستا اولاد نه کېږي.

ـ په هغه خو خبره یم، ځان وژنه یې څرنګه کړې ده.

ـ راته یې کړه د عملیات وروسته، د زاهد علي ورور ډېر ځورېده، کوژده یې هم کړې وه، له ژونده یې زړه تور شو، روحي ستونزه یې دومره لوړه شوه چې اوس یې کور کې ځان زندۍ کړی .

زه د قبیلې په طرف و درېدم رب ته مې سجده وکړه او لاسونه مې لپه کړل رب ته مخاطب شوم یا الله ستا شکر ادا کوم چې د خپل ورور یو قاتل او زما د عزت لوټونکی مې په سزا ورساو.

الله وس راکړي چې دا بل ظالم هم له ځانه مخکې کړم او د ځنکدن پر وخت کې مې دا هیله پاتې نشي چې ته لاړې او عزت اخیستونکی دی پریښود....

خادمه مې خواکې کېناسته راته وې ویل ته د نړۍ له ډېرو پاکو انجونو څخه یې، ستا پاکي چې زه گورم او له تاسره دلته شوی ظلم گورم، پر ځان لعنت وایم چې زه ولې دلته کارکوم .

خو زه دوی سخته گرېوگان کړې یم هیڅ د خلاصون لاره یې راته نده پرېښې زه به هم یوه ورځ له تا الهام واخلم او بغاوت به وکړم، ما ورته کړه ته ملامته نه یې بسته د یتیمو ماشومانو راتلونکی دې پرې خرابېږي په پټه کې دي چې څه له لاسه کېږي هغه له دلته راغلو انجونو سره کوه.

لکه له ما سره یې چې کوې له نورو انجونو سره هم دا ډول مرستې کوه، نوره ستا ملامتیا نشته، ستا مجبوری خدای ج هم ویني او موږ یې هم وینو .

ـ نا زه ملامته یم زما د ماشومانو روزي په ځمکه کې نشته له خدای ج سره ده، خدای ج به یې وساتي کنه مړه دې شي مرگ ورته بهتر ده، یوه ورځ به ما هم ووینې چې له دوی سره پرېکون وکړم او خپله لاره راته وټاکم، موږ الله ج پیدا کړي یو او هغه به روزي راکوي، خادمې دومره پښتو زده کړه چې نوره را سره په خپله ژبه غږیده یوه ورځ مو د تیښتې پلان جوړ کړ خو هیچ بریالۍ نشوو ځکه دیوالونه ډېر لوړ وو پر سر یې سیم خاردار اچولی وو، د کور لومړۍ منزل کې دوی اوسیده، مېښې او غواوي یې سمبالولې دروازې یې څلور ساتونکي لرل چې په نوبت به یو، یو د شپې او ورځې ساتله، یوه ورځ مې سهار کې سخته خوا و گرځوله ترڅو مې چې خادمې ته ویل دروازه خلاصه کړي د خپلې کوټې په غولي استغراق رانه وشو، خادمه راغله هغه راباندې شکي شوه چې ممکن یو بل غم هم ورته جوړ شوي وي، خو ځای یې پاک کړ او په ما یې غرض و نه واهه .

څو پر لپسې هر سهار مې خوا ګرځیده، دا ستونزه مې د خادمې سره شریکه کړه هغې راته وویل مېاشتنۍ ناروغي خو دې ورکه نده ؟.

ورته مې کړه دا یوه نیمه مېاشت کېږي هغه هم نده راغلي !!!

ـ هغې خبره وژوله راته وې وویل خدای ج به خبر کړي کومه ستونزه به نه وي.

خو زه لوستی انجلۍ وم، پوه شوم چې یو بل د شرم امېل مې هم غاړې ته ولوېده او ماشوم مې په ګېډه شوی دی ..........

افففف ! دغه ټکی هم راته دومره دروند شو ما ویل یو چا په یو چارک تیږه په سر وویشتم او سر مې دوه ټوکه شو، خادمې ته مې وویل زه حامله شوې یم او ته دا خبره را نه پټېوی ماته د درواغو تسلی راکوي.

هغې وویل هو دلته ټولې انجونه دي دا ډول برخلیک سره مخ کیږی، خدای ج دې درباندي رحم وکړي.

د ورور مړینه یو طرف دي ما برمته بل طرف او زما د امېدواري غم بل طرف شو دا درې درانه غمونه مې په هغه زړه کې ځای کړل چې ما به د خپلې تبې غم هم پکې نشو ځایولی، دوی دوه درې اونۍ د خپل مړي په مراسمو بوخت و .

خو له خدای ج او د ورور له مرگه يې هيچ عبرت وانه خيست چې له خپله لاسه يې له تورو خاورو لاندې کړ، له دې هم ونه ډار شو چې يوه ورځ به دی هم دې تورو خاورو ته ورځي او د هر عمل پوښتنه به ترې کېږي !

د دريېمې اونۍ اخېرو کې ذاهد على، راښکاره شو له پاسه مې ورته کتل چې کله هم له دروازې را دننه شو، له خولې يې د سگريټو دود پورته کېده، خپلې خونې ته لاړه او دمه يې جوړه کړه، ذاهد علي په دې پوهېده چې د للمې سره په ويښه نه شم مخامخ کېدای ځکه وېره يې لرله چې په وړاندې به مې کوم خطرناکه غيرگون وښي، ځکه خو يې هڅه کوله ما د خوړو له لارې بې حاله کړي او بيا يې چې زړه هرڅه غواړي هغه راسره وکړي، هر سهار به چې راويښيدم تو ډيره به گنگس وم، پوهېدم چې خوړو کې درمل راکوي خو د هغه لومړۍ ورځې په خبر چې ډېره بې حجابه پرته وم هغسې به نه وم، کله، کله به شکې شوم للمي دوی دي نشه کوي او بيا بد عملی در سر کوي، بيا به مې ځان ډاډه کاوو چې نه دوی دا کار شايد ددې لپاره کوي چې نشه پرته يم او د تيښتې کومه لاره غوره نه کړم، خو ډېره وروسته پوه شوم چې دوی هر بيگا خپله شپه په عيش کې تېروي .

د ښه بختنه يوه ورځ وه چې خادمې هغه چاقو (سوټ) په يوه چل را دننه کړ چې ما ترې غوښتی و دومره ورته خوښه شوم لکه چې ددې وحشي پنجرې څخه مې بشپړه ازادي اخيستې وي.

یوه ورځ مردار ذاهد علي دروازه خلاصه کړه د خندا په ډکه خوله راننه وت وې ویل:

ـ مبارک

ـ د څه شئ مبارکي راکوي پوه نشوم .؟

ـ امېدواره یې ؟

ـ رښتیا ؟

ـ هو

ـ چا درته وویل؟

ـ خادمي !

ـ نو دغه د شرم هار لپاره ماته ولې مبارکي راکوي؟

یو بهترین اولاد به وزیگوو، غیرت به یې ستا وي او هنر به یې زما وي، هیڅ خوک به بیا ورته د ټینګي نه وي .

ـ یوازې ستا اولاد به وي که نور هم راتلل، زه خو به مو بې هوښه کولم نه پوهېدم څوک راځي او څوک ځي.

ـ نه ته زما پر نورو نه لورېږې، ته خو ځانګړې یې او که ته رضایت ښه یې نو زه یو وړاندیز هم درته کولی شم.

ـ د څه وړاندیز؟

ـ زما مېرمن شه، زه به دې خاوند جوړ شم زه بله مېرمن لرم کولی شم ستا لپاره یې طلاقه کړم.

ـ زه خو خاوند لرم څرنګه تا وکړم به قیامت کی به هغه ته څرنګه ګورم، څرنګه به سترګی ورجګوم.

ـ خوښه دې خپله، سوچ پرې وکړه او په دې هم پوه شه چې نور دربانديې سم حالت نه راځي ممکن زما وړاندیز درته په ګټه تمام شي.

ـ دا خو خدای ج ته مالومېږي چې په چا ښه او په چا بد حالت راځي، خو زما او ستا لاري جدا دي.

ـ یو وړاندیز مي بل مني؟

ـ هو منم یې خو چې په وس کې مې وي حتماً

ـ مورې په رښتیا هم له تا داریږو، څه چې ترسره کوو لومړۍ تا نشه کړو بیا یې ترسره کوو، داسې څه هیڅ خوند نه کوي، لکه له مړي سره چې اخته یو.....

ـ نو؟

ـ یو ځل په ویښه هم دا موقع را ته چمتو کړه.

ـ ولی نه دا ارمان خو به دې پوره کړم، اوس خو هسی هم پکې راغلی یم ان حامله شوم اوبه مې له سر جګې شوې یوه نیزه او دوه یې راته فرق نه کوي خو زما یو شرط به هم سني ؟

ـ کوم شرط ؟

ـ په هغه شپه کې به په پاس منزل کې څوک نه وي یوازې زه او ته به یو بس، آن خادمه به هم نه وي زه له هغي شرمېږم .....

ـ لومړۍ غلی شو فکر یې وکړ چې کوم چال یې راته نه وي جوړ خو د هوس وږي بیا زیاتره دا ډول دوکی خوري، ځان ته کاذب برائت ورکوي ترڅو یې هوس خړوب شي، بېرته یې شک پر باور بدل کړ.

د هو په دود یې سر و خوځاو بیا یې غټې تورې شونډې سره بېرته شوې د سګریټو له امله زیړ غاښونه یې ترې ښکاره شو، کرکه مې ترې وشوه خو ځان مې ټینګ کړ راته یې کړه څکاک راوړم .

ـ خوښه دي؟

ـ ولې ستا نه خوښېږي ؟

ـ چې ستا خوښ وي زما هم خوښ دي.

زما په دې خبره یې وخندل جیب ته یې لاس کړ، د سګریټو کوتی یې راوباسه، فلتر یې خولی ته نږدې کړ نری. دوک یې له ارتو سپوږمو پورته چت ته جګ شو هغه له ځایه پورته شو زیږ واسکټ یې ځان کې سم کړ، نور له ما څخه په داسې حال کې ووت، چې خورا خوښ مالومېده، ما هم د تشناب اجازه وغوښته ارتیا نه وه خو بس غوښتل مې اودس وکړم او خدای ج ته زاری. و کړم چی په خپل مېشن کې بریالی شم، دوه رکعته لمونځ مې وکړ او بیا مې خدای ج ته لاسونه پورته کړل دعا مي وکړه یا ربه زه خود ګناهونو خورجین ته لوېدلی یم کومه ګنا نشته چې ما دلته ونه کړه په ګیډه مې لاس تیر کړ، زه په داسې حالت کې یم چې یو پردی. ماشوم به ګېډه لرم د ناروا و له کبله مې په ګېډه دی، ای خدایه ج نوره له دې دوزخ څخه نجات راکړه او ما بریالی کړه چی ددغه له ګناهونو ډکې بند خونې څخه ازاده شم.

د کور کلي، خپلې کورنی. خو نه شوم او نه هغوی ته کوم مخ لرم نه به مې قبوله کړي آن ګران مبارز هم چی زما په ژوند پوه شي کرکه به رانه وکړي لاړې به راتو کړي او له ځان به مې لرې وشړي.

نو !

که له دې ځایه خلاصه شوم، چېرته کوم زیارت کې به ملنګي شروع کړم پاتې ژوند به هلته پیل کړم، زه مې خپله کورنی. او نوین نه ملامته کوم، ځکه ناپاک خلک هیڅوک هم نه غواړي، لرې ترې ګرځي، کورنی. ته پیغور شي، نارینه و ته بیا په مجلسونو کې ناسته ستونزمنه شي نو څوک دغه ریسک (خطر) اخیستی شي؟

د لمانځه له ځایه نوره راپورته شوم چاقو مې را واخیست او د فرش لاندې مې پټ کړ لمر ډوب شو او د شپې تیاره خپره شوه.

نیم ساعت لانه و وتلی چی ذاهد علي خونې ته راننه وت خادمه هم ورسره وه، د غوښو او وریجو لوی غوری یې مخې ته راته کېښوده، پاکې اوبه او څکاک هم ورسره کیښودل شول.

خادمې ته مې اشاره وکړه چې کوم څه خو پکې نشته په سترګو کې یې پوه کړم چې درمل پکی نشته.

ذاهد علي هم خوړو ته پلتری ووهلې، بې باکه او چټل خوراک یې پیل کړ لاسونه یې په غوړو ککړ وو، خادمې ته یې وویل ته لاندې منزل ته لاړه شه که څه ته اړتیا وه بیا غږ درکوم هغه هم په چوپه خوله ووته.

ما په زوره څو ګولې وکړې ځکه له ستوني مې نه تېرېدې، ټول فکر مې خپل پلان ته وو، که لږ تېروتنه هم را منځته شوی وای هر څه خرابېدل، سړي ښه ځان ډک کړ بیا یې د څکاک بوتل سر پر زنګی غاښونو خلاص کړ پر سر یې ونیو،غړکا یې له لرې اورېدل کېده، څو دقیقی پر خپل ځای ناست وو، کله یې چې نشه سر ته وخته له خپل ځایه را پورته شو، زما خواته راغی، د خپل لنګ څوکه یې خلاصه کړه په څو ثانیو کې لپ لغړ ودرېده لنګ یې پښو کې پاتې شو ما کونج ته منډه کړه، سوټ (چاقو) مې راواخیست له نوشادره (ذکر) مې ونیو، په بېخ کې مې لکه ګازره تر پرې کړ وینو ترې ریندکې پېل کړې... په څو ثانیو کې د سړي رنګ زیړ شو مخته مې ټیل

واهه د دېوال سره ولګېده، بیا ښکته وښوېده د مردار ذاهد علي په سر مې چاقو ونیو بل لاس مې ګرېوان ته ور واچاو ورته مې کړه:

که چغه دې وکړه په سر، سر دې وهم په دې خو پوهېږي چې زه د خپل ژوند په کیسه کې نه یم سرې دواړه لاسونه ښکته ونیول شهره یې ژړا ته ورته کړه، وې ویل چې غږ نه کوم خو لاندې وینه راڅخه روانه ده .

ورته مې کړه هغه درېږي خو که ژوند غواړي نو غږ اوچت نه کړې، زه خو پوهېدم چې دوه دقیقی هم نور نه پاتې کېږي، ځان سره مې ویل که غږ وکړي ساتونکي راځي او د هغو په وسیله ممکن بچ شی.

لنګ مې له پاسه پرې واچاؤ ترخو خپله وینه و نه ویني ورته مې کړه وینه د درېږي، خو ته غږ ونه کړې.

زړه کې مې دومره لوی غصب ورته پروت وو چې یو ځل مې ویل دا خپل نوشادر یې په خوله کې ورکړه چې خلک راشي او په مړونی هم و شرمېږي بیا مې وویل کېداي شي، په ټول ژوند یې یو ځل کلیمه په همدې خوله ویلي وي، د هغې په درناوي مې دا کار ونه کړ....

للمې کیسه تر دې ځایه را ورسوله، بیا مسکی شوه راته یې کړه ډاکټره ته به هم وایې چې للمې څه ډول غزا شروع کړې چې ټول خلک یې له نوشادره (بلاګي) خلاص

کړل، زما له دې کاره لويه موخه دا وه چې دوی دا کار او بار ددې لپاره شروع کړی و چې خپل هوسونه خړوب کړي ما د ځان سره ويل چی ذاهد علی که ژوندی هم پاتې شي ممکن دا کار پريږدي او يا هم را تښتول شوې انجونه د دوی له دې شرمناکه زبان څخه وژغورل شي .

للمي وويل :

لږ اوبه راکړه خوله مې وچه ده توره کيسه وروسته درته کوم، د اوبو گيلاس مې ورته ونيو څو غوړپه يې ترې وڅکل بيا يې خبرو ته دوام ورکړ ويې ويل:

د ذاهد علي، دوه دقيقي نه وې وتلی سرې زيږ شو خولې پرې راغلې او سر يې پر ځمکه کېښوده لږ مې نور هم ورته وکتل چې نفس يې ودرېده سم دستی چاقو په لاس لاندي منزل ته راښکته شوم، د دروازې ساتونکي دوه کسانو باندې مې ورمنډه کړه ورته ومې ويل چې لاره راکړی کنه وهم مو....

هغوی چې زما لاسونه په وينو ولېدل وارخطا شول دوارو له خپل ځايه ټوپ کړل يوه مرمۍ تيره کړه، زړه کې مې وويل چې اوس دې که وولي هم غوره ده په هغه پسې مې څو قدمه گړندي واخيستل، هغه سره چې ټوپک هم وو له ما منډه کړه زه چې هغه ته په نږدي کېدو شوم، له سره مي يو دوگ پورته شو د شا له خوا چا په کوم څه ووهلم نوره به ځان پوه نشوم به هماغه ځای لوېدلې وم.

نه پوهيږم څومره وخت به راباندې وتلی وي، خو يوه لحظه وو چی را په خود شوم ځان مې ولېده پښې مې تړلي دي، خو لاسونه مي خلاص و پاس منزل دهليز کی

پرته وم، دوه کسان مي په سر ولاړ و، يوې خواته مې خادمه هم ده سترګې مې چوله کړې ومې کتل يوه غوږ ته ټليفون نېولی دی، خپل بل مشر ته وايي ذاهد علي يې مړ کړو، هغه يې په ډېره بې شرمي وژلی دی.

موږ ته اجازه راکړئ چی دا هم ووژنو چېرې به يې د خاورو لاندې کړو، ډېره خطرناکه مېرمن ده پر موږ يې هم حمله وکړه خو بريالی نشوه د شاه لخوا زموږ يو بل ساتونکي په کونداغ په سر ووهله او بی هوشه مو کړه .

هغه ورته په ځواب کې وويل وژنۍ يې مه، که مړه يې کړی هيڅ ګټه نه کوي هغه زموږ مصرف شوي پيسې به هم برباد شي خو زه سبا څوک خريدار درلېږم ښې پيسې کوي د تليفون غږ جګ و او زه ددوی په هره خبره پوهېدم، چې څه وايي .

له خپله ځايه راجګه شوم د سر شاتنۍ برخې مې سخت درد وکړ لاس مې وروړ، څپلۍ شوي ويښتان مي حس کړل لاس مې لوند شو، سترګو ته مې ونيو سور په وينو لړلی وو خپل ګريوان ته مې پام شو د اورمېږ دواړو خواوو ته وينه راغلی وه خپلو پندېيو ته مې پام شو د شاه له لوري شوګارې شوی وو، پوه شوم چې د بې هوشه کېدو په وخت کې يې د ځمکې سره راکش کړې وم او پوستکی مې ځمکې سره د سولېدو له امله شوګاری شوی دی .

ژبه مې خوله کې وچه وه خادمې ته مې وکتل د هغې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې مخ يې رانه واړاو ورته مې کړه، لږ اوبه راکړه، ساتونکی ترې په اردو پوښتنه وکړه څه وايي .؟

- اوبه غواړي

- زه یې ورته راوړم

دغه ظالم بیا هغه اوبه راوړلې چې د نشې درمل پکې و کوم چې د څو ساعتونو لپاره سړی بی هوښه کوي، ما هغه اوبه وڅکلي او لږ وروسته بې خوده شوي وم دوی دا کار ځکه کاو چې زما په سر یې سودا کړې وه داسي سودا چې زه یې د یوې بلې بدنامي لور ته کاږلم او زما د تریخ ژوند په لمن یو بل داغ کېښودل شوو .

یو وخت مې سترګې خلاصې کړې، ګورم چې په یوه نوي اطاق کې پرته یم شپه ده او دهلېز کې هم کېه ګوټه ده خواکی مېز باندې اوبه ایښې وې، هغه مې یو ګیلاس وڅښلې، بیا په چرتونو کې لاړم ځان سره مې وویل:

دا به کوم ځای وي، فکر کوم زه یې په بل چا خرڅه کړې یم، دا ګټه ګوټه بیرون د څه شی ده ؟

له ځایه پاڅیدم غوښتل مې ور خلاص کړم ترڅو وګورم بهر څه دي خو دروازه نه خلاصیده له بهره راپسې بنده وه !

پوه شوم هغه خبره چی دوی کوله رښتیا شوه زه په بل چا خرخه شوې یم .

لاړم بیرته پر خپل کټ باندې کېناستم یوه ژور سوچ وې وړم، ځان سره مې وویل لکه چې اوس د سرېښو بل ډنډ ته ولوېدې او خلاصون دې ناشونی دی .

خو بیا هم سمه نه پوهېدم چې دا کوم ځای دی؟

خلک څوک دي؟

څه راباندې کوي؟

زه په همدې سوچونو کې وم چې د دروازې قلف کې کیلي تاو شوه دروازه را خلاصه شوه دوه انجونی رانه وتی رنګه کالي یې اغوستي وو، وازي، وازې کېدې، د یوې سره په غوري کې د ډوډۍ قاب و د مېز په سر یې راته کیښوده .

راته یې کړه زمونږ مرکز ته ښه راغلاست، مونږ هم د پیښور یو اوس مو نصیب دلته شوی دی او د پنځو کالو راهیسې دلته اوسو، خوښې یو.

ـ ته يې دلته په بې هوښی حالت کې راوړي، ولې بې هوښه وي ؟

ـ ورته مې کړه زه بل ځای وم، هلته ظالمانو د بي هوشي درمل راکول.

ـ اخېر ولي؟

ـ نه پوهيږم، خو هغه څه چې دوی غوښتل زما نه خوښيدل.

ـ يوې بله چوخ کړه، هغې غوږ ور نږدې کړ په اردو يې ورته وويل، لکه چې زموږ د لومړيو وختونو په خبر نابلده ده.

ـ هغې سترگه ورته ووهله بيا يې ورو ورته وويل:

اوس لا وختي ده چې په خوند يې پوه شي بيا به خپله نه تکيا کېږي

ـ تاسی څرنگه داسې بې ادبه خبرې کوئ، ايا تاسې کورنۍ تربيه نلری

ـ لرو يې خو بدبختانه هغه اوس رانه کور کې پاتې شوې ده او دلته ځوک د تربيي او اخلاقو په نوم څه نه پېژني، پوه شوم چې دوی سره خبرې مناسبې ندي، نور مې خبري بس کړې يوازې يوه پوښتنه مې پاتې شوه چې ترې وې کړم .

ـ دا کوم ځای دی؟

ـ ولی تا لا دا خای ندی پيژندلی ؟

ـ نه

ـ د جسم فروشي مرکز دی، ته لکه چې نا خبره يې ؟

ـ هو، ظالمانو زما پر ظلمونو ينه يخه نشوه، دا يې هم را باندې ولوروله، خو زه دې کارو ته اماده نه يم، مشر ته مو ووايئ چې ما خوشې کړي، پر ما رحم وکړئ.

ـ انجلۍ، پر تا ځو لکه کالداري اخيستل شوي دي، ددې ځو چنده به پوره کوې بيا به ځې، دا خو څه د بابا صيب زيارت ندی چې ورشي او ترې تاو شي بيا راووځې دلته دخول شته او خروج بيا چاته نه لګېږي .

ورته مې کړه ما دې چېرته بل ځای مزدوره کړي زه به حلال کار ورته کوم خو د کار ته زه چمتو نه یم.

ـ چمتو به شی، وخت دې لاشته مورِ هم په لومړیو کې داسې وو، مجبوره یې دا کار وکړي، څکه په نورو کارو کې کله دومره پیسې شته چې ته یې ورته پوره کړې؟

ـ انجلۍ ته مې ماغزه خراب شول یوه ښه څاپیړه مې ورخیرات کړه، هغې مخ سره لاس سریښ کړ، بیا یې وویل، وهل ولې کوي؟

ته لیونۍ شوې یې؟

ـ هو، زه لیونۍ شوی یم، خو دومره نه لکه تاسې چې یاست او د ښو او بدو توپیر نشی کولی.

تاسې د خپلې ائینده په اړه فکر کړی ؟

تاسي د خپل اخیرت په اړه فکر کړی؟

تاسې د خپل تبا کېدونکي ژوند په اړه فکر کړئ؟

ایا ژوند یوازې دې ته وايي چې د ورځې څو نفرو سر عیش نوش وکړي .

ایا یوه ورځ نه راځي چې دغه ځواني دې په زړښت بدلېږي او دغه خلک دې هم بیا لکه کاغذ تشناب ایسته اچوي او ځای دې ډېران کېږي، ته چې په کومه قربانۍ دغو خلکو ته کار کوي، ایا دوی په دې ارزي ؟

او بیا به ستاسي دغه قربانیو ته درناوی وکړي چې کله له کاره ووځي او زړه شې، بیا به دې وساتي ؟

هیڅ کله نه !

هغه مهال والله که د خیټې ډوډۍ هم درکړي چې د دوی په کار رانشې او د دوی د مشتریانو له اړتیاو وغورځېږي .

ایا مرگ درته یاد نه دی چې یوه ورځ به مردارېږي او حساب کتاب به درنه کېږي؟

بیگا ته لړ په خپل ګریوان کی سر ټیټ کړی او زما دغو پوښتنو ته ځواب ووایه که وجدان دي راویښ شو بیا به زما خوله او لاس مچو کړې کنه بیا به هم دداسی احمقانه فکر سره په دې کاذبه خوښۍ کې ټوپونه وهي !

زما له خبرو سره دواړه حیراني راته ناستې وې د دواړو په سترګو کې اوښکې راغلي هغه دوهمه راپورته شوه وی ویل فکر ته اړتیا نشته زه دي اوس لاس او مخ مچو کوم ته په حقه یې.

ته رښتیا وایې، زموږ ژوند خو تبا دی، موږ کاذبه خوشحالی کوو، دلته خو په مېاشت کې یوه زموږ ملګري مړه کېږي او لامل یې هم دا دی چې دا مرکز د ناروغیو ځاله ده بېلابېلي جنسي ناروغۍ ددی مرکز مېرمنو او انجونو ته پیدا کېږي .

ټي بي بیخي دلته زیات دی او ډېرې نورې ساري ناروغۍ، سیفلیس ډیر دی خورا ځورنکی دی ان کله، کله خو ځینو ته ایډز ناروغۍ هم پیدا شي، کله چې چاته دغه ناروغۍ پیدا شي په هغه ورځ یې رخصتوي لکه کاغذ تشناب ایسته یې اچوي، یوه ورځ موږ هم په دې ناروغیو اخته کېدای شو او له منځه تللی شو، خو څه وکړو دا مرکز د راتلو لاره لري خو د بېرته و تو لاره نلري .

یوازې هغه خلک یې لري چې یا یې وخت تېر شي مشتریان یې نه خوښوي یا هم په سختو جنسي ناروغیو اخته شي بس .

ـ هره ستونزه یوه لاره لري، خو مبارزه غواړي هڅه غواري، قرباني غواري .....

ـ هغه چې پر مخ مې ووهله هغه خواته راغله، وې ویل که غوصه دې سره شوې نه وي په دا بل مخ مې هم ووهه ته رښتیا وايې، موږ خو لاره ورکه کړې او د خپل ژوند مسير رانه غلط شوی ته زموږ لارښوده شه ستا هره خبر به ومنو موږ دې ملګري یو.

ـ هغه چې مظبوطه څاپیړه مې وهلې وه پر نازک مخ کې زما د ګوتو نښانې ښکارېدې خوانه مې رانیږدی کړه مچو مې کړه .

ښښنه مې ترې وغوښته ورته مې کړه ما وبښه، په دا دوه درې مباشتو کې مې دومره ستونزې ګاللې پر سر مې دومره ضربې خوړلې دي چې اوس مې ماغزه سم کار نه کوي.

خیل ځان نشم کنټرولولی، تاسې بې حده معصومې انجونه یاست زړه مو پاک دی تاسې څومره ژر پوه شوی چې ژوند مو د تباهي په لور روان دی، که نورې ملګری لری هم پوه یې کړی یوه ورځ په ګډه داسې څه کوو چې دا مرکز له منځه یوسو او له دغه دنیاوي دوزخه ټولې خلاصې شو .

ځکه چې جز تابع د کل وي، که موږ ډېر په یوه خوا شو نو لړه کې بیا څه نشې کولی دوارو د هو په دود سر و خوځاو، وې ویل ته نور وایه موږ به هماغسی کوو، شپه تیره شوه، سهار له ناشتي وروسته یوه پېغله او یو تور سرې چې په شلشمو یې سر

غوږ کړی و راغلل، سرېي انجلۍ ته په اردو وويل چې دې ته وواېه لس بجې حمام وکړه تاته ځانګړې کالي راوړې هغه واغونده مېک آپ هم درته ګمارل شوي انجونه کوي يو پروګرام لرو د ګډا پروګرام دی.

ما ورته وويل چې ما خو په ژوند هم ګډا نه ده کړې او نه پرې پوهېږم.

ـ نو بيا د څه لپاره راغلې يې؟

ـ وبښئ زه راغلې نه يم راوړل شوی يم، ماته نشه راکړل شوې وه لا په دې هم نه يم خبره چې زه څرنګه دلته راورسيدم .....

ـ خير پوه به شې لومړی وخت کې انجونه داسې وي.

ـ زه د هغو انجونو څخه نه يم چې ستاسې د مرکز په کارونو ځان پوه کړم او نه ددې کارونو سره دلچسپی لرم، يا به مې هم دريځ بدل شي.

ـ خبر که ګډا نشي کولی نو استقبال ته به ودرېږې ځکه ستاسې څهره جذابه ده او محفل به دربان‌دی ښکلی وي.

ـ وايي چې زه دې پوزه پرې کوم ته را نه چارګل غواړې، ماته دلته ژوند او ساه اخیستل مشکل شوي دي تاسي له ما د محفلونو رنګین کول غواړی.

ـ ګورې ستا په راوړلو موږ په لکونو پیسې لګولي دي، ته موږ اخیستې يې، که ته داسی سر زوري وکړې نو ممکن ته شکنجه شي بیا به دې شکایت حق نه لري.

ـ زه د شکنجې هیڅ وېره نلرم، ان له مرګ وېره نلرم، زه به له هغه چا مننه هم وکړم چې ما ووژني، ځکه چې له ژونده مې زړه تور دی.

ـ سرې سر و خوځاو، بیا يې انجلۍ ته وویل دا سرتنبه د کوم ځای دی.

ـ پټانه ده !

ـ بیا خو ملامته نده د هغه ځای خلک همداسی سرزوري دي، خو دې ته ممکن روحي ستونزه هم پیدا شوې وي، بې رقمه خبري کوي ډاکټر ورته راولی چې روغه شي خپله به چمتو شي.

ـ ورته مې کړه زه روغه جوړه یم ډاکټر ته اړتیا نشته، بس ما له دغه ځایه وباسی که د پیسو په فکر کې یاست نو ماته بل ځای کار پیدا کړی زما د مزدوري پیسې تاسې اخلئ، ماته يې مه راکوئ خو له دې مردار ځایه مې لرې کړئ.

ـ دا سوچ دي له ذهنه و باسه، چې ته به بیا له دې ځایه وځي، دلته یوازې زمورِ مثل کېږي نه د بل چا، خو هوښیار خلک دا حقیقت ژر مني او کم عقل یې بیا د پوستکي په وتو سرهومني سزا او مثل دواړه یې په برخه شي ....

ـ خو تاسې هم دا سوچ له ذهنه وباسئ چې ما به هیڅکله هم د هغه کار لپاره چمتو نه کړی چې تاسې یې وغواړی .

دوی په غصه ووتل وره ته له نېږدي کېدو سره تور مخی سړي پنډ اورمېږ را واړو وي ویل:

زمورِ د سزا ټیم شکنجه دې خپله لارې ته راولي.

سبا سهار یوه نوې پېغله راغله.

سبا سهار یوه نوې پېغله راغله د ناشتی پتنوس یې لاس کې نیولی و، خو زما ډېره خوا گرځیده هغې په دغه حالت کې ولیدم راته یې کړه فکر کوم ته امېدواره یې، ځومره وخت دې وتلی چې مېاشتنی ناروغی نلري.؟

ځواب مې ورکړ زیات وخت مې وتلی دی، هغه ژر ووته لږ شېبه وروسته یوه بله چاغه مېرمنې سره رانته وتله، هغې چې راته وکتل وې وویل هر سهار دې خوا گرځي

؟.

ـ هو

ـ مېاشتنۍ ناروغۍ دی هم ورکه ده

ـ هو

راته یې کړه ته حامله یې او دلته حامله انجونه مشتریان نه خوښوي دستکول ته یې لاس کړ له جیبه یې څلور گولۍ راوباسلې وې ویل دوه وخوره........

ما ورته کړه دا د څه لپاره راکوې ؟

ـ ته ځان ډاکټره مه جوړه وه یوازې څه چې درته وایم هغه ومنه .

گولۍ یې راکړې ما د ځان سره کېښودې هغې راته وویل ما د کېښودو لپاره ندي درکړې د خوړو لپاره مې درکړي هغه پوه شوه چې دا درمل نه خوري نو خپله لاس په کار شوه، گیلاس یې له اوبو ډک کړ، گولۍ یې له پاکټه و باسلې خولی ته یې راوا چولې بیا یې راته یې کړه هر څه به سم شی، نوره راځخه په تاو کې ووتله.

دغه درسته ورځ ښه وم، د شپې ناوخته مې وینه جاري شوه ډېره زیاته وینه وه او دوه ساعته بعد پوه شوم چی ماشوم مې هم ضایع شو، نه پوهېږم چې خدای ج به د هغه ماشوم سزا په کومه اندازه راکوي، که رښتیا ووایم ما یې په ضایع کېدو زړه نه کیده ځکه چی قتل راته ښکاریده خو تر ډېره بریده مې هڅه وکړه خپله دا کار ونه کړم خو شاید بیا هم مجریمه یکی حساب شمه، ځکه ما باید په هیڅ قیمت دا ګولی نه وای خوړلې.

د ویني ضایع کېدو سخته مانده کړمه تشناب ته پورته شوم سر راباندی و ګرځیده، بیرته کېناستم، دلته یوازې یو شي ته چې زه خوښه وم هغه په کوټه کې د تشناب شتون وو، ژر، ژر مې ځان پاک کړ، د وینې راتلو مخکې به نېږدې همدغه تشناب ته لاړم اودس به مې وکړ او بیا به مې رب ته لمونځ وکړ د عاوې به مې وکړې، خو نه پوهېدم چې ولې نه قبلېدې ؟

زما د ګناهوونو وجه وه او که ازمایښت و !؟

دوه ورځې نورې هم ووتې، بله ورځ د سهار د ناشتي وروسته اته بجې دوه نارینه او یوه مېرمن راننه وتل وې ویل نن دې سیمې د یوه خان زوی راځي دلته یو محفل جوړ و هیله ده چې د هغه تېرې ورځې په خبر بیا انکار ونه کړې، هغه دلته ډېرې پیسې خرچ کوي، نو ستا بادی هم برابره ده او مخ دې جذاب دی، تاته ډېره تمه کېږي ته باید د هغه داسې استقبال وکړې چې د جیب مزې یې نور هم سست شي او پیسې وشیندي .

ما ورته کړه: زه یوه افغانه یم، زه دلته راوړل شوی یم، زه نه ددې کارونو لپاره یم او نه ورسره کومه دلچسپي لرم، هیله ده ما له داسي کارو لرې وساتئ .....

ـ نو موږ دلته د خوراک څکاک لپاره راوستلې یې؟

ـ خو ما له دې ځایه وباسئ چې خوراک او څکاک مو هم وسیمېږي.

ـ هغه په لاکونو روپۍ چې موږ دې په اخیستو کې لګولې دی، هغه به څرنګه شي.

ـ کوم بل ځای مې مزدوره کړی، زه به یې درته پوره کړم.

دوی سره راغلي مېرمن له خپل دستکول څخه یوه د څرمني اوږده تسمه، لکه د اس تازینه راوباسله راته یې کړه ته اوس هم په هغه پخواني خره سپره یې، لکه چې د ضد سوچ دې له کوپړۍ ندی لرې شوی .

ورته مې کړه په دې تازینه مې خپل کار ته نشی مجبوروللی، هغې نورې خبرې ونه کړې زما په وهلو یې پیل وکړ رشمې داسی سوځولم لکه د اور لمبی چې سرې سوځوي، پر لیسې په غټو بازوګانو کې یې چې څومره زور وو صرفه یې نه کوله کله

چې ښه ستړې شوه ساه یې په ډبویو اخیسته، په پېړړه سینه کې یې د ساه اخیستو سره شغا هم ساز کاو را په خبرو شوه وې ویل:

اوس یې مني کنه ؟

ورته مې کړه هیڅ کله هم نه !

دستي یې تازینه په خواکې بل نارینه ته ورکړه هغه هم زما په وهلو پرته له ځنډه پیل وکړ، گذارونو یې دمه نه لرله بس لکه یو قاتل چې څوک پیدا کړي نه یې زما سر کوت او نه یې زما مخ او شاه کتله وهل یې کول او زه به ورته اړخ په اړخ اوښتم.

یو وخت را ورسېده چې د وهلو له لاسه ورته بې هوښه شوې وم، نه پوهېږم په همدې حال کې به یې هم څومره وهلي یم، بیا راڅخه تللي وو .

یو وخت را به خود کې شوم گورم هغه دوه انجونه چې لومړی ملاقات مې ورسره کړی و هغه مې خواکې ولاړې دي، مخونو ته یې ځېره شوم د دواړو په سترگو کې اوښکې وې، ماته یې ژړل.

ما چې هغه ولیدی را پورته شوم هغې یوې په غیږ کې ونیولم، بیا سلگیو واخیسته.

راته يې کړه :

زه دې په درد پوهیږم، دا وهل موږ هم ډیر ځله خوړلي دي، اخېر مجبورې شو او د دوی په لاره ورغلو ځکه د وهلو تاب مو بلاخره له لاسه ورکړ، نه مو شو زغملی.

ما ورته وویل، تاسې زه نه ملامته وم، رښتیا دلته له سختو وحشیانو سره مخامخ یو، هیڅ رحم نلري، خو ما به هیڅ کله هم به خپله رایه را نه ولي، زه یې د وهلو پروا نه لرم او نه به یې هیڅ کومې شکنجې ته تسلیم شم .

یوي وویل خوري !

موږ دواړه یې درته رالیږلي یو، موږ ته یې ویلې چې ستاسې ژبې واله ده پټانه ده، انجلۍ راضي کړئ کنه ستاسی سزا به له هغې بدتره وي .

ته نن یوازې زموږ لپاره یو څه وکړه، موږ سره یوازی استقبال ته و دربږه، په یو استقبال هیڅ هم نه کېږي، نور څه یې مه منه، خو که ته دا ونه مني، بیا موږ ته هم دومره سزا راکوي، لکه تا چې مخکې ولېده .

ورته مې کړه زه یې د وهلو پروا نلرم، خو ستاسې لپاره به دا کار وکرم، یوازی، همدا یو ځل دا کار کوم او په دې ګنا کې له الله ج څخه بښنه غواړم خو یاد ساته که هلته

مې له کوم چا بی ادبی ولیده، بیا به د محفل مخ په بل مخ وي .

دوارو ښکل کړم، راته وې ویل، دا یوازې استقبال دی، انجونې ولاړې وي میلمانه راځي او دوی ګلان پرې شیندي .

ـ خو زه دا کار نشم کولی

ـ خبر یوازی ته زمور سره و دربږه

ـ ما د هو په دود د دوی د سزا د مخنیوي لپاره سر ورته وخوځاو، دوی دواړه بې حده زیاتي خوشحاله شوي ځکه له یوه لوی مصیبته خلاصې شوې دوی په بیړه له کوټې ووتی مسول کس ته یې زیری ورکړ چې هغه چمتوو شوه، دوه نورې بکری مېرمني راغلي حمام یې راباندې وکړ دوی خپل کالي راواغوستل، ځکه د ټولو باید یو رنګ کالي وي، سینګار واله راغلی، زه یې سینګار کړم، دوی په اردو کې راته ویل، ماشاء الله ته شاهانه څهره لرې، ته خو ددې ځای لایقه نه یې، دا هغه وخت و چې ما هم په اردو ژبه خبرې کولای شوي ورته مې کړه، زه هم نه پوهېږم خو د تقدیر کرښو د تیارو په مزل روانه کړې یم، نه پوهیږم تر کوم ځای به رسیږم او مخته به خدای ج څه کوي.

له سینګاریدو سره مې ځان سخت خجالت باله دا د شرم او بې حیایي کار په ځمکه ننه باسلم، ځان سره مې ویل کاش ځمکه دوه ټوکه شي او ما ځان سره ننه باسي خو

دا کار نه کېده، د فحشا به مرکز کې اوازه شوه، راشئ د نوې انجلۍ سیل وکړئ، یوازې لېدل یې پنځه لکه ارزي، ډېرې انجونه به زما د اطاق کړکۍ ته راغلی زه به یې وکتلم او بېرته به خپلو د بدبختیو خونې ته ستنې شوې، د مرکز مالک هم راغی سیل یې وکړ، زما په لیدو یې د حیرانتیا شونډې بوځې او سترګې ازمارې کړې، بیا لاړ.

د محفل وخت راورسیده، چمن په ګلانو رنګین شو رنګا، رنګ چراغونه ولګېدل مېدان فرش شو، موږ کتار ودرېدو له ځانه مې کرکه راتله، خو د هغو دوو انجونو د ژغورولو لپاره مجبوره وم دا کار مې بایدکړی وای ځکه د دوی وهل دومره سخت و چې دوه ساعته وروسته یې هم زما د وجود درد او سوی نه ورکېده.

د کوم سرمایه دار زوی ورسره ملګري را د ننه شول، موزیک پیل شو، خو انجونو په مېدان کی ګډا پیل کړه کتار انجونو په منځ کې زما ځای وو، هغه زموږ له مخې تېریده انجونو پرې د ګلانو پاڼې شیندلي دا کار د خان زوی ته خوښي ورکوله، ما ښکته کتل له ډېره شرمه ضعف راباندي راته، خولې، خولی وم، د سترګو له کنجو مې ور وکتل له لرې یې په ما کې سترګې نیولې وې، بلاخره ما ته راورسیده، تمه یې وه ګلان پر وشېندم، خو ما ویل د یوې پښتنې له لاسه به دې هېڅ وخت هم دا تمه بشپړه نشي، بلاخره راته و دریده، غوښتل یې یو څه راته ووایي نو خپله خوله یې غوږ ته رانیږدې کړه ما فکر وکړ ما ښکلوي، ځکه زه خو یو ځل مخکی ډاره شوې وم او دا کار راسره شوی وو، په لاس کې د نیولو ګلانو لوښی مې له لاسه وغورځاو د هغه په رانیږدې کېدو سره مې یو محکم سوک په خوله ورکړ .

سرې پوزې ته لاس کړ، بیا یې سترګو ته ونیو، لاس یې په وینو سور ولېده له پوزې یې څاڅکي، څاڅکي وینه بهېده پوزه یې په دوه ګوتو ونیوله د مرکز مشر ته یې مخ

وروارو ورته وي ويل د سپي زامنو دا د محفل جوړ ده که د جنګ مېدان ؟ شور او ځوګ جوړ شو هر حه ګډوډ شول .

د خان زوی سره شاته ساتونکي رانېږدی شو راته يې کړه فاحشې، زموږ په خان دې لاس اوچت کړ، ما ورته کره فاحشه ستا او ستا د خان مور ده، چې دغه مردار ځای ته راغلي ياست خپلې پاکې مېرمنې مو پرېښي دي او دلته په نورو پسې د سپيو غوندي توس وهی، هغه نور هم له غوسی تک سور شو، زه يې د ټوپک په کنداغ په ټټر کې ووهلم، شاته ديوال سره تکيا شوم .

دوهم وار په سر ولګېدم نوره پوه نشوم چې مخته څه وشول يو وخت مې سترګی راوغړولې د خپل اطاق پر چپرکټ پرته وم او سر مې په سپين ململ ترلی وو.

يوه ورځ همدلته کوم څوک رانه غلل، ترڅو را نه وپوښتي چې د خان زوی دې ولې په سوک وواهه، راحته وم خو بله ورځ د مرکز مشر راغی .

راته يې کړه دوه ورځې مخکې چې تا کوم ليونتوب وکړ او موږ دې د يوه سرمايه دار زوی ته سر ټيټې کړو، دا دې ښه کار ونه کړ موږ ته د درې لکه زيان راواړو او د خان د زوی زړه دي تل زموږ له ځايه تور کړ .

ما ورته کړه: سر ټيټي هغه نده چې ما دروارولهْ، سر ټيټي دا ده چې دلته تا د جسم فروشی مرکز جوړ کړی ده او دلته د خلکو په لونو سودا کوې، د هغوی حيا او عفت

خرڅوي .

سرټيټي دا نده چې ما وکړه بلکې سرټيټي دا ده چې يو سړی د وجدان په عذاب اخته وي، زه فکر نه کوم ته به په دې کار کې خوشحاله يې تل به دې ضمير ځوروي چې دا زه څه کوم .

ستا عمر اوس تر شپيتو اوښتی څو کاله به ژوندی وې فکر نه کوم لس شل کاله څخه زيات ژوند ولرې، اخير به هم له تورو خاورو لاندې کيږې او ددې کاروتو حساب به ورکوي .

هغه په خريلی پنډه زنه لاس تير کړ، راته په خبرو شو، وې ويل:

په عوض ددې چې زموږ سپارښتنو ته غوږ ونيسي، خپله د مسلې راته پيل کړې دي لږ دې خپل حد وپيژنه، زه دې د ځای مشر يم زما واوره، ما ورته وويل:

هو ته مشر يې خو د هغه مشر خبرو ته غوږ نيول په کار دي چې د نارينتوب کار کوي د ويارِ کار کوي خو ته يو ډير پست کار باندی لگيا يې، ستا د زړه غوړونه کاڼه دي ستا ضمير مړ دی، ځکه درباندي کومه خبره اغيز نه کوي.

هغه له ځایه پورته شو وې وویل دا خبرې به درنې درته تمامې شي، څنګ کې یې سکرتر ته وویل دا په وهلو، وهلو د شرافت لین ته برابره کړی، آن که مړه کیږي هم پروایې مه کوئ .

له د سره دواړه په تاو کې له کوټې ووتل، زه لکه یتیم چې هیڅ څوک نلري تنها په اطاق کې له خپلو غمونو سره پاتی شوم .

سیا سهار د سزا ډله راغله او زه یې د پخوا په څیر په تازینو ووهلم چې ښه ستړي شول بیا لاړل....

په دغو سزاګانو کې به ډیری وخت چی په سر ولګېدم بیا به مې حافظی کار پریښوده نه به پوهېدم څوک یم د کوم ځای یم او چېرې یم، دوی په کراتو، کراتو دا لوبه راسره وکړه خو له ما څخه یې څه بود نه کړه، اخیر دوی جلسه ونیوله بس یوه لاره ورپاتې وه او هغه دا چې ماته په خوړو کې نشه راکړې او د شپې خلک راولي او زړه یې چې څه غواړي وې کړي، څو کاله یې دا لوبه راسره روانه وه، خو زه به په ځان نه پوهیدم، اخېر مې ورځ تر بلی وجود کمزوری کېده، بیلابیلې ناروغۍ راته پیدا کېدی، دوی به یې درملنه کوله خو یو وخت داسې کم وزرې شوم چې له جګېدو ووتلم، حافظه مې له لاسه ورکړه نه پوهېدم څوک یم د کوم ځای یم د چا لور یم او ......، وزن مې وبایله، ډیرې ناروغۍ راته پیدا شوې دومره ډنګره شوم چې یوازې پوستکی او هډونه راپاتی شو کوم څوک به چی راغی زما وجود به یې چی ولیده ژر به ووت دوېري حس به ورته ودریده.

بالاخره زه د دوی د بازار له ارتیا نوره ووتم، د دوی د ګټې وټې له وسیلې بهر شوم، د دوی په کار نشوم، نوره دوی ته کاغذ تشناب شوم کار یې راڅخه واخیست او چې ارتیا یې ختمه شوه، پرېکړه یې وکړه چې ما د خپل مرکز څخه وباسي یوه ورځ یې د شپې موټر راوست زه یې پکې کینولم، د یوه زیارت مخې ته یې کوزه کړم د هغه موټروان زړه راته بد شو پنځه سوه روپي یې راته ونیولې ویلې کله چې وږې کېدې نو په دې څه درته اخله .

زما حافظه دومره کمزورې شوې وه چې د روپیو لوټ مې ونه پیژانده چې د څو دی !

په بېره ستونزه له موټره ښکته شوم او د زیارت مخې ته مې وارول بس ژوند نور ختم شو د زیارت منجوري غوندې به سهار هلته ناسته وم کوم چا به زړه راته بد شو لس روپي به یې راته ونیولې، هغه به مې ترې واخیستلې، لږ پیسې به مې چې پېدا کړې هغه به بیا په ناروغۍ لاړې ذهن مې خورا ګډوډ شو، څو ځله مې ځان سره وویل خپل نوین یا کورنۍ ته به زنګ و کړم، ټلیفون شمېره خو څه چې سر مې دومره ضربې خوړلې وې د دوی نوم هم نه راته، لږ پیسې به مې جمه کړې هغه به بیا په ناروغۍ رانه لاړې، کله، کله به د کوڅو ماشومانو راڅخه وتښتولې بلاخره یادښت مې دومره کمزوری شو چی کله، کله به زیارت هم رانه ورک شو، یوازې یو څه مې په یاد و د افغانستان نوم او د خپل هیواد خاوره او د خپل تریخ ژوند کیسه !

ارمان مې و چې په ژوند خپلې خاورې ته لاړه شم او د خپلو هېوادوالو په هدیره کې خښه او د سترې ژوند سترېا هلته و باسم، یو څه وخت نوره هم هلته پاتی شوم یو کور به دوه وخته وریجې راباسلې، له هغو سره مې وزن هم ورځ تر بلې ښه کېده خو ناروغیو کړولم، په دا اخرو ورځو کې مې خو روپي پیداکړې، په سرحد را واوښتم غوښتل مې چېرته کوم زیارت کې واوسم او د مرګ پر وخت مې هډوکي دلته

خاوري شي بيا ايمل تجار پيدا کړم هغه دلته راوست..... .

للمي کيسه خلاصه کړه او ما ورته چغې کړې خپله ژړا مې کنټرول نشوه کړای ځان سره مې وويل ای خدايه څرنګه يوه پښتنه پېغله، چې غيرت او پښتونولي ته يې ځمکه او آسمان سلام کوي، څرنګه ازار شوې ده څومره ستونزې يې ګاللې دي، څومره شکنجه شوې ده، له کوم حالته کوم حالت ته تللې ده، ښه ډېر مې وژړل دومره ډېر چې آخر للمي راته وويل:

لطفاً مه ژاړه، ما ډېر ژړلي دي، زما د زړه زور اوبه شوی دی، ماته ژوند سخته سزا راکړې ده، نوره سزا نشي زغملی ته په خپلی ژړا سره نوره سزا مه راکوه، يوازې مې په ارام پرېږده، هغې ښه ورې سترګې راپورته کړې راته وې وويل :

زه نوره د خبرو کولو جوګه نه يم زړه مې هم بې حده بې شيمې شوی دی، ته ريکارډر (ثبتونکی) نلرې؟

ـ ريکارډر څه کوې ؟

ـ زما د تريخ ژوند يو څه پاتې دي چې کله لږ شېمه راکې پيدا شوه هغه درته يکي ريکارډ کوم.

ـ ولي داسې يې راته نشې ويلی ؟

ـ نه دا مسلسل څو ورځې په خبرو سخته ستړې شوې يم او دغه بيانونو دومره سخته ځورولې يم چې که ټول نه وي، نو د تېر ژوند نيمه سزا يې بيا راکړه .

ما ژر له جيبه تليفون ورته راوکيښ د ريکارډ ځای مې ورته وښوده، ورته ومې ويل دا واخله .

هغې په سختۍ مسکا وکړه وې ويل پرې پوهېږم چې زما خوانۍ وه له دې ښه موبايل راسره وو، ما ډاډ ورکړ، چې اوس ښه يې هيله به له لاسه نه ورکوي خو د هغې زړه ته نه لوېده ځکه چې خپل بدن او ناروغۍ ورته مالومه وه، زه ترې لاړم پر سبا کلينيک ته حاضر شوم خو کار خوند نه راکاو، ځان سره مې وويل هسې نه کوم ناروغ ته غلطه دوا وليکي او مر شي، کار مې پرېښوده، د للمې په خوا مې حرکت وکړ هلته په رسېدو مې د ايمل د کور مخې ته څو تنه ولېدل چې ولاړ وو چا سره کلنګ او چا سره بېلچې وې بېخي وارخطا شوم ځان سره مې وويل :

دوی دا کلنګ او بېلچې څه کوي، للمه نه وي مړه !

بيا مې ځان ته کاذبه ډاډ ورکړ شايد کوم لښتۍ به کاږي او يا به د اوبو بند راتړي زه په دوی تېر شوم، خو زړه مې نارامه وو، راساً د للمې ځای ته لاړم کونګه کونګيا وه هيڅ هم نه تر سترګو کېدل، د للمي اطاق ته لاړم، د هغې بستره خالي وه فکر مې

وکړ تشناب ته به تللې وي، غږ مې وکړ، چا ځواب نه راکاو، جالبه خاموشي وه چا څه نه ویل بیرون ووتلم ایمل مې مخی ته راغی سترګې یې بډنډ وی پوه شوم څه پېښ شوي دي .

ورته مې کړه ایمله څه شوي دي .؟

د هغه خبرې په ژړا بدلېدې، څو ځله یې ځان خبرو کولو ته جوړ کړ خو ستونی به یې سره ورغی د خبرو تاب یې نه لاره د غواو ساتونکی دهقان مې مخې ته ودرېده جیب ته یې لاس کړ موبایل یې راته ونیو وې ویل للمي راکړ ویلې چې دا امانت به ډاکټر ته ورکړې.

ـ هغه څه شوه ...؟

ـ ولې ته نه یې خبر ؟

ـ نه

ـ هغې خو خپل روح الله ج ته وسپاره .....

ـ انا لله و انا الیه راجعون، اوس یې جسد چېرې دی

ـ د ایمل کور کې زنانه غسل ورکوي، د کلي خلک د بیرون ونه لېدل هغه قبر ورته په هدیره کې کیندي .

ـ ولاړ وم په پښو کې مې شېمه ختمه شوه کېناستم، څو شیبې مې له بدنه لکه ساه چې وتلې وي .

د هغې بېچاره سخت ژوند مې مخې، مخې ته کېده، ځان سره مې وویل للمي څومره سترې ژوند دی گور ته ویوړ، څومره عذابونه دي په دې کم عمر کې ولېدل خو ښه شوه چې مړه شوې، دغه خپل چارې نړۍ څه کوې دلته خو د انصاف ترازو نشته، ته یوه مظلومه وې ظلم در سره شوی و، که څه هم بی گناه وې خو کور ته نه شوې تللی د ټولنې د بدو رواجونو له امله دې خپل پاک ضمېر نشو ثابتولی، نو دا نړۍ بیا څه مانا په دې نړۍ کې ژوند که ارزښت درته لاره.

چې کله لږ ساه راکی وچلېده، چورت مې پر ځای شو، له خپله ځایه پورته شوم موبایل مې را واخیست .

ـ د هغې کوټې ته ننه وتم

ـ د ریکارډ برخې ته لاړم

ـ وروستی پیغام په نوم مې یو نوی ریکارډ پکی پیدا کړ ...

ـ چی پلی مې کړ د هغی مظلومې خبرې پیل شوې، ایمل مې هم خواکی و دریده د هغې خبرې یې په غور اورېدې د للمې غږ اوچت شو ...

ـ گران ډاکټره، څو ورځی را سره سخت په تکلیف شوي، زه نه پوهېږم څرنگه له تا مننه و کړم، کاش په داسی وضعیت کې وای چې بدلی مې در گرځولی شوای، خو زما به څه بدله وي زه تش لاسی بیچاره به یې په بدل کې څه در کړم، زه خو د خوراک او څکاک لپاره هم نورو ته محتاجه وم، لوی رب دې ډېرې ښې بدلې ورکوي، هغه ته په خپل مات زړه دعا کوم، چې د دنیا او اخیرت ښیگڼې دې په برخه شه او ان شاء الله چې هغه به دې بې ثوابه نه پرېږدي ځکه زه ډیره مظلومه یمه زړه مي سخت ازار شوی دی جسم مې سختې شکنجې خوړلې دي او په هیڅ گنا نه یم وهل شوې لوی جرم مې دا وو چې د چا دهوس ناولی تنده مې نه خړوب کوله، چاته مې تن نه سپره، د چا هوس مې نشو خړوب کولای، نو زما د سوي زړه دعا به درته حتماً قبلېږي او بدلې به یې وینې .

گرانه ایمله !

دی تا لپاره هم د مننی الفاظ نلرم، په څومره اخلاص دی زما پالنه وکړه، ته ډېر وسي وې، داسې خلک له غریبانو کرکه کوي په خواکې یې شرمیږي، خو تا له ما هیچ کرکه و نه کړه زما د پالنې لپاره دې له هیڅ راز مرستی څخه سپما و نه کړه .

درنه ایمله! وښه چې ستا د واده بلنه مې رد کړه، زه په ژوند د یو چا سره تړلې یم هغه داسې اړیکه او ژمنتیا ده چې په مرگ هم نه پرې کېږي، اوس هغه هم ځانته نشم نیږدی کولی ځکه چی زه په یوه خطرناکه ناروغۍ اخته شوی یم دا ناروغۍ ایډز نومېږي کومه چې ډېره خطرناکه او ساري ده، د مېرمني او خاوند اړیکو له امله لېږد کوي او د وخت ظالمانو راته ډالۍ کړې ده.

خو ستا د مرستو زړه سوی او لاس نېوی دومره احسان منده یم چې حد نلري.

گرانه ډاکټر وروره !

زه بیخي ښه احساس نه کومه، سا مې ډوبه ډوبه کیږي داسې ښخي نه یم شوي، فکر کوم زما د مرگ شیبی رارسېدلي دي، ممکن د ژوند دروند پېټی مې له اوږو سپک شي، ژوند هم عجیبه کاني کوي ما به ویل چې زه به په ژوند داسی کارنامې کوم چې جنازه کې به مې خلک نه ځابېږي دومره مېنه وال به ولرم چې د جنازې د کټ په بازو به مې د خلکو شخړه وي هر یو به یې د اخیستو هڅه کوي، خو خبره نه وم چې په داسی مرگ به مرم چې نه به کورنۍ راسره وي نه به مې څوک خپلوان په کټ ژاړي، بس د یوې مسافرې مرگ به را نصیب کېږي، چې په جنازه به یې لکه د ترکانو څو تنه ولاړ وي خیر همدا به زما د تقدیر کرښې وي او راته لیکل شوي به وي چې زه

يې د تيارو په مزل کې لاروې کړم، خدای ج دې راته ښښنه وکړي دا نړۍ خو راته سور تنور وه هغه مې دي خدای ج سمه کړي .

ګران ډاکټر وروره !!!

په مرګ را سره يوه بل احسان هم وکړه هغه دا چی نوین الحق را پیدا کړه، ما خو په ژوند ورسره د مخامخ کېدو جرئت و نه کړ، ځکه په دې راز يوازې ته پوهېږې، زه يې د ټليفون شماره درته وايم ++++++++07 زما کيسه ورته وکړه ورته ووايه چې ستا للمې ته هيڅ وخت نه يې هېر کړی تر اوسه ستا په نوم دی او تر قيامته به ستا په نوم وي.

او كه زما په خبرو يې باور راغی بيا يې زما قبر ته راوله چې ماته په لپه دوعاو سره يې له ليدو برخمنه شم .....

د هغې خبرې ختمې شوې شاته مې را وکتل ايمل ولاړ و کيناست خپل دستمال يې سترګو ته ونيو ښه ډېر يې وژړل ، کله هم چې ښه سترې شو، له خپل ځايه را پورته شو زما په اوږه يې لاس کيښوده، ماته يې وويل دا بې چاره خومره مظلومه وه څخومره سختي يې ګاللې دي. بيا يې اوښکې پاکې کړې وې ويل په ژوند خو مې څه ورسره ونشو کړای، ما د هغې هيڅ لاسنيوی ونه کړ په مرګ يې دا يو ارمان حتماً پوره کوم، ټليفون يې را واخيست قصاب ته يې زنګ وکړ، ورته يې کړه، دوه مېښې راوله، حلالې يې کړه ستا په څنګ کې اشپز او ټيم ته هم ووايه چې په ببړه راشي او خېرات باندې کړي، تليفون يې پرې کړ خواکې يې منشي ولاړ وو، هغه ته يې وويل

جوماتونو کی اعلان ورکړه چې د ایمل د کورنۍ غړی وفات شوی نن دوه بچی جنازه ده او خیرات ترتیب هم نیول شوی ده .

بیا یې ماته وکتل راته یې کړه؛

ډاکټره نرۍ مننه چې تا زما خبره په ځمکه وانه چوله د لسو زرو ډالرو چیک یې لاسلیک کړ، ماته یې ونیو ما هغه ترې واخیست لومړی مې وکوت چې پوه شوم پیسې یې راته لیکلي دي هغه مې د ده په مخ کې وڅیره، ورته مې کړه پر ما ظلم مه کوه د یو بی چاره مظلومي خدمت مي وکړ دا مه راته بربادوه، زما دغه ثواب به کار دی پیسې زه هم ډېرې لرم .

هغه وویل :

دا خو د حق او چیک د هسې وڅیره، په دومره ایمانداری دې د هغې بېچاره درملنه کوله چې د هر چا د وسې خبره نه وه .

ما ورته کړه، بیا هم د هغې چې کوم حق وو ما په سم ډول ادا نه کړ اخېر رانه مړه شوه، زه هم ستا غوندي ځان ته شرمنده یم .

ـ بس دا به د تقدیر خوشه وه تا خپل وس وکړ، ایمل ته له کوره ټلیفون راغی، یو چا ورسره اوږدې خبرې پیل کړې، د مخاطب د هرې خبرې سره به د ایمل مړې، مړې اوښکې بهېدی او شونډې به یې له غاښ لاندي کولي ټلیفون چې پرې شو، ما ترې وپوښتل څوک ؟

ـ مور مې وه

ـ څه یې ویل

ـ ویل یې چې للمې ته مو غسل ورکړ په کفنو مو کړه، په کټ کې مو کېښوده، هغې په دا رقم رنګ وکېښ، چې خلک ورته حیران دي اوس په دا رقم ښکلې ښکاري، چې څوک یې په لېدو نه مړېږي، مېرمنې یې بار، بار ګوري .

حیرانونکې خو دا ده چې کوټې ته دوه چنچڼی مرغۍ راننه وتې.
او د هغې د کټ به دوارو بازوګانو کیناستی دواړه دا رقم و چغېدي ما ویل لړمون یې راوغورځاو لړ تم شوي بیا لاړې، اوس ددې خبرې اوازه خپره شوې، دا مېرمن دومره مظلومه وه چې مرغیو هم ددې په ویر وژړل مېرمنې وایي دا شهیده ده، آن مرغیو یې هم شاهیدي ورکړه، ډله، ډله مېرمنې راځي دعاوي ورته کوي خپل دسمالونه او ټېکري د هغې په مخ وهي چې برکتي شي، ایمل خبرې خلاصې کړې خو اوښکې یې نه درېدي راته وې ویل، ځینې خلک چې پاک زړونه لري، ولې داسې ورسره کېږي، ولې خپلې مېنی ته نه رسېږي ولې ارمانجن له دې نړۍ څخه ځي؟

ورته مې کړه وروره، دا نړۍ د الله ج ده او ددې نړۍ چارو سمبالښت هم د هغه ذات په لاس کې ده هغه یې څرخوي، خو په هرڅه کې د لوی رب حکمت وي د هغه لوی راز پکې وي، زموږ ماغزه دومره حد ته ندي رسېدلي چې دغه راز پکی درک کړو .

بل دغه نړۍ د ازمایښتونو نړۍ ده کله، کله رب ځینی بندګان به سختیو ازمایي او که په دې ازمایښتونو کې بریالي شي نو بیا ډېر ښه پاداش ورکوي، ایمل زما خبرو لږ ډاډه کړ وضعیت یې سم شو.

دولس بجې شوي خلک ډله، ډله راروان دي خیرات خوري بیا د جنازې ځای ته ځان رسوي، ټول فکر کوي د ایمل خان د کورنۍ کوم غړی وفات دی .

هر یو په دې کوښښ کوي چې ایمل ته ځان وښیي چې زه هم حاضر شوی یم او دغه ښه دې رښتیا وي چې په تا مې ځان ولېده، له دې څخه پرته د للمې کټ ته د مرغیو د راتګ او د جنازې په بازوګانو د ناستې کېسه د نارینه و تر غوږو هم ورسیده، هر کس چې خبرېده هغه هڅه کوله په جنازه کې اشتراک وکړي او دا ویاړ ترلاسه کړي، اخېر خبره دې ته ورسیده چې، د جنازې لوی مېدان هم د خلکو لپاره ورکی شو، خلک ان له مېدانه بهر و دربېدل، بلاخره جنازه تیاره شوه د للمې کټ یې د ایمل له کوره راوباسه، د مېرمنو یوه لویه ډله هم ورسره راووته او هغه یې د جنازې تر ځایه بدرګه کړه، دومره خلک د جنازې لمانځه ته ودرېدل و، چې عقل او فکر پرې کار نه کاو.

د جنازې لمونځ یې وشو خلک رنګ شول، په لارو او کوڅو کې ټولو کیسې پیل کړې یو بل ته یې ویل، دا څومره بختوره مېرمن وه دومره جنازه خو موږ په ژوند هم نه وه لېدلې، خدای ج دې وبښي.

للمه مو قبر ته واخیسته، د سپارلو لپاره څوک نه و بیا کوم سپین ږیری قبر ته کوز شو هغه وسپارله ما ورته کتل په هغې یې د تېرو تبۍ کېښودې هرې تبۍ سره به ماته د هغې د مظلومېت یوه یوه کیسه راته یادېده او زړه به مې پرې، پرې کېده، خوا او شا را ټولو خلکو پرې ښې ډېرې خاورې امبار کړې، ښکلی قبر جوړ شو ایمل له خپل موټر ښکته شو یوه ښکلې لوحه یې په لاس کې نیولې وه هغه مو پرې ودروله.

پرې لیکلي وو :

د خپلې خاورې ارمانجنه شهیده، للمه !

ایمل رنګا، رنګ ګلان د موټر له ډالي څخه را واخیستل او په قبر یې وغوړول قبر داسي ښکلی شو لکه د للمې زړه د مراسمو له ادا کېدو وروسته ټول خپلو کورونو ته ستانه شول، زه هم کور ته راغلم ما د للمي ټوله کیسه ولیکله او کله چې د هغې وروستی پیغام ته لاړم نو، په هغه پیغام کې یې د نوین الحق شمېره ذکر کړې وه هغه مې تلیفون ته نقل کړه، ځان سره مې وویل زما خو یو بل لوی ماموریت هم پاتې دی، خو زړه نازړه ووم چې هغه خبر کړم او کنه بیا چې د للمې سپارښتنه را یاده شوه چې حتماً یې خبر کړه، نو سم دستی مې زنګ ورته وواهه زنګ تېر شو، د هغه لخوا مې بلې واورېدل ورته مې کړه، ته نوین الحق یې ځواب یې راکړ هو خو

تاسی څوک یاست .؟!

- ما ورته کړه که ځان در وپیژنم هم ته مانه پیژنی !

- نو بیا دې اریکه د څه لپاره نیولې ؟

- د یو چا نوم درته اخلم هغه به وپیژنی ؟

- څوک ته یې نوم واخله؟

- للمه پېژني ؟

- للمه پیژنم، خو دوباره یې نوم مه راته اخله.

- ولي ؟

- ځکه چې کرکه مې د هغې له نومه کېږي، خو دا راته ووایه چې ته هغه څرنګه پیژنی او زما شمېره دی څرنګه پیدا کړه او که د هغې کوم یار یې....

- د خولې سره دې پام کوه دا ته څه وایې؟

- ما تل د خولې سره پام کړی دی هغې زما باور له لاسه ورکړ ما هغی ته زړه ورکړ، خو هغې سیخ پکې وټومبه، ما سره یې ژمنه کړې وه چې نه دې پریږدم، زه هغې په نیمایي لاره کې پرېښودم، هغه په ژمنه ولاړه نه وه، چا سره و تښتېده، خپل ورور یې هم په هغو مړ کړ او خپله هم ورسره لاړه، لږ شیبه د هغه په خبرو خاموشه شوم په یوه فکر کې لاړم ځان سره مې وویل للمه خو ملامته نه وه چې کور ته نه تلله خو دا هر څه یې لیدل چې لاړه شم ما به څوک قبوله نه کړي، ان کرکه به رانه وکړي، هغه بلې غږ وکړ د هغه له غږ سره زما د خیالونو لړۍ هم پرې شوه ورته مې کړه:

- وروره ! دا څه چې ته وایې دا څومره حقیقت دی او په څومره ډاډ دا خبرې کوي.

- په سل فیصده ډاډ سره یې وایم، هغه د عیاشۍ په نبلي سپره وه، هغې نه خپل پلار ته وکتل او نه مور ته.

- ګوره زه پوهیږم ته ځیګرخون یې، ممکن ډیر غمونه دې کاللي وي خو فکر نه کوم دا هر څه ربښتیا وي.

هغه یوازې خپله خبره اورېده زما خبرو ته یې چندان ارزښت نه ورکاوو وې ویل:
هغې مورې په خپل قوم کې وشرمولو، اوس یې نه پلرګنۍ او نه زه په خلکو کې سترګې جګولې شو چې مجلس کې ناست یو که دوه کسان سره وپستېږي هم مورې ځان کې وهل کیږو چې والله مورې یادوي، زما تښتېدلې میرمن یادوي.

- وروره، خلکو پسې مه ګرځه خلکو خو پیغمبر هم بې خبرو نه پرېښود ده، خو ته د خپلو خبرو کوم ثبوت لرې؟

- نه

- نو بیا ولی تهمت لګوې، ولې د یوې پاک لمنې انجلۍ په جامو تور داغ لګوې

- هغې ته د پاک لمنې لقب له انصاف سره بې انصافي ده، هغه یوه عیاشه وه او په خپله عیاشي پسې لاړه، مورې ته یې یوازې پېغور پرېښوده.

- وروره ته ګمان کوي او ګمان حرام دی او دا ټول چې ته څه وایې دروغ دي که غوارې په حقیقت پوه شې.....

نو زه په ولایت کې یم خبره به له نېږدې وکړو دغه مې شمېره ده، په هر څه به دې پوه کړم.

هغه هیڅ کله هم عیاشه نه وه او نه ده، هغې د ځنکدن په وخت هم ستا نوم یاداو، او ته وګوره چې پر هغې بیچاره تهمتونه لګوی.

رښتیا سړی چې مین وي که خپل عاشق هر څومره ناروا وې ورسره وکړي بیا یې هم مرګ نه په لوربړي د هغه له خولې چغه ووته وې ویل؛

- دا ته څه وایي؟

هغه اوس ژوندۍ نه ده ؟

- هو هغه اوس ژوندۍ نه ده، هغه اوس د تورو خاورو لاندې ده.

- نو ته څرنګه پوهېږې؟

له کوم، ځایه پوهېږې؟

او چا درته مالومات درکړي دي؟

- که غواړې په هرڅه پو شي او ددې ټولو پوښتنو ځواب ترلاسه کړې په مېسج کې ادرس درکوم هر څه له نېږدې درته وايم.

- هغه وويل زه سبا درځم.....

- سبا شو کار ته نه لاړم او د نوين په تمه کور کې پاتې شوم، ماسپښين مهال هغه زمونږ د کور مخې ته له موټره کوز شو ما د حجرې له دربچی ورکتل، له يوه ماشوم څخه يې زما د نوم پوښتنه وکړه ما هم وپيژانده چې دا نوين دی، ورښکته شوم د هغه څهرې ته مې وکتل له درانه غمه ډکه وه شونډې يې پلی، پلی، وتلې وي، خو بيا هم دومره ښکلی ښکاريده چی په بار، بار کتو يې سړي نه مړېده.

له دې ځايه پوه شوم چې للمه ملامته نه وه چې په ځوان پسې ليونۍ وه، هغه په دومره کوښښونو ارزېده، په دې هم پوه شوم چې للمې څومره عالي ذوق لاره، نوين مې له روغبړ وروسته حجرې ته ننه باسه ډوډۍ مې ورته راواخيسته بيچاره يوه گوله هم ونه خوړله، راته يې کړه زما ستونی سره ورغلی، بيگا شپه مې ټکی خوب هم ندی کړی، لطفاً که له ما سره ښه کوې ما د للمې په کيسه پوه کړه، خو خير دی مه وايه چې للمه مړه ده، ووايه ټوکه مې وکړه، هيله کوم، ما د هغې سره مخامخ کړه، زه له ځايه پورته شوم د للمي کيسه مي ورته را واخيسته ورته مې کړه لومړي دا ولوله چې د للمې په حقيقت پوه شې له هغه وروسته دې د للمې ځای ته ورولم، هغه په بې صبرانه ډول په ليکلو پيل وکړ، د خپل مېنتوب ځای ته چې پکې ورسېده

اسمان ته یې وکتل د سترګو له کونجو یې اوښکو دارې وهلې، بیا یې ماته وکتل وي ویل:

للمه رښتیا وایي زمورږ د مېنتوب کیسه بیخي ځانګړې وه، داسې مېنتوب به بیا هیڅ وخت تکرار نشي، بیا یې په ببړه

خپلو لوستو ته دوام ورکړ.

د شپې تر نهو بجو یې زما لیکلي کاغذونه ولوستل په منځ کې به یې کله وژړل او کله، کله به یې یو اه له خولې ووت، کله یې چې وروستې پاڼه واړوله نو بیخی نارامه ښکارېده، ما د شپې ډوډۍ ورته راواخیسته خو سرېي انکار وکړ ویلي، زه ډوډۍ نه خورم ته لاړ شه یوه چاره راوړه....

- په چاړه څه کوې؟

- غوارم خپله ژبه پر پرې کړم.

- ولي

ځکه چې ما د هغې په اړه څه، څه ندي چې ويلي مې ندي؟

څومره زيات ناسم قضاوتونه مې د هغې په باره کې کړي دي، افففف په هغې څومره قيامتونه تېر شوي دي او مورِ يې په اړه څومره بې انصافي کړې ده.

هغه وويل:

بی صبرانه منتظريم چی خپله للمه مې وګورم، مبارز دومره د فشار لاندي و ما ويل چی خدای ج مه کړه زړه يې ونه دريږی، د هغه حالت ته په کتو مې دا جرات هم د لاسه ورکړ چې ورته ووايم هغه اوس نه شي ليدلی اوس يې يوازې تورو خاورو ته د دعا لاس پورته کولی شئ، بس.

زه چوپ پاتې وم.

هغه وويل:

ما ژر للمې ته وروله چې لومړۍ يې زه پښې ښکل کړم او بيا د خپلو بې انصافه قضاوتونو بښنه ترې وغواړم.

له حجرې بښکته شو، موټر کې سپاره شو او وروسته د یوې هدیرې مخې ته ودرېدو د نوین ربډې سترګې راووتې وې ویل ډاکټر صیب دا خو د مړو ځای دی خیر دی ونه وایې چی للمه مړه ده، زه یې نشم زغملی، ما د نه او هو ځواب نشو ورکولی.

روان وم او هغه له شا څخه همدغه منتونه راته کول چې ما مې چی ما مې للمې ته وروله، زه ورسره څو خبرې لرم..

لږ وروسته یوه قبر ته ودرېدو خلکو پرې شمې بلې کړې وې، شاه او خوا یې روښانه کړې وه، د هغې قبر ته مې وکتل، للمه د پخوا په څېر نارامه نه وه د خپلو ربړو کیسې یې نه کولې د خپل ټپي بدن دردونه یې نه بیانول، له بڼه ورو سترګو یې اوښکې نه تللی، ارامه پرته وه نه یې په چا غرض کاو او نه یې د چا غږ اورېده، نوین چې پوه شو کوژدن یې مړه ده د للمې په قبر پرېوت، د هغې د قبر له خاورو یې لپه ډکه کړه پر خپل سر یې باد کړه، وې ویل وااا خدایه ج تبا شوم، څو سوي، سوي کوکې یې وکړې او د ځان په ملامتي کې دومره بې تابه شو چی ګریوان یې وشکاو، بیا د هغې د قبر پر خاورو څملاست، خاورو ته یې غیږ ورکړه، ښې ډېرې سلګۍ یې وکړي، ما ورته کړه وروره صبر ولره دعاوې ورته وکړه.....

هغه زما خبرې نه اوریدې خپلو ساندو او چغو ته یې پام و، ښه ډېر یې وژړل ښه یې ځان ستړی کړ، بیا آرام شو، زه ورخواته شوم ورته مې کړه ناوخته دی، نیمه شپه ده راځه چې کور ته لاړ شو؟

هغه د للمې د قبر په خاورو لاس کش کړ پنډ سترګې یې راکې ونیولې وې ویل للمه نن یوازې ده وبه ډاره شي زه دلته ورسره شپه تېروم.

ما چې هر څومره ټینګار وکړ، له ما سره له تلو یې انکار وکړ، بلاخره زه هم مجبور شوم، دواړه مې هدېره کې پرېښودل او زه د خپل کور په اور رهي شوم.....

پـــــای

زمونږ د داسي نور ښایسته ناولونو او کتابونو د ویلو لپاره زمونږ د ټلګرام چینل ته راشي.

دا هم زمونږ د چینل لینک: https://t.me/pashtoonovels0

دا هم زما شخصی ایډی: @shuhab09

او دا هم زمونږ د یوتیوب چینل لینک دلته غرېز ناولونه نشر کو..

چینل لینک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09

دا هم د مدیر د جمیل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com

دا هم د خواجه زي صیب د فسبوک ایډی:

https://www.facebook.com/profile.php?id=61572668542014

یا هم کولې شې سرچ کړې: خواجه_زي صیب. نو ایډی به تاسو ته راشې.

او دا هم د خواجه زی صیب د اکس"ټویټر"پاڼي ایډي:

دا هم ایډی: https://x.com/shuhab09?s=09

انسټاګرام ایډی: https://www.threads.net/@shuhab09